

# ویاړلی ملت، بریالی لوبډله

**GLORIOUS NATION, VICTORIOUS TEAM**

## سوداګریزه خانګه

لسم کال، دویمه ګڼه | مهالنۍ مجله | ۲۰۲۴ز کال

افغانستان کرکټ بورډ

سوداګریزه څانګه

مهالنۍ مجله

۲۰۲۴ز کال




د امتیاز څښتن: افغانستان کرکټ بورډ

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ، خوشحال درانی او سید نسیم سادات

عکاس: سید حسرت سادات

ډیزاین: احمد عابد سعادت

www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
/twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard/
www.instagram.com/gaonedaycup/
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af/
whatsapp.com/channel/0029Va8IzMuJkK71MdD70Q1m

1 سرمقاله ........ 1
2 بررسی دستاوردها و چالشهای اداره کرکت بورد افغانستان در سال ۲۰۲۴میلادی ........ 2
3 د کرکټ نړیوالې شورا او اسیایي شورا غونډو کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه ګډون ........ 6
4 افغان ابدالیان لوبډلې د کرکټ اسیایي شورا د ايمرجينګ جام سیالیو اتلولي خپله کړه ........ 10
5 افغان اتلانو په شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې تاریخي برياوې خپلې کړې ........ 16
6 افغان اتلانو بنګله دېش ته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړۍ کې ۱-۲ ماتې ورکړه ........ 26
7 افغان اتلانو سویلي افریقا ته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړۍ کې ۱-۲ ماتې ورکړه ........ 32
8 محمد نبي په نړیوال کرکټ کې ۳۰۰ لوبې بشپړې کړې ........ 38
9 بېلابېلو ولایتونو کې د لوبغالو او روزنځایونو د رغونې او بیارغونې ترسره شوې پروژې ........ 40
10 کرکټ کې داسې هم شوي ........ 42
11 حشمت الله شهیدي د لوبډلمشر په توګه ۵۰ نړیوالې لوبې بشپړې کړې ........ 44
12 بند امیر لوبډلې د قوش تېپې ملي شل اوریز جام اتلولي خپله کړه ........ 51
13 رضاخان کاکا؛ د ځوانانو د فکري رغونې سالار او د افغانستان يو زړه سوانده سپين ږیری ........ 56
14 پامیر لیجنډز د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو اووم پړاو اتلولي خپله کړه ........ 60
15 افغان اتلانو زمبابوې ته په درې واړو لوبلړیو کې ماتې ورکړې ........ 64
16 امو نهنګانو لوبډلې په لومړي ځل د شپږیزه کرکټ لیګ اتلواله په خپل نوم کړه ........ 74
17 هندوکش سټرایکرز لوبډلې د اتصالات لیسټ اې – یو ورځنیو سیالیو اتلولي وګټله ........ 82
18 بست لوبډلې د میرویس نیکه د درې ورځنیو سیالیو لومړی مقام خپل کړ ........ 86
19 د ظرفیت لوړونې ځانګې سرِ کال کوم روزنیز ورکشاپونونه او کمپونه ترسره کړل ........ 88
20 A stats overview of a year when Tests shone like never before ........ 95

# سرمقاله

لکه څرنګه چې مو په ۲۰۲۳ز کال کې یادونه کړې وه چې موږ د هر تېر کال په پرتله غوره حالت ته روان یو. د هر تېر کال په پرتله پر غوره پلانګذاري او پلانونو ترسیمولو کارونه کېږي. هو، له شک پرته ۲۰۲۴ز کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د لاسته راوړنو له اړخه یو بېساری او غوره کال و چې بې شمېره لاسته راوړنې مو پکې درلودې.
افغان ملي لوبډلې پکې د نړیوال جام تر نیمه پایلوبې ځان ورساوه، افغان ابدالیانو او ایمرجېنګ لوبغاړو پکې اسیا جام وګاټه، ملي لوبډلې پکې سویلي افریقا، ایرلنډ، بنګله دېش، متحده عربي اماراتو ته ماتې ورکړې، له هندوستان لوبډلې سره مو غوره سیالي وکړې. افغان ابدالیانو پکې د عمان، هانګ کانګ او افغانستان ترمنځ لوبلړۍ په خپل نوم کړه، ۱۹ کلنو پکې د پاکستان، متحده عربي اماراتو او افغانستان ترمنځ درې اړخیزه لوبلړۍ وګټله او افغانستان ته یې ویاړونه راوړل.
د لوبغاړو لپاره په بېلابېلو ولایتونو کې د چمتووالي کمپونه ترسره شول، د اداري له لورې د روزونکو لومړۍ او دویمه درجه کورسونه ترسره شول، د منډو شمېرنې یا سکوربنګ او لوبڅارۍ کورسونه وشول، ترڅو پکې د افغانستان کرکټ اړتیا پوره شي، افغان کرکټ په غوره ډول په پراخېدو دی، مخ په وړاندې روان دی، او د افغانستان تر هر کونج به رسیږي، ځکه دغه کار لومړیتوب دی چې کرکټ د افغانستان په هره دره کې وشي، د افغانستان د دنګو غرونو په لمنو کې وشي، د ځوانانو ترمنځ غوره او مثبت ساتېرۍ وي او له همدې لارې افغانستان ته ویاړونه راوړي، ښکلاوې راوړي او افغانستان وځلوي.
کورنۍ کرکټ مو په ډېر غوره ډول وشو، قوش تېپه ملي جام شل اوریزې سیالۍ د لومړي ځل لپاره ترسره شوې، د شپږیزې په څېر مو له همدې لارې هم نړیوالو ته د افغان کرکټ غمي وروپېژندل، غضنفر مو وروپېژنده، صدیق اتل پکې اتل شو، قوش تېپه پکې تعریف شوه او تر دې چې افغانستان پکې تعریف شو. شپږیزه کرکټ لیګ، احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس، لېسټ اې یو ورځنۍ سیالۍ، میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ، دویمه او لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ په غوره ډول ترسره شوې او لوبغاړو ته پکې له هره اړخه اسانتیاوې رامنځته شوې او د لوبغاړو د ظرفیت لوړونې لپاره پکې ښېځه زیات کار وشو.
د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د سیریزونو او لوبلړیو د تنظیم لپاره د بېلابېلو هېوادونو له کرکټ بورډ مشرانو سره بیا بیا ناستې ترسره کړې، لوبلړۍ یې ورسره تنظیم کړې او تر دې چې د کرکټ له نړیوالې شورا یې د بېلابېلو لوبلړیو د ترسراوې غوښتنه وکړه، بودیجه یې لوړه کړه، چې په پایله کې یې لوبغاړو ته معاشونه او د لوبو حق الزحمه او فیسونه لوړ شول؛ په نړیوال او کورني کرکټ کې لوبغاړو ته قراردادونه ورکړل شول چې دا ټول د غوره مسیر او تګلارو پایله ده.
د بازارموندنې له اړخه سږ کال د لاسته راوړنو میزان صعودي بڼه درلوده، د مالي ملاتړ له اړخه اوسمهال د اداري عواید څو سلنه زیات شوي او دغه راز اړوند کمپنیو او شرکتونو ته هم ډېر کمپاین شوی چې ډېرۍ کمپنۍ اوس د افغان کرکټ له لورې د تبلیغاتو له امله مشهورې شوې دي او خلک یې د کرکټ ملي لوبډلې څخه د مالي ملاتړ له امله په ډېر ښه ډول پېژني او افغان کرکټ بورډ په روان کال کې له مالي اړخه بچت او د مالي بېلانس غوره زیاتوالی درلود.
د پروډکشن او نشراتو له اړخه کیفیت ډېر لوړ شو، د افغانستان په کورنه توب د ټولو نړیوالو سیالیو نشرات او پروډکشن په ډېر لوړ کیفیت ترسره شول چې سربېره پر دې پکې کورنیو سیالیو ته هم په غوره توګه د داخلي کمپنیو له لورې پروډکشن او نشرات وشول چې په غوره ډول هېوادوالو ته وړاندې شول.
په پای کې د یادونې وړ ده چې ۲۰۲۵ز کال به ان شاء الله له سږ کال هم غوره او بهتره وي؛ ځکه افغانستان کرکټ بورډ له هر اړخه یو په بل پسې د بریا او مخته تګ په حال کې دی او د ترسیم کړو تګلارو له لارې به وکولی شو راتلونکی کال هم د پام وړ لاسته راوړنې ولرو.

درنښت

اداره



# بررسی دستاوردها و چالشهای اداره کرکت

کرکت بورد افغانستان نسبت به سالهای گذشته در سال ۲۰۲۴م دست آوردهای فراوان و چشمگیری داشته است که شامل؛ ملی پوشان ما به رده ی چهار بهترین تیم یا دور نیمه نهایی جام جهانی راه یافتند و سلسله مسابقات یا سیریزهای زیاد را به نام افغانستان ثبت کردند.

دراین سال برعلاوه راه یافتن تیم ملی کرکت به دور نیمه نهایی جام جهانی؛ تیم الف افغانستان نیز توانست که جام قهرمانی مسابقات ایمرجینگ را نیز بدست بیاورد که افتخار بزرگی را برای الف یا ابدالیان کشور برای اولین مرتبه رقم زد . همچنان تیم ملی کرکت افغانستان توانست در این سال تیم های بزرگ همچو آفریقای جنوبی و بنگله دیش را شکست دهد و سیریزها یا سلسله مسابقات برابر تیم های متذکره را به تفاوت ۱-۲ به نفع خود به پایان برساند و همچنان تیم ملی کرکت تیم های ایرلند و امارات متحده عربی را با شکست مواجه نمود.

باید گفت که در این مدت کرکت بورد افغانستان از چهار سلسله مسابقه میزبانی نموده که بطور احسن آنرا مدیریت نمود که در آن از تیمهای مهمان بطور خوب استقبال شد. در مسابقات یاد شده چگونگی فرهنگ مهمان نوازی افغانها به نمایش گذاشته شد و برعلاوه آن در این مسابقات به تیم های مهمان میوه خشک کشور، لباس و دستار افغانستان، قالین افغانستان و همچنان زعفران کشور هدیه داده شد.

تیم الف کشور همچنان در سلسله مسابقات سه جانبه بین تیم های الف افغانستان، عمان و هانگ کانگ؛ جام قهرمانی را از آنِ خود نمود که برعلاوه آنها تیم زیر سن نزده سالان کشور نیز در مسابقات سه جانبه بین تیم های افغانستان، پاکستان و امارات متحده عربی قهرمانی مسابقات را به نام افغانستان ثبت کردند.

پس باید گفت که همچو پیروزی ها و برعلاوه آن موارد زیاد دیگری بودند که کرکت بورد افغانستان در سال ۲۰۲۴م آنرا مدیریت و اجرا نمود و برای افغانستان و ملت اش افتخار آفرین گردیدند.

تیم زیر سن نزده سال کشور همچنان در مسابقات جام آسیا نیز اشتراک ورزیدند که متاسفانه نتوانستند در این سلسله مسابقات خوب بدرخشند.

همچنان اگر از وضعیت تیم های کرکت داخلی یادآور شویم، گفته میتوانیم در این راستا نیز دست بالا داشتیم و از مسابقات درجه دوم ولایتی گرفته تا لیگ شپگیزه و فِرست کلاس احمدشاه ابدالی همه شان بطور احسن آن انجام شد، در آغاز سال مسابقات درجه دوم ولایتی انجام شد، که سپس مسابقات درجه اول ولایتی نیز بطور احسن آن انجام یافت.

بعداً مسابقات سه روزه میرویس نیکه بر دو میدان ننگرهار هر کدام غازی امان الله خان و نجیب الله تره کی انجام شد که سپس بازی های جام ملی بیست آوره یا قوش تیپه نیز بطور عالی انجام یافته که از هر نگاه سلسله مسابقات خوب بوده که پرودکشن و نشرات آن نیز از سوی شرکت ملی انجام یافت و اولین بار بود که بطور استاندارد آن انجام پذیرفت.

در این سلسله مسابقات؛ بازیکنان با استعداد و نوجوان نیز




# بورد افغانستان در سال ۲۰۲۴ میلادی

حضور داشتند که حتی با توصیف هواداران کرکت از ایشان مواجه گردیدند . ناگفته نباید گذاشت که این اولین مسابقات جام بیست آوره قوش تیپه بود که در سال ۲۰۲۵م دومین دور آن انجام خواهد شد و در این مسابقات برای پروژه های همچو قوش تیپه، پروژه های بزرگ دیگر که به سطح ملی جریان دارند و مردم زیاد از آن مستفید میشوند؛ کمپاین صورت گرفت و تصاویر زیاد همچو پروژه های دیگر نیز به روی پرده تلویزیون به نمایش گذاشته شد که تصویر بسیار مثبت را از افغانستان به دنیا نمایش داد.

در این بازی ها بازیکنان جوان و با استعداد مثل الله محمد عضنفر، صدیق اتل، اسحق رحیمی نیز استعدادهای شان را به نمایش گذاشتند که بالاخره از این طریق توانستند جزء تیم ملی کشور شوند و در مسابقات اخیر تیم ملی نیز بسیار خوب درخشیدند و توانستند امیدهای هموطنان را برآورده بسازند.

بعد از آن در ولایت کندز، سلسله مسابقات لیست ای یا یک روزه صورت گرفت و اولین باری بود که این بازی ها از سوی اداره کرکت بورد افغانستان در شمال کشور انجام شد که با استقبال و اظهار خوشحالی مردم مواجه شد و به گفته شان اولین دفعه بود که مسابقات بزرگ کرکت در این ولایت انجام میشود که از ولایات همجوار آن نیز برای دیدن بازیکنان و این مسابقات مردم و هواداران کرکت گرد هم جمع شده بودند.

باید گفت که اداره کرکت بورد افغانستان متعهد است تا بازی کرکت را به سرتاسر کشور توسعه دهد، تا در تیم ملی بازیکنان هر قوم و ملیت حضور داشته باشند؛ و مثل همیشه از افغانستان واحد و مستحکم نماینده گی نمایند که این کار برای کرکت افغانستان یک آغاز و مژده ی بسیار خوب بود و از این تجربه در آینده نیز استفاده خواهد کرد.

همچنان باید یادآور شد که این بازی ها برای مسابقات بزرگ آینده یا جام قهرمانان (چمپینز ترافی) نیز یک آماده گی کامل بود که از آن زمان پلان شده و این سلسله مسابقات بزرگ در ماه فبروری سال جاری ۲۰۲۵م آغاز خواهد شد و امید است که تیم افغانستان در آن خوب بدرخشد.

بعد از مسابقات جام قوش تیپه؛ مسابقات بزرگ تجارتی شپگیزه آغاز شد که میلیون ها هموطن ما برروی پرده های تلویزیون و از نزدیک در میدان کابل تماشاگر بودند. این مسابقات که هر سال بین تیم های مربوطه آغاز میشود؛ در سال ۲۰۲۴م نیز برگزار شد که تیم نهنگان آمو که کاپیتانی آن را عظمت الله عمرزی بر عهده داشت؛ برنده ی این سلسله مسابقات شد.

در این مسابقات بزرگ نیز که از جمله بزرگترین مسابقات کرکت داخلی شمرده میشود، به شمول بازیکنان سینیر؛ بازیکنان نوجوان و با استعداد نیز اشتراک کرده بودند که هموطنان ما از هرنگاه آنها را توصیف کردند و بطور خوب انجام شد.

پرودکشن آن توسط ۱۸ کامره انجام شد که در آن دایریکتر و بعضی کارمندان خارجی نیز اشتراک داشتند. پرودکشن شپگیزه نیز توسط شرکت داخلی انجام شد که در آن کارمندان زیاد داخلی نیز آموزش دیدند که از نگاه کرکت شپگیزه برایشان






یک فرصت و تجربه خوب بود.

بعد از لیگ کرکت شپگیزه؛ مسابقات فِرست کلاس یا مسابقات چهار روزه انجام شد که حدود دو ماه را دربر گرفت و برای بازیکنان توپ سرخ یک تجربه عالی بود که در این دور نیز برای شان از سوی اداره تسهیلات زیاد در نظر گرفته شده بود.

باید گفت که برای این مسابقات بزرگ نیز همچو تورنمنت های دیگر داخلی، از سوی اداره سهولت های بیشتر و فراوان در نظر گرفته شده بود؛ که همه بازیکنان از سهولت های همچو بودوباش، غذا، ترانسپورت، سهولت ها در میدان و دیگر سهولت ها زیاد خرسند بودند.

بدون شک؛ مسابقات فِرست کلاس احمدشاه ابدالی (چهار روزه) برای کرکت داخلی بسیار مهم و ضروری بوده است، تا از این طریق بتوانیم برای مسابقات تیست، استعدادهای خوبی داشته باشیم و این فارمت و نوع کرکت در زنده نگهداشتن بازی کرکت در کشور بسیار مهم و ضروری بوده است.

برعلاوه این همه و کرکت داخلی؛ بخش یا دیپارتمنت ظرفیت سازی یا High performance center نیز فعالیتهای زیاد انجام دادند که در آن تهیه و تنظیم نمودن کمپ های آماده گی در ولایات مختلف، مداوای بازیکنان زخمی، آماده ساختن بازیکنان زیر سن نزده سال برای جام آسیا و همچنان ترتیب و تنظیم ورکشاپ های مختلف مربی گیری، تریزنان و سکوررها شامل بودند.

این بخش در ولایات پکتیا، ننگرهار، خوست و کابل برای بازیکنان تیم زیر سن نزده سال و همچنان تیم الف و تیم ملی کمپ های مختلف آماده کردند، تا بازیکنان تیم های متذکره برای همه بازی های آینده آماده گی کامل داشته باشند و بتوانند بازیکنان را بطور خوب آن آموزش دهند.

بخش انجینیری کرکت بورد افغانستان نیز در ولایات مختلف کشور امور و کارهای ساخت و ساز و بازسازی را به عهده داشتند که آنرا بسیار موفقانه انجام داده اند. در سال ۲۰۲۴م ساخت و ساز مهمانخانه استدیوم کرکت خوست، کاشت و زرع چمن استدیوم متذکره، بازسازی استیدیوم ولایت لغمان، استدیوم نجیب الله تره کی ننگرهار، بازسازی اکادمی ولایت غزنی، افتتاح و آغاز کارهای ساخت و ساز اکادمی های بدخشان، تخار، پروان، کندز و بعضی ولایات دیگر شامل میباشد.

همچنان درین امور اعمار منزل دوم پویلین (اطاقهای نشست و مجلس) استیدیوم کرکت کندز نیز شامل میباشد، تا برای میدان متذکره سهولت ها بیشتر گردد و بازیکنان و مسوولین مربوطه بتوانند در جریان بازی ها به راحتی از این مکانها استفاده نمایند.

همچنان باید گفت که هموارکاری میدان کرکت غازی امان الله خان و نجیب الله تره کی ولایت ننگرهار نیز درین سال آغاز شده بود و بازسازی پویلین میدان غازی امان الله نیز در این پروسه شامل بود که بطور احسن انجام شده است که در این پروسه همچنان سیستم آبیاری نیز ساخته شده است.

برعلاوه آن در ولایت لغمان نیز بازسازی استیدیوم جریان دارد و سیستم آبیاری و برق سولری آن به پایان رسیده است که در حال حاضر قابل استفاده میباشد و همچنان پروسه ساخت و






تنظیم پیچ های میدان های مختلف نیز شامل میباشد که در آن پیچ های میدان های ولایت لوگر، خوست، ننگرهار، زابل و بعضی میدان های دیگر شامل میباشد.

درین سال همچنان بازسازی ستندها برای کامره های پرودکشن در میدان کرکت کابل نیز شامل بود که بطور معیاری و استاندارد ساخته شده است.

برعلاوه نکات ذکر شده رهبری کرکت بورد افغانستان در این مدت با مسوولین و رهبری کرکت بوردهای کشورهای دیگر نشستها و مجالسی داشتند که خوشبختانه از نگاه کرکت سال مصروفی داشتیم و هموطنان ما نیز شاهد این همه دست آوردها هستند که در مجموع دستاورد بزرگ برای اداره به حساب می رود.

همچنان از نگاه مالی سال خوبی بود که بخش تجارتی ما از راستای عواید توانستند حامیان مالی زیادی داشته باشد و برای هر سلسله مسابقه ما حامی مالی داشته باشیم که به همین دلیل نیز یک سال پر درآمد و پر دستاورد بود.

در نتیجه باید گفت که برعلاوه این همه دست آوردها برای سال آینده نیز پلانهای خوب و مؤثر در نظر گرفته شده است که نسبت به سال گذشته در سال جاری ۲۰۲۵م نیز دست آوردهای فراوان خواهیم داشت، زیرا با گذشت هر روز کرکت بورد افغانستان در حالت پیشترفت و توسعه قرار میگیرد و پالیسی ها برای آن در نظر گرفته شده است که از هر نگاه مثبت و مؤثر تمام خواهد شد.

قابل یادآوری است که اداره کرکت بورد افغانستان برای تمام مسیرها و پالیسی های که برای پیشرفت اداره در نظر گرفته شده است، متعهد میباشد و برای پیشرفت، توسعه کرکت بورد افغانستان شب و روز کار خواهد کرد؛ تا مردم ما بالای این اداره و ملی پوشان کشور بیشتر افتخار نماید و مثل همیشه از قهرمانان ملی خود یادآوری کنند.

ضمن این همه دست آوردها بعضی موانع و چالشها نیز داشتیم که اداره کرکت بورد افغانستان به آن مواجه است که زیراً به آن اشاره میکنیم:

- نبود سهولت های بیشتر و فراوان تخنیکی
- کمبود سرمایه گزاری در بخش کرکت از سوی سکتور خصوصی
- عدم موجودیت استدیوم معیاری و استاندرد
- نبود حمایت معنوی و مالی از سوی بعضی فامیلهای بازیکنان نوجوان
- نبود سرمایه گزاری در بخش کرکت

و همچنان موانع زیاد دیگری بودند که فراراهی پیشرفت بیشتر کرکت در کشور وجود داشت، اما اداره کرکت بورد افغانستان با وجود این همه چالشها هر سال تلاش می ورزد تا موانع زیادی را از بین ببرند و اهداف را که برای پیشرفت کرکت ترسیم نموده؛ کسب نمایند.

پس باید گفت که این اداره برای پیشرفت و توسعه کرکت در سرتاسر کشور متعهد میباشد و پلانهای را که در نظر دارند بطور مسلسل و خوب آن بدست آورند.




# د کرکټ نړيوالي شورا

## او اسيايي شورا غونډو کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه ګډون

د کرکټ نړیوالې شورا له لوري په سریلانکا هېواد کې د ۲۰۲۴ز کال په لړ کې د جولای له ۱۹مې تر ۲۴مې نېټې کلنۍ غونډې ترسره شوه چې پکې د یادې شورا له ۱۰۸ غړو هېوادونو ۲۲۰ استازو ګډون کړی وو. په یاده غونډه کې د نورو بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو د مشرانو سربېره د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي میرویس اشرف او اجراییوي رییس ښاغلي نصیب خان هم ګډون درلود.

په یاده غونډه کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د افغان کرکټ پر لاسته راوړنو، فعالیتونو او راتلونکو پلانونو بحث وکړ او د کرکټ نړیوالې شورا له مشرتابه او بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو سره یې اړوند معلومات شریک کړل.

سربېره پر دې په دغه غونډه کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د سویلي افریقا، نیوزیلنډ او ویسټ انډیز هېوادونو له مشرانو سره له چمپین ټرافي وړاندې د ملي لوبډلې د لوبلړیو پر تنظیم او ترسراوي او دغه راز له بنګله دېش او زمبابوې سره د الف لوبډلې د لوبلړیو او همدارنګه د پاکستان او متحده عربي اماراتو مشرانو سره د نوولس کلنو لوبغاړو د درې اړخیزې لوبلړۍ پر ترسراوي بحث او خبرې اترې کړې وې چې له نېکه مرغه له دغو سیالیو ډېری یې ترسره شوې او افغان لوبډلو پکې د پام وړ بریاوې ترلاسه کړې.

د افغان استازو له لوري له راپور وړاندې کولو وروسته په یاده






ناسته کې د کرکټ نړیوالې شورا مشرتابه او ټولو غړو هېوادونو له لوري په نړیوال جام کې د افغان لوبډلې د وروستیو لاسته راوړنو او بریاو او په افغانستان کې د کرکټ فعالیتونو ستاینه وشوه او په وینا یې، افغان لوبډلې حیرانونکې لوبې نندارې ته وړاندې کړې او له شک پرته د کرکټ مینه والو ترې ډېر خوند واخیست او افغان کرکټ ورځ تر بلې د غښتلتیا په حال کې دی.

دغه راز د ۲۰۲۴ز کال سپتمبر میاشت کې د کرکټ اسیایي شورا د غړو هېوادونو د استازو ترمنځ هم ناسته ترسره شوه چې پکې د افغانستان کرکټ بورډ په استازیتوب عمومي رییس میرویس اشرف او اجراییوي رییس نصیب خان هم ګډون وکړ.

په دغه ناسته کې چې د مالیزیا هېواد په پلازمېنه کوالالمپور کې د اسیایي شورا د غړو هېوادونو د مشرانو او اجراییوي مشرانو ترمنځ ترسره شوه، د اړوند هېوادونو ترمنځ پکې پر لا ډېرې همکارۍ، په ۲۰۲۴م کال کې د کرکټ اسیایي شورا د سیالیو، له ۲۰۲۴ تر ۲۰۳۱ز کال پورې د یادې شورا د رسنیزو حقوقو او د نویو هېوادونو د غړیتوب په تړاو خبرې وشوې.

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه هم له یادې ناستې په ګټې د بېلابېلو بورډونو له مشرانو سره خبرې وکړې او د افغانستان په کوربه توب یې د یادې شورا د سترو سیالیو د ترسراوي غوښتنه وکړه او دغه راز یې د بنګله دېش له مشر سره د افغانستان په کوربه توب د راتلونکې لوبلړۍ په وخت ترسره کولو خبرې اترې




وکړې. چې دغه لوبلړۍ هم څه موده وړاندې متحده عرب اماراتو کې د افغانستان په بریا پای ته ورسېده.

په یاده ناسته کې چې د کرکټ نړیوالې او اسیایي شوراګانو د مشر او د هندوستان کرکټ د سرمنشي جې شا له لوري رهبري کېده؛ دغه راز پکې د پخوانیو ناستو د موضوعاتو د تایید، د ۲۰۲۶م کال په اسیایي لوبو کې د کرکټ پر شمولیت، د ازبکستان، منګولیا او فلیپین د غړیتوب د غوښتنې د ارزونې او نورو اړوند موضوعاتو په تړاو خبرې اترې وشوې.

همدارنګه په دغه ناسته کې د کرکټ اسیایي شورا د پرمختیا کمېټې غړو د ۲۰۲۵ او ۲۰۲۶ کلونو د پلانونو او سیالیو په تړاو د غړو هېوادونو له مشرانو سره هر اړخیز معلومات شریک کړل چې په پایله کې یو ځل بیا د کرکټ اسیایي شورا د غړیتوب لرونکو هېوادونو ترمنځ پر لا ډېرې همکارۍ ټینګار وشو.

دغه راز د کرکټ بورډ مشرتابه د کرکټ اسیایي شورا په یوه بله غونډه چې د جنوري میاشت کې په اندونیزیا کې ترسره شوه چې افغانستان کرکټ بورډ ته پکې د یادې شورا د نورو څلورو بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو په اندازه بودیجه منظور شوه، هم ګډون درلود.

دا په داسې حال کې ده چې افغانستان کرکټ بورډ تېر کال د همدې شورا په هغه ناسته کې چې بحرین کې ترسره شوې وه، د نورو غړو هېوادونو په اندازه د بودیجې ترلاسه کولو غوښتنه کړې وه. تر دې وروسته به د هند، بنګله دېش، پاکستان او سریلانکا په څېر افغانستان ته هم د بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو بودیجه ترلاسه کوي.

په دې غونډه کې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس میرویس اشرف د غړو هېوادونو د کرکټ بورډونو مشرانو سره په راتلونکې کې د دوه اړخیزه لوبو پر تنظیمولو او ډېروالي، د اسیایي شورا په لوبلړیو کې د افغانستان د لوبغاړانو د ګډون، د یادې شورا له لوري د افغان تخنیکي مسوولینو د روزنې او د ظرفیت لوړونې په پروګرامونو کې د افغان کرکټ بورډ د تخنیکي مسوولینو د ګډون په تړاو هم خبرې کړې دي.

باید ووېل شي چې د ۲۰۲۴ کال دسمبر میاشت کې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس میرویس اشرف په متحده عرب اماراتو کې د کرکټ نړیوالې شورا د نوي مشر جې شاه په پېژند غونډه کې هم ګډون وکړ.

په غونډه کې ښاغلي میرویس اشرف جی شاه ته د نوي دندې مبارکي ورکړه او دغه راز یې هیله څرګنده کړه چې د نوموړي تر مشرۍ لاندې به کرکټ لا ډېره وده او پراختیا ومومي.



سربېره پر دې په دې وروستیو کې د افغانستان کرکټ بورډ د اجراییوي رییس ښاغلي نصیب خان او د متحده عربي اماراتو د ابوظبي د ورزشونو شورا د عمومي سرمنشي ښاغلي عارف حمد العوانی ترمنځ د رواني دسمبر میاشتې په ۱۲مه نېټه ناسته ترسره شوه چې پکې د کرکټ په ډګر کې پر دوه اړخیزو همکاریو، په سیمه کې د کرکټ د لا پراختیا او ودې او دغه راز په افغانستان کې د کرکټ په ډګر کې د رغنیزو چارو پر ترسراوي خبرې اترې وشوې.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي مشر د ابوظبي د ورزشونو شورا له عمومي سرمنشي مننه وکړه چې له افغان کرکټ بورډ سره یې په بېلابېلو ډګرونو کې د همکارۍ ژمنې وکړې چې له شک پرته دا به د دواړو هېوادونو ترمنځ د ورزش په ډګر کې لا ډېرو همکاریو ته زمینه برابره کړي.

په دغه ناسته کې د افغانستان کرکټ بورډ د اجراییوي مشر ښاغلي نصیب خان له لوري په هېواد کې د نجیب الله تره کي، خوست کرکټ لوبغالي، کندز او کابل کرکټ لوبغالو د رغنیزو چارو او په یادو کرکټ لوبغالو کې د لا ډېرو اسانتیاو رامنځته کولو او همدارنګه د افغان کرکټ په پراختیا کې د یاد هېواد د همکارۍ غوښتنه وشوه.

سربېره پر دې ښاغلي نصیب خان له ښاغلي عارف حمد العواني د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د لوبلړیو د کوربه توب او ترسراوي پر مهال په عملیاتي چارو کې، متحده عربي اماراتو کې افغان کرکټ بورډ ته د یوه دفتر د ورکړې، لوبغاړو او د اداري کارکوونکو ته د ویزو د ورکړې او ورته نورو ډګرونو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د یادو غوښتنو په ځواب کې د متحده عربي اماراتو د ابوظبي د ورزشونو شورا عمومي سرمنشي ښاغلي عارف حمد العواني د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه او په وینا یې، په دې اړه به دواړه لوري د همکارۍ تړونونه هم لاسلیک کړي چې د لومړیو او مقدماتي خبرو وروسته به عملي بڼه خپله کړي.

سربېره پر دې ښاغلي العواني زیاته کړه، په افغانستان کې کرکټ هغه لوبه ده چې ډېرې افغانانو ته یې خوشحالي او خوښۍ ورکړې دي، پر همدې بنسټ متحده عربي امارات لېواله دي چې د نورو ډګرونو ترڅنګ په ورزشي ډګر کې هم له افغانستان سره هر ډول مرستې او همکارۍ وکړي.

د یادونې وړ ده چې افغانستان کرکټ بورډ به ډېر ژر د یادو پروژو د څرنګوالي، عملي کولو او پیل په تړاو د ابوظبي د ورزشونو شورا له مشرتابه سره خپل غوښتنلیکونه شریک کړي.




## افغان ابدالیان لوبډلې

## د کرکټ اسیایي شورا

## د ایمرجینګ جام سیالیو اتلولي وګټله



افغان ابدالیان کرکټ لوبډلې د کرکټ اسیایي شورا اړوند د ایمرجېنګ اسیا جام سیالیو اتلولي د افغانستان په نوم کړه. افغان لوبډلې د یادو سیالیو په پایلوبه کې له یوې ډېرې په زړه پورې لوبې وروسته د سریلانکا الف لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ستره ماتې ورکړه او د لومړي ځل لپاره یې د یادو سیالیو اتلولي وګټله.

د دغې لوبې پچه سیالې سریلانکا الف لوبډلې وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه. یادې لوبډلې د پایلوبې په لومړی پاټۍ کې د خپلو ۷ لوبغاړو په زیان سره ۱۳۳ منډې جوړې کړې او افغان لوبډلې ته یې د ۱۳۴ منډو هدف وټاکه. د افغان لوبډلې تکړه ورو توپ اچوونکي غضنفر په دغه لوبه کې بهترینه توپ اچونه وکړه او په خپلو ۴ اوړونو کې یې د ۱۴ منډو په بدل کې دوه مهمې ویکټې ترلاسه کړې. د نومړي ترخنګ بلال سمیع هم ښه توپ اچونه وکړه

او درې سیال لوبغاړي یې له ډګره بهر کړل.

افغان لوبډلې د یاد هدف په ځواب کې خپل لومړی لوبغاړی زبید اکبري د دویمې پاټۍ په لومړي توپ له لاسه ورکړ، خو صدیق الله اتل د تېرو سیالیو په څېر یو ځل بیا بهترینه توپوهنه وکړه او په یادو سیالیو کې یې پنځمه پرله پسې نیمه سلیزه جوړه کړه. د نومړي ترخنګ لوبډلمشر درویش رسولي، کریم جنت او محمد اسحاق



هم عالي توپوهنه وکړه او افغان لوبډله یې په ۱۹م اوړ کې یوازې د درې لوبغاړو په زیان سره یاد هدف او د دغو سیالیو اتلولۍ ته ورسوله.

د افغان لوبډلې په ګټه صدیق الله اتل ۵۵ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې، دغه راز کریم جنت ۳۳، لوبډلمشر درویش رسولي ۲۴ او محمد اسحاق هم ۱٦ چټکې او ناسوځېدلې منډې جوړې



کړې. د پایلوبې د غوره لوبغاړي جایزه غضنفر ترلاسه کړه چې په دغه لوبه کې یې اغېزناکه توپ اچونه وکړه او په خپلو ۴ اورونو کې یې د ۱۴ منډو په بدل کې ۲ مهمې ویکټې ترلاسه کړې وې او په خپلې غوره توپ اچونې سره یې افغان لوبډلې ته بهترین پیل ورکړی و.

له بلې خوا د افغان لوبډلې بل تکړه لوبغاړي او ځوان توپوهونکي صدیق الله اتل په پنځو لوبو کې د پنځو پرله پسې نیمه سلیزو پرمټ



د ۱۲۲.٦٦ منډو په اوسط او ۱۴۷.۷۹ سټرایک ریټ سره ۳٦۸ منډې جوړې کړې او د کرکټ اسیایي شورا د اېمرجېنګ اسیا جام سیالیو د تر ټولو غوره لوبغاړي جایزه یې په خپل نوم کړه.

دغه سیالۍ د روانې اکتوبر میاشتې په ۱۸مه نېټه د عمان په پلازمېنه کې پیل شوې وې چې په ترڅ کې یې افغان ابدالیانو په ګروپي پړاو کې په ترتیب سره سریلانکا الف او بنګله دېش الف او له دې وروسته په نیمه پایلوبه کې د هند الف لوبډلې ته او




په پایلوبه کې یو ځل بیا سریلانکا الف لوبډلې ته ماتې ورکړه او د لومړي ځل لپاره یې د یادو سیالیو اتلولي په خپل نوم کړه.

د یادونې وړ ده چې دا د اېمرجېنګ اسیا جام سیالیو پنځم پړاو و. افغان لوبډلې د یادو سیالیو په تېرو څلور پړاوه سیالیو کې هم ګډون درلود خو دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله پایلوبې ته رسېږي او د یادو سیالیو اتلولي خپلوي.

د افغان ځوانانو دغه ستره اتلولي ځکه ځانګړې او د خوښۍ وړ ده



چې دا زموږ د کورنیو استعدادونو، لوبغاړو او روزونکو د نه ستړې کېدونکو هڅو پایله ښیي. دا بریا زموږ د کورني کرکټ د جوړښت د اغېزمنتیا او مؤثریت یو څرګند ثبوت ګڼل کېږي او په ډاګه کوي چې د افغانستان کرکټ بورډ په هېواد کې د لوبغاړو او په ټوله کې د کرکټ لوبې د ودې او پرمختګ لپاره بشپړه ژمنتیا لري او په دې برخه کې اغېزمنې هلې ځلې کوي.




AFGHANISTAN


AFGHANISTAN
MASSEUR




AFGHANISTAN


AFGHANISTAN









# افغان اتلانو

## په شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې تاریخي بریاوې خپلې کړې







ICC
MEN'S T20
WORLD CUP
WEST INDIES & USA 2024








د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د ۲۰۲۴ز کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې خپل شپږم ځلي ګډون تاریخي ثابت کړ. افغان اتلانو له دې وړاندې پنځه ځلې د شل اوریزو سیالیو په نړیوال جامونو کې برخه اخیستې وه، خو په دوموره ستر شمېر بریاوې یې نه وې خپلې کړې.

په ۲۰۲۴ز کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې ګډون او غوره لوبې هغه خوږه تجربه ده چې تر دې ډېره به یې د افغان لوبډلې مینه وال په یاد ساتي او خوږې خاطرې به یې بیانوي. د دې سیالیو په لړ کې افغان اتلانو پنځه بریاوې خپلې کړې او داسې لوبډلې یې ماتې کړې چې ماتول یې د ډېرو افغانانو هیله او ارمان و.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د دې سیالیو په لومړي پړاو کې درې بریاوې خپلې کړې او د یوګانډا، نیوزیلنډ او پاپو نیو ګینې په ماتولو سره یې د سیالیو دویم پړاو ته لاره موندله چې هلته یې د هند پر وړاندې ماتې وخوړه، خو استرالیا او بنګله دېش ته یې سختې ماتې ورکړې او د افغانستان کرکټ په تاریخ کې یې د لومړي ځل لپاره د شل اوریز نړیوال جام



سیالیو نیمه پایلوبې ته لاره وموندله. د دې بریاوو له منځه د افغان اتلانو تر ټولو یادګاري بریاوې د نیوزیلنډ، استرالیا او بیا د بنګله دېش پر وړاندې وې چې پرمټ یې افغان اتلانو نیمه پایلوبو ته لاره وموندله. استرالیا له دې وړاندې د ۲۰۲۱ز کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو اتلولي خپله کړې وه او د نړۍ پیاوړې لوبډله ګڼل کېږي.

افغان اتلانو د ۲۰۲۴ز کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو په دریم ګروپ کې ځای درلود چې ترځنګ یې په یاد ګروپ کې نیوزیلنډ، ویسټ انډیز، یوګانډا او پاپو نیو ګیني لوبډلې هم شاملې وې. د یادو سیالیو د غوره ۸ لوبډلو پړاو ته د لارموندلو په موخه باید افغان اتلانو د ویسټ انډیز او نیوزیلنډ لوبډلو ترمنځ یوه ماته کړې وی، دا کار ځکه ډېر سخت ښکارېده چې ویسټ انډیزې لوبډله په خپل کور کې لوبېده او دغه راز یې د شل اوریزو سیالیو دوه نړیوال جامونه ګټلي دي. له بله اړخه بیا نیوزیلنډ لوبډله د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو په شل اوریز نړیوال جامونو کې پایلوبې ته رسېدلې وه او د کرکټ نړۍ له خورا سترې او پیاوړې لوبډله شمېرل کېږي.




له دې خندونو سره سره افغان اتلانو پر ځان باور درلود او د خپلو غوره لوبو او د هېوادوالو د پراخه ملاتړ او هڅونې پرمټ یې په لومړي پړاو کې پیاوړې نیوزیلنډ لوبډلې ته ماتې ورکړه او په توله کې یې د درې بریاوو پرمټ د غوره ۸ لوبډلو پړاو ته لاره وموندله. د نیوزیلنډ پر وړاندې د افغان اتلانو دغه لوبه د جون میاشتې په ۷مه نېټه وشوه چې پکې افغان اتلانو لومړی توپوهنه کوله، رحمن الله ګربز او ابراهیم ځدران ښه پیل واخیست. دواړو د لومړۍ ویکټې لپاره د ۱۰۳ منډو ملګرتیا وکړه، دا دویم پړله پسې ځل و چې افغان پیلیز توپوهوونکي له ۱۰۰ د ډېرو منډو ملګرتیا کوي. افغان لوبډلې که څه هم له دې وروسته په منځ کې خپلې ویکټې له لاسه ورکولې، خو د رحمن الله ګربز ۸۰، د ابراهیم ځدران ۴۴ او د عظمت الله عمرزي ۲۲ منډو افغان لوبډله د لومړۍ پانې په پای کې ۱۵۹ منډو ته ورسوله.

له غوره توپوهنې وروسته افغان اتلانو په توپ اچونه کې هم ډېر ښه پیل وکړ او د سیالي لوبډلې لومړي پیلیز توپوهونکی یې د لومړي اور په لومړي توپ له ډګره بهر کړ. افغان اتلانو خپلې ښې توپ اچونې ته دوام ورکړ او سیال لوبغاړي یې یو




په بل پسې له ډګره ووېستل. د افغان لوبډلې په ګټه فضل الحق فاروقي او لوبډلمشر راشد خان هر یوه څلور او محمد نبي دوه ویکټې ترلاسه کړې. نیوزیلنډ لوبډلې د خپلو ټولو لوبغاړو په زیان یوازې ۷۵ منډې جوړې کړې او په ۸۴ منډو یې له افغان اتلانو ماتې وخوړه. رحمن الله ګربز چې د افغان لوبډلې په ګټه یې د ۵۶ توپونو په لوبولو سره د ۵ شپږیزو او همدومره څلوریزو پرمټ ۸۰ منډې جوړې کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

دا د افغانستان کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل و چې افغان لوبډله نیوزیلنډ لوبډلې ته په یوه نړیواله لوبه کې ماتې ورکوي. دا په ۲۰۲۴ز کال نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې دویمه بریا وه، افغان اتلانو له دې وړاندې یوګانډا ته هم سخته ماتې ورکړې وه. د نیوزیلنډ پر وړاندې د افغان لوبډلې بریا د څو ورځو لپاره په نړیواله کچه د خبرونو سرټکي شول او هر ځای د افغان لوبغاړو او افغان لوبډلې د ستاینې په پار لیکنې او مقالې خپرې شوې.

له دې لوبې یوه اونۍ وروسته افغان اتلان په ټاروبا ښار کې د پاپوا نیو ګینې لوبډلې پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته



شول چې پکې افغان لوبډلې د فضل الحق فاروقي، نوین الحق او نور احمد د غوره توپوهنې او ګلبدین نایب د مؤثره توپوهنې پرمټ سیالې لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه او دریمه پرله پسې بریا یې خپله کړه. د دې لوبې په ګټلو سره د نړیوال جام دویم پړاو ته د افغان اتلانو تګ یقیني شو. د دغو سیالیو د مهالوېش له مخې افغان لوبډلې د جون میاشتې په ۱۸مه نېټه د ویسټ انډیز پر وړاندې لوبه وکړه. دا مهال په افغانستان کې د لوی اختر د دویمې ورځې سهار و، خو په کارابین هېوادونو کې چېرې چې افغان اتلان په دغو سیالیو بوخت و؛ د اختر لومړۍ ورځ وه او دغه لوبه د اختر د لومړۍ ورځې په ماښام کېده. افغان اتلانو دغه لوبه کې د کوربه ویسټ انډیز څخه ۱۰۴ منډو په توپیر ماتې وخوړه، خو د لومړیو دریو لوبو په ګټلو سره یې د غوره ۸ پړاو ته له وړاندې لاره موندلې وه.

افغان لوبډلې ته په دویم پړاو کې د هند، استرالیا او بنګله دېش پر وړاندې لوبې ورکړل شوې، افغان اتلانو باید له دغو درې لوبو حد اقل دوه لوبې ګټلې وی چې نیمه پایلوبو ته یې لاره موندلې وی. د دویم پړاو په لومړۍ لوبه کې افغان



لوبډلې د هند د ۱۸۲ منډو هدف په ځواب کې یوازې ۱۳۴ منډې جوړې کړې او د ۴۷ منډو په توپیر یې ماتې وخوړه. اوس باید افغان اتلانو خپلې پاتې دواړه لوبې ګټلې وی، ترڅو نیمه پایلوبو ته لاره ومومي.

د جون میاشتې ۲۳مه نېټه وه، چې افغان اتلان د استرالیا پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته شول. افغان اتلانو لومړی توپوهنه کوله او یو ځل بیا یې ښه پیل واخیست او دواړو پیلیز توپوهونکو د دریم ځل لپاره له ۱۰۰ د ډېر منډو ملګرتیا وکړه او خپل لومړی لوبغاړی یې په ۱۱۸ منډو کې له لاسه ورکړ. د افغان لوبډلې په ګټه رحمن الله ګربز ۶۰ او ابراهیم ځدراڼ ۵۱ منډې جوړې کړې، خو نورو لوبغاړو ښه توپوهنه ونه کړی او افغان لوبډلې د خپلو ۶ لوبغاړو په زیان سره په لومړۍ پاڼۍ کې ۱۴۸ منډې جوړې کړې.

افغان لوبډلې د یاد هدف په دفاع کې زړوره توپ اچونه پیل کړه، دا ځل د تېرو سیالیو په خلاف نوین الحق د توپ اچونې پیل وکړ او په خپل دریم توپ یې پیاوړی سیال لوبغاړی ټرېوېس هېډ په صفر له ډګره بهر کړ. له دې وروسته افغان اتلانو دوه نور سیال لوبغاړي هم ژر له ډګره ووېستل، خو بیا

هم هغه لوبغاړي چې په تېر ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې یې د ملیونونو افغان مینه والو زړونه مات کړي، یو ځل بیا د افغان اتلانو پر وړاندې چټکه توپوهنه پیل کړه. ګلبن مکسوېل و چې یو ځل بیا یې د افغانانو لپاره سرخوږی جوړ کړی و او د افغان لوبډلې د ۱۴۹ منډو په هدف پسې په چټکۍ پرمخ روان و.

استرالیا د افغان لوبډلې د ۱۴۹ منډو هدف په ځواب کې د دویمې پاېنۍ په لسو اورونو کې د خپلو درېو لوبغاړو په زیان سره ۷۰ منډې جوړې کړې وې او په پاتې ۱۰ اورونو کې یې په داسې حال کې چې ۷ نور لوبغاړي هم ورسره پاتې و، ۷۹ منډو ته اړتیا لرله. ګلبن مکسوېل په ۳۱ منډو او بل تکړه الروندر مارکس سټوینس په ۱۱ منډو توپوهنه کوله چې لوبډلمشر راشد خان توپ ګلبدین نایب ته ورکړ، دا په ټوله کې اتم توپ اچونکی و چې افغان لوبډلمشر په دغه لوبه کې پرې توپ اچونه کوله. ګلبدین نایب په راتګ سره سم په خپل دریم توپ ویکټ ترلاسه کړه او مارکس سټوینس یې له ډګره بهر کړ، خو مکسوېل لا هم خپلې چټکې توپ اچونې ته دوام ورکړی و او په همدې اور کې یې په ګلبدین نایب څلوریزه او په ورپسې اور کې په راشد خان شپږیزه ووهله.

له ۱۲ اورونو وروسته استرالیا ته په ۴۸ توپونو ۶۵ منډې پکار وې چې ګلبدین نایب یو ځل بیا توپ اچونې ته راغی او په خپل دویم اور کې هم ویکټ ترلاسه کړه. دا ځل ټیم ډېوېډ و چې د نایب د توپ اچونې ښکار شو، خو ګلبن مکسوېل لا هم افغان لوبغاړو ته ستر سرخوږی جوړ کړی و او پرله‌پسې یې چټکه توپوهنه کوله. ګلبدین نایب پرله‌پسې دریېم اور ته هم راغی او دا ځل یې هم ویکټ واخیسته، خو دا ویکټ له نورو څکه ځانګړې وه چې ګلبن مکسوېل، هغه لوبغاړی چې د افغان لوبډلې او بریا ترمنځ په ستر خنډ بدل شوی و، له مخې لرې کړ. د مکسوېل په ویکټې سره افغان لوبغاړي نور هم بریا ته نږدې شول او د دغې سترې بریا ترلاسه کولو لپاره یې په ځان باور نور هم زیات شو.




استرالیا ته په پاتې ۳۰ توپونو کې ۴۱ منډې پکار وې چې لوبډلمشر راشد خان د سیالې لوبډلې د بل توپوهونکي متیو وېډ ویکټ ترلاسه کړه او افغان لوبډله یې په سیاله لوبډله نوره هم برلاسې کړه. ګلبدین نایب په دې ورځ بهترینه توپ اچونه وکړه او په خپل هر اور کې یې یوه ویکټ ترلاسه کړه. وروستي دوه لوبغاړي فضل الحق فاروقي او عظمت الله عمرزي له ډګره بهر کړل او افغان اتلانو د ۲۱ منډو په توپیر ستره بریا خپله کړه.

په دغه لوبه کې ډېرو افغان لوبغاړو ښه لوبه کړې وه، خو د لوبې غوره لوبغاړی هغه افغان اتل شو چې تقریباً په یوازې ځان یې د لوبې بڼه بدله کړې وه او افغان لوبډلې په بریا کې یې ستره ونډه درلوده. ګلبدین نایب په خپلو څلورو اورونو کې یوازې ۲۰ منډې ورکړې او ۴ سترې ویکټې ترلاسه کړې، دغه راز یې یوه ډېر غوره کېچ هم ترلاسه کړی و چې پرمټ یې د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. له دې وړاندې افغان لوبډلې د استرالیا پر وړاندې ۵ نړیوالې لوبې کړې وې، خو په ټولو لوبو کې سیالې استرالیا لوبډلې بریا خپله کړې وه. دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله استرالیا ته په یوه نړیواله لوبه کې ماتې ورکوي.

د استرالیا له ماتولو وروسته افغان لوبډله له بنګله‌دېش سره

مخ کېده او داسې وخت چې افغان لوبډلې یوازې د لوبې ګټلو او ۲ نمرو ته اړتیا درلوده چې د نړیوال جام نیمه پایلوبې ته ورسېږي. افغان لوبغاړو په دې لوبه کې هم لومړی توپوهنه وکړه خو پیل یې هومره ښه نه و څومره چې یې تمه کېده، افغان لوبغاړو د لومړی ویکټې لپاره د ۵۹ منډو ملګرتیا وکړه خو سیالې لوبډلې ډېره ښه توپوهنه او ډګر ساتنه کوله او افغان لوبډلې ته یې په اسانی منډې نه ورکولې. رحمن الله ګربز په ۵۵ توپونو ۴۳ منډې او ابراهیم ځدراڼ په ۲۹ توپونو ۱۸ منډې جوړې کړې، نورو افغان توپوهوونکو له پرلهپسې هڅو سره سره چټکې منډې جوړې نه کړی شوې. ۱۸م اور روان و چې افغان لوبډلې محمد نبي هم له لاسه ورکړ، دا مهال د افغان لوبډلې منډې ۹۳ وې او زموږ د توپوهنې په پای کې یوازې ۱۴ نور توپونه پاتې و چې راشد خان لوبغالي ته راغی. نوموړي په خپل دویم توپ ستره شپږیزه ووهله چې د افغان لوبډلې منډې ۹۹ ته ورسېدې.

دا مهال ټول په دې هیله و چې په پاتې دوه اورونو کې به منډې چټکې شي او افغان لوبډله به سیالې بنګالی لوبډلې ته نسبتاً ښه هدف وټاکي، خو په ۱۹م کې یوازې یوه منډه راغله، په دې سره افغان لوبډلې په ۱۹ اورونو کې یوازې ۱۰۰ منډې لرلې خو په وروستي اور کې لوبه بیا خوندوره شوه، کله چې راشد خان دوه سترې شپږیزې ووهلې او د لومړی پانۍ په پای کې یې د افغان لوبډلې منډې ۱۱۵ ته ورسولې.

دویمه پانۍ کې د باران امکان هم و، بله دا چې د افغان لوبډلې ترڅنګ، د لوبې ځانګړو پایلو ته په کتو، بنګله دېش او استرالیا لوبډلو هم دا چانس درلود چې نیمه پایلوبو ته لاره ومومي. د افغان لوبډلې لپاره لاره بېخي ساده او روښانه وه او هغه په دې لوبه بریا ترلاسه کول و. له بلې خوا بنګله دېش ته پکار وه چې دغه هدف په ۱۲.۱ اورونو کې ترلاسه کړي چې نیمه پایلوبو ته ورسېږي، خو که بنګله دېش په دې هڅه کې ناکامېږي او له ټاکل شویو ۱۲.۱ اورونو وروسته هدف ترلاسه کوي، نو بیا په دې صورت کې افغانستان او بنګله دېش دواړه له صحنې بهر کېږي او استرالیا د نړیوال جام نیمه پایلوبو ته لاره مومي.




بنګله دېش په خپله هڅه کې ډېر ښه پیل واخیست او په لومړي اور کې یې ۱۳ منډې جوړې کړې. فضل الحق فاروقي چې له دې وړاندې یې په دغو سیالیو کې خورا ښه توپ اچونه کوله، په دویم اور کې د بهترینې توپ اچونې پرمټ لومړی ویکټ ترلاسه کړه. د درېیم اور لپاره یو ځل بیا نوین الحق راغی، نوموړي له دې وړاندې په خپل لومړي اور کې ۱۳ منډې ورکړې وې، خو دا ځل یې پرله پسې دوه ویکټې ترلاسه کړې او په ۲۴ منډو کې درې سیال لوبغاړي له ډګره بهر شول. دا مهال لوبه د افغان لوبغاړو په لاس کې وه او د لوبغاړو ترڅنګ د ټول هیوادوالو جذبه او هیله منډې لا زیاته وه، دا په زړه پورې لوبه روانه وه چې په ځلورم اور کې باران پیل وکړ او لوبه له ځنډ سره مخ شوه.

نیم ساعت وروسته لوبه بیا ځلې پیل شوه، له نیم ساعت ځنډ سره سره هېڅ اوور کم نه شو. فضل الحق فاروقي خپل پاتې اور بشپړ کړ چې پکې ۱۲ منډې وشوې. سیالې لوبډلې د ځلورو اورونو په پای کې ۳۶ منډې لرلې او په پاتې ۹۶ توپونو

يې ۸۰ نورو منډو ته اړتیا لرله. د سیالو لوبغاړو ملګرتیا دوام درلود چې افغان لوبډلمشر راشد خان توپ اچونې ته راغی او په خپل لومړي اور کې یې ویکټ واخیسته. سیالو لوبغاړو له دې سره سره بیا هم هڅه کوله چې د منډو جوړلو بهیر چټک وساتي چې په ورپسې اور کې یې یو ځل بیا ۱۲ منډې ترلاسه کړې. راشد خان په خپل دویم اور کې هم ویکټ ترلاسه کړه خو منډې لا هم په چټکۍ رواني وې او پاتې څلورو توپونو ۱۰ نورې منډې هم راغلې.

بنګلهدېش لوبډلې د ۱۰ اورونو په پای کې ۷۷ منډې لرلې، ۵ لوبغاړي یې له لاسه ورکړي وو او په پاتې ۶۰ توپونو یوازې ۳۹ منډې ورته پکار وې، ترڅو بریا خپله کړي او افغان لوبډله له نړیوال جامه بهر کړي. لوبډلمشر راشد خان خپل درېیم اوور ته هم راغی چې دا ځل یې یوازې درې منډې ورکړې، خو دوه پرلهپسې ویکټې یې ترلاسه کړې. دې وخت کې لوبه یو ځل بیا د افغان لوبډلې په لوري وخرخېده، خو لا هم یو بنګالي توپوهوونکی لېټن داس له پیله ولاړ و او په ۳۶ منډو یې توپوهنه کوله.

په دې وخت کې یو ځل بیا باران پیل شو، خو دا مهال افغان لوبډله د ډي-اېل سیستم له مخې دوه منډې مخکې وه، او که باران نه وی دربدلی نو افغان لوبډلې کولی شول چې په همدې دوه منډو دغه لوبه وګټي.

باران ډېر دوام ونهکړ او لس دقیقې وروسته لوبه یو ځل بیا پیل شوه، خو دا ځل یو اور لوبه او دوه منډې هدف راکم شوی و، چې له مخې به یې افغان لوبغاړو باید په ۲۰ اورونو کې د ۱۱۶ منډو پرځای په ۱۹ اورونو کې له ۱۱۴ منډو دفاع کولی. په دوه نورو اورونو کې ۹ منډې راغلې، ۱۵م اور ته ګلبدین نایب چې د استرالیا پر وړاندې لوبه کې ډېر ښه ثابت شوی و، توپ اچونې ته راغی او په خپل دویم توپ یې ویکټ واخیسته او افغان لوبډله یې بریا ته یو ګام نور هم نږدې کړه، خو لېټن داس لا هم خپلې توپوهنې ته دوام ورکاوه او په دې لړ کې یې نیمه سلیزه هم جوړه کړه.

دوه اورونو او زیاتې هیجانی او اندېښنو وروسته نوین الحق ۱۸م اور ته




وروستي دوه توپوهونکي یې یو په بل پسې له ډګره وویستل او افغان لوبډلې له یوې جالبې او زړه راښکوونکې لوبې وروسته د ۸ منډو په توپیر بریا خپله کړه او د ۲۰۲۴م کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو نیمه پایلوبې ته یې لاره ومونده.

افغان اتلان په لومړۍ نیمه پایلوبه کې له سویلي افریقا

لوبډلې سره مخ شول، دغه لوبه د جون میاشتې په ۲۷مه نېټه شوه. د دغې لوبې لیدو لپاره د افغانستان کرکټ بورډ په کابل کرکټ لوبغالي کې دوه لوی سکرینونه نصب کړل او په کابل کې مېشت ټولو کرکټ مینه والو ته یې بلنه ورکړه چې دغه ستره نیمه پایلوبه په ګډه په کابل کرکټ لوبغالي کې ننداره کړي. دا لوبه سهار ۵ بجې پیلېده، خو د کرکټ مینه وال د لوبې له پیله ډېر وړاندې لوبغالي ته را رسېدلي وو او زرګونه مینه والو دغه لوبه په ګډه ننداره کوله. افغان لوبډلې لومړی توپوهنه وکړه، خو لوبه هغسې ترسره نشوه څه ډول چې مینه




والو یې تمه لرله او ټوله لوبډله یوازې په ۵٦ منډو له ډګره بهر شوه. افغان لوبډلې که څه هم دغه لوبه د ۹ ویکټو په توپیر وبایلله خو نیمه پایلوبې ته یې د افغان لوبډلې رسېدل او په ۲۰ لوبډلو کې څلورم مقام خپلول هغه ستره لاسته راوړنه وه چې د کرکټ نړۍ ټولو مبصرینو، کرکټ مینه‌والو او څارونکو د

خوبنې وړ وګرځېده او د نړۍ سترو ویباپاڼو، چاپي او انځوریزو رسنیو د ځو ورځو لپاره پرې لیکنې او مقالې خپرې کړې.

په دغو سیالیو کې د افغان لوبډلې له لورې تر ټولو مخکښ توپوهونکی رحمن الله ګربز و چې د درې نیمه سلیزو پرمټ یې د ۳۵.۱۲ منډو په اوسط سره یې ۲۸۱ منډې جوړې کړې وې. نوموړی نه یوازې د افغان لوبډلې له لورې تر ټولو مخکښ توپوهوونکی و، بلکې په ټول نړیوال جام کې یې له نورو ټولو توپوهوونکو ډېرې منډې جوړې کړې وې او تر پایه په دې برخه کې مخکښ پاتې شو. دغه راز ابراهیم ځدراڼ په ۲۳۱ منډو سره دویم، عظمت الله عمرزی په ۱۱۱ منډو دریم او ګلبدین نایب چې په یادو سیالیو کې یې د افغان لوبډلې په ګټه ۹۰ منډې جوړې کړې وې، د افغانستان له اړخه څلورم مخکښ توپوهوونکی و. سربېره پر دې په توپ اچوونکو کې فضل‌الحق فاروقي په دغو سیالیو کې د افغان لوبډلې او ټول نړیوال جام سیالیو مخکښ توپ اچوونکی و، نوموړي ۱۷ ویکټې ترلاسه کړې وې او د شل اوریز نړیوال جامونو په تاریخ کې لومړنی لوبغاړی شو چې ۱۷ ویکټې اخیستې وې. له دې وړاندې په یوه نړیوال جام کې تر ټولو ډېرې ویکټې ۱٦ وې چې سریلانکایي توپ اچوونکي ونېندو هرسنګا په ۲۰۲۲م کال نړیوال جام سیالیو کې ترلاسه کړې وې. د فاروقي وروسته راشد خان په ۱۴ ویکټو سره د افغان لوبډلې له لورې دویم مخکښ توپ اچوونکی و. د نوموړي ترڅنګ نوین الحق په ۱۳ ویکټو سره دریم او ګلبدین نایب په ۷ ویکټو سره څلورم مخکښ توپ اچوونکی و.

دا په عموم کې په نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې شپږم ګډون و. افغان لوبډلې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۰ز کال کې په شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې ګډون وکړ چې دواړه سیالۍ یې بایللې وې، له دې وروسته افغان اتلانو په ۲۰۱۲م کال کې هم خپلې سیالۍ هند او انګلستان لوبډلو ته وبایللې. افغان لوبډلې په شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې خپله لومړنۍ بریا په ۲۰۱۴ز کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې د هانګ کانګ پر وړاندې ثبت کړه، خو په دې پړاو سیالیو کې یې دوه نورې لوبې بنګله‌دېش او نیپال لوبډلو ته بایللې وې.

د ۲۰۱٦م کال شل اوریز نړیوال جام سیالۍ بیا د تېرو نورو په پرتله د افغان اتلانو په ګټه ښې لوبې وشوې چې پکې افغان لوبغاړو د سکاټلنډ، هانک کانګ او زمبابوې لوبډلو په ماتولو سره دویم پړاو ته لاره ومونده او هلته یې ویسټ انډیز کرکټ لوبډلې ته چې وروسته یې د همدې سیالیو اتلولي هم وګټله، د یوې په زړه پورې توپ اچونې او خورا غوره ډګر ساتنې پرمټ



په ٦ منډو ماتې ورکړه. له دې وروسته د شل اوریز نړیوال جام سیالۍ ٥ کاله وروسته وشوې، په دې پړاو سیالیو کې هم افغان اتلانو ښې لوبې وکړې او د سکاټلنډ او نمیبیا پر وړاندې یې بریاوې خپلې کړې؛ خو پاکستان، نیوزیلنډ او هند ته یې خپلې لوبې وبایللې. د ۲۰۲۲م کال سیالۍ بیا له بده مرغه د افغان لوبډلې لپاره ښې لوبې ونه شوې، ځکه چې نه یوازې افغان لوبډلې د استرالیا، انګلستان او سریلانکا پر وړاندې خپلې لوبې وبایللې، بلکې دوه لوبې یې چې د ایرلنډ او نیوزیلنډ پر وړاندې ترسره کېدې، د دوامداره ورښتونو له امله ونه شوې. په ۲۰۲۴م کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې ګډون بیا له تېرو ټولو پړاوونو ډېر مختلف و او دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله پکې په دومره لوی شمېر لوبې ګټې او تر نیمه‌پایلوبې ځان رسوي. د افغان لوبډلې دغه تاریخي بریاوې به تر ډېره یادېږي او د یوې خوږې خاطرې په توګه به د افغان کرکټ د مینه‌والو مینه او یادونه خړوبوي.






# افغان اتلانو بنګله دېش

## ته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړۍ

### کې ۲-۱ ماتې ورکړه

د افغانستان کرکټ بورډ په متحده عربي اماراتو کې د ۲۰۲۴ز کال د نومبر میاشتي له شپږمې تر ۱۱مې نېټې د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لپاره د بنګله دېش کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ چې په ترڅ کې یې د دواړو لوبډلو ترمنځ د کرکټ بهترینې سیالۍ ترسره شوې. د یادو سیالیو په لومړۍ لوبه کې افغان اتلانو، دویمه لوبه سیالې بنګله دېش او وروستۍ او برخلیک ټاکونکې لوبه بیا افغان اتلانو وګټله چې پرمټ یې د یادو سیالیو جام هم په خپل نوم کړ.



د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د لوبلړۍ لومړۍ لوبه د ۲۰۲۴ز کال د نومبر میاشتې په شپږمه نېټه د متحده عربي اماراتو په شارجه کرکټ لوبغالي کې وشوه. په دغه لوبه کې افغان لوبډلې لومړی د توپوهنې پرېکړه وکړه خو لومړیو توپوهوونکو ښه پیل ونه‌کړ او په لومړیو ۲۰ اورونو کې افغان لوبډلې د ۷۱ منډو په بدل کې خپل ۵ لوبغاړي له لاسه ورکړل، له دې وروسته محمد نبي او لوبډلمشر حشمت الله شهیدي خورا ښه توپوهنه وکړه او د شپږمې ویکټې لپاره یې د ۱۰۴ منډو ملګرتیا وکړه.

افغان لوبډلې د محمد نبي د ۸۴ او حشمت الله شهیدي د ۵۲ منډو پرمټ په لومړۍ پانۍ کې ۲۳۵ منډې جوړې کړې، چې په دفاع کې یې افغان اتلانو د سیالې لوبډلې لومړی لوبغاړی یې په ۱۲ منډو له ډګره بهر کړ. له دې وروسته که څه هم دوه نورو سیالو لوبغاړو ښه توپوهنه وکړه او په ۲۰ اورونو کې یې خپلې منډې له ۱۰۰ واړولې او د افغان لوبډلې په هدف پسې خورا ښه روان وو، خو د لوبې بڼه یو دم بدله شوه او افغان لوبغاړو پاتې ۸ سیال لوبغاړي په نورو ۹ اورونو کې یوازې د ۲۳ نورو منډو په بدل کې له ډګر بهر کړل او د ۹۲ منډو په توپیر یې ستره بریا خپله کړه.

افغان لوبډلې د دغې لوبلړۍ په دویمه لوبه کې د سیالې لوبډلې د ۲۵۳ منډو هدف په ځواب کې د خپلو ټولو لوبغاړو په زیان سره ۱۸۴ منډې جوړې کړې او د ۶۸ منډو په توپیر له ماتې سره مخ شوه. د سیالې لوبډلې په دې بریا سره روانه لوبلړۍ ۱-۱ مساوي شوه او وروستۍ لوبې یې د برخلیک ټاکونکې لوبې بڼه خپله کړه چې ګټونکې لوبډلې به یې د لوبلړۍ جام هم په خپل نوم کاوه.
وروستۍ لوبه بیا د نومبر میاشتې په ۱۱مه نېټه په همدې شارجه کرکټ لوبغالي کې وشوه چې پکې سیالې بنګله‌دېش لوبډلې لومړی د توپوهنې پرېکړه

وکړه او په لومړۍ پانۍ کې یې د خپلو ۸ لوبغاړو په زیان سره ۲۴۴ منډې جوړې کړې، چې په ځواب کې یې افغان اتلانو خورا ښه توپوهنه وکړه، یاد هدف یې لس توپه وړاندې د ۵ ویکټو په زیان بشپړ کړ او دغه ستره لوبلړۍ یې ۱-۲ په خپله بریا پای ته ورسوله. د افغان لوبډلې په ګټه تکړه پیلیز توپوهوونکي رحمن الله ګربز سلیزه جوړه کړه، عظمت الله عمرزي ۷۰* ناسوځېدلې منډې جوړې کړې او محمد نبي په وروستیو کې ۲۴ ناسوځېدلې منډې وکړې چې پرمټ یې افغان اتلانو له یوې مؤثره او غوره لوبې وروسته یاد هدف بشپړ کړ او د دغې لوبلړۍ جام یې ۱-۲ په خپله ګټه پای ته ورساوه.

عظمت الله عمرزی چې په وروستۍ لوبه کې یې د افغان لوبډلې په بریا کې ستره ونډه لرله او په توپ اچونه کې یې د څلورو ویکټو ترخنګ په توپوهنه کې ۷۰ ناسوځېدلې منډې هم جوړې کړې وې؛ د لومړي ځل لپاره په نړیوال کرکټ کې د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. د نومورې ترڅنګ د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري محمد نبي هم د بنګله دېش پر وړاندې لوبلړۍ کې ډېر ښه وځلېده او د افغان اتلانو په دې بریا کې یې ستره ونډه درلوده. نوموړي په توپوهنه کې د یوې نیمه سلیزې پرمټ او ۶۷.۵۰ منډو په اوسط سره ۱۳۵ منډې جوړې کړې او دغه راز یې په توپ اچونه کې هم دوه ویکټې ترلاسه کړې چې پرمټ یې د دغې لوبلړۍ غوره لوبغاړی ونومول شو.

دا په روان کال کې د یو ورځنیو سیالیو دریمه پرله‌پسې لوبلړۍ وه چې افغان اتلان یې په خپل کوربتوب په خپله ګټه پای ته ورسوله. افغان لوبډلې د ۲۰۲۴ز کال په لومړیو کې ایرلنډ ته ۰-۲ ماتې ورکړه، له دې وروسته په سپتمبر میاشت کې سوېلي افریقا ته د لومړي ځل لپاره ماتې ورکړه او لوبلړۍ یې ۱-۲ ترې وګټله. د بنګله‌دېش پر وړاندې په دغه لوبلړۍ کې ۱-۲ بریا په یو ورځنیو سیالیو کې د افغان لوبډلې دریمه ستره بریا وه چې افغان اتلانو د روان کال په ترڅ کې ترلاسه کړه.






## مالي ملاتړي او همکاران

د افغانستان کرکټ بورډ د بنګله دېش پر وړاندې د درې نړيوالو يو ورځنيو سياليو لپاره له ګڼ شمېر مخکښو ملي او نړيوالو مالي ملاتړ کوونکو کمپنيو سره تړونونه لاسليک کړل. په دې لړ کې د افغانستان مشهوره مخابراتي شبکه اتصالات افغانستان د يادو سياليو لپاره د ملي لوبډلې د مخکښ مالي ملاتړ حقوق ترلاسه کړل. دغه راز د بنګله دېش مخکښې کمپنۍ والټن (Walton) ته د سياليو د (پاورډباى) مالي ملاتړي حقوق ورکړل شول. همدارنګه، د هېواد بل مشهور شرکت، سوپرکولا څښاک توليدي کمپنيو ګروپ، مرحبا د موټرو نندارتون، ټاپلاکس، اډينا د عطرياتو کمپنۍ او د روح په نوم نړيوالې کمپنۍ ته د يادو سياليو د مرستيال مالي ملاتړو حقوق ورکړل شوي و. د دې ټولو ترڅنګ، فايربرډ ورزشي مديريتي شرکت د يوه اوږدمهاله تړون له مخې د يادو سياليو د رسنيز توليد او خپراوي په برخه کې او (VANY) د افغان لوبډلې لپاره د لباس د توليد په برخه کې د افغانستان کرکټ بورډ همکاران وو.

## د سياليو رسمي خپروونکي چېنلونه

د افغانستان کرکټ بورډ او فايربرډ ورزشي مديريتي شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه شرکت د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ د درې نړيوالو يو ورځنيو سياليو نشراتي حقوق په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو چېنلونو وپلورل. د دغو سياليو د خپراوي حقوق په افغانستان کې د افغانستان ملي راډيو تلويزيون او اتصالات ته ورکړل شوي و چې له مخې يې ملي راډيو تلويزيون په تلويزيون او اتصالات د خپل انلاين اپليکېشن له لارې دغه سيالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړې. د دې ترڅنګ دغه سيالۍ په بنګله دېش ناګورېک تلويزيون (Nagorik TV)، ټي سپورټس (T Sports) او ټافي اپليکېشن (Toffee App)، په پاکستان کې ټپ مډ (Tap Mad) او په هند کې يورو سپورټس (Euro Sports) او فنکوډ (Fancode) نشر کړې. دغه راز په منځنۍ ختيځ کې چېنل سپورټس (Channel Sports)، د امريکا په متحده ايالاتونو او کاناډا کې ويلو تلويزيون (Willow TV) او په نوره نړۍ کې د افغانستان کرکټ بورډ له يوټيوب چېنل په ژوندۍ بڼه خپرې شوې.




# د ټولنیزو رسنیو پراخ پوښښ

د پراخ تلویزیوني پوښښ ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو یادو د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو ته خورا غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیل وړاندې د لوبډلې د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې او نور موارد په منظم ډول نشر او یادو سیالیو په خورا ښه توګه کمپاین وشو. د سیالیو په لړ کې د لوبو تازه حال په انځوریز او ویډیویي بڼه په خورا ښه ډول وړاندې شو. له پروډکشن کمپنۍ سره د تړون له مخې د یادو سیالیو تازه کلېپونه او د سیالیو غوره او لنډې شېبې (هایلایټس) په منظمه او هم مهالي توګه د افغانستان کرکټ بورډ له رسمي فېسبوک، ټویټر، انسټاګرام، ترېډز، وټس اپ چېنل ترڅنګ په یوټیوب چېنل هم نشر شول چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول او هره ویډیو سلګونه زره لیدونکو ننداره کړه.

دغه راز د یادو سیالیو په لړ کې د افغانستان د ښکلو سیمو زړه راښکونکي ویډیویي کلیپونه مکرراً نشر شول چې ورسره د لوبو د غوره او جالبو صحنو ترڅنګ د افغانستان طبیعي ښکلا او منظرې هم په نړیواله کچه خپرې شوې.

# د بنګله دېش لوبډلې ښه راغلاست او مېلمستیا

د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ د سیالیو له پیله درې ورځې وړاندې بنګله دېش لوبډله متحده عربي اماراتو ته ورسېده، چېرته چې د افغانستان کرکټ بورډ د یادې لوبډلې د مېلمه پالنې مسولیت درلود. د دې لپاره چې د دغې لوبډلې ښه راغلاست په یادګاري ډول وشي، په افغاني ملي لباس ملبس ماشومان د افغانستان کرکټ بورډ د چارواکو په ملتیا د دوی د هرکلي لپاره چمتو و او له راتګ سره سم یې ورته تازه ګلان ډالۍ کړل.

سربېره پر دې، د سیالیو پر مهال افغانستان کرکټ بورډ د هېوادني دود او دستور په پام کې نیولو سره د بنګله‌دېش لوبډلې لپاره ځانګړې مېلمستیا جوړه کړه. په دې مانښامنۍ مېلمستیا کې افغان لوبغاړو خپلو سیالانو ته د افغاني لاسي اوبدل شوو غالیو ترڅنګ د هېواد مشهوره وچه مېوه هم ډالۍ کړه.





# افغان اتلانو

## سویلي افریقا ته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړۍ کې ۲-۱ ماتې ورکړه

د افغانستان کرکټ بورډ په متحده عربي اماراتو کې د تېرې سپتمبر میاشتې له ۱۸مې تر ۲۲مې نېټې د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لپاره د سوېلي افریقا کرکټ ملي لوبډلې کوربه‌توب وکړ چې په ترڅ کې یې د دواړو لوبډلو ترمنځ د کرکټ بهترینې سیالۍ وشوې. د یادو سیالیو په لومړیو دوه لوبو کې افغان اتلانو د بې‌سارو لوبو پر مټ سیالې سوېالي افریقا لوبډلې ته ماتې ورکړې او د یادې لوبډلې پر وړاندې یې تاریخي بریاوې خپلې کړې.

دا د افغانستان د کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل و چې افغان کرکټ ملي لوبډله په رسمي نړیوالو سیالیو کې سویلي افریقا ته ماتې ورکوي. له دې وړاندې د دواړو لوبډلو ترمنځ پینځه نړیوالې لوبې شوې وې چې پکې دوه نړیوالې یو ورځنۍ او ۳ نړیوالې شل اوریزې لوبې شاملې وې چې په ټولو سیالیو کې سیالې سوېلي افریقا لوبډلې بریاوې خپلې کړې وې.

## د افغانستان او سوېلي افريقا ترمنځ د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لوبیز راپور

د افغانستان او سوېلي افريقا ترمنځ د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د لوبلړۍ لومړۍ لوبه د سپتمبر میاشتې په ۱۸مه نېټه د متحده عربي اماراتو په شارجه کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه. په دغه لوبه کې سوېلي افريقا لوبډلې لومړۍ د




توپوهنې پرېکړه وکړه، خو افغان اتلانو د فضل الحق فاروقي، غضنفر او راشد خان د بهترینې توپ اچونې پر مټ یوازې تر ۱۰۶ منډو ایساره کړه. افغان لوبډلې که څه هم په توپوهنه کې ښه پیل ونه کړ او لومړۍ درې ویکټې یې ژر له لاسه ورکړې، خو ګلبدین نایب او عظمت الله عمرزي خورا ښه ملګرتیا وکړه او د افغان لوبډلې ته یې ستره تاریخي بریا ور په برخه کړه. فضل الحق فاروقي چې په دغه لوبه کې یې



ښه توپ اچونه کړې وه او په ۷ اورونو کې د ۳۵ منډو په بدل کې ۴ ویکټې ترلاسه کړې وې؛ د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.
دویمه لوبه کې بیا افغان لوبډلې لومړی د توپوهنې پرېکړه وکړه. افغان پیلیز توپوهونکو ښه توپوهنه پیل کړه چې په ترخ کې یې رحمن الله ګربز بهترینه سلیزه جوړه کړه. دا په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د نوموړي اوومه سلیزه وه او په دې



ورځ لومړی افغان لوبغاړی شو چې د لوبې په دې بڼه کې ۷ سلیزې جوړوي. (اوس‌مهال د ګربز د سلیزو شمېر ۸ ته رسېدلی دی.) د نوموړي ترڅنګ عظمت الله عمرزي ۸٦ او رحمت شاه زرمتي ۵۰ منډې جوړې کړې چې پرمټ یې افغان اتلانو سیالې سوېلي افریقا لوبډلې ته د ۳۱۲ منډو هدف ورکړ.

افغان لوبډلې د یاد هدف په دفاع کې د راشد خان او ځوان ننګیال خروټي د غوره توپ اچونې پرمټ سیاله لوبډله یوازې په ۱۳۴ منډو له ډګره بهر کړه او د ۱۷۷ منډو په ستر توپیر یې سیالې لوبډلې ته ماتې ورکړه. دا هغه مهال، په منډو کې د توپیر له حسابه په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د افغان اتلانو تر ټولو ستره بریا شمېرل کېده. په دې بریا سره د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د سوېلي افریقا پر وړاندې دویمه بریا هم ثبت کړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې لومړی دوه اړخیزه لوبلړی په خپله ګټه پای ته ورسوله.

درېیمه لوبه د سپتمبر میاشتې په ۲۲مه نېټه وشوه، د درېیمې لوبې لپاره په

افغان لوبډله کې يوه ځوان توپوهونکي عبدالمالک ته هم موکه ورکړل شوې وه چې دا يې په نړيوال کرکټ کې لومړنۍ يو ورځنۍ لوبه وه. د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې که څه هم د لوبړی وروستۍ لوبه سيالي سوبلي افريقا لوبډلې ته وبايلله، خو په لومړيو دوه سياليو کې يې د برياو په خپلولو سره د دغې لوبړی جام ۲-۱ په خپل نوم کړ.




## مالي ملاتړي او همکاران

د افغانستان کرکټ بورډ د سوبلي افريقا پر وړاندې د درې نړيوالو يو ورځنيو سياليو لپاره له ګڼ شمېر مخکښو ملي او نړيوالو مالي ملاتړ کوونکو کمپنيو سره تړونونه لاسليک کړل. پهدې لړ کې د افغانستان مشهورې مخابراتي شبکې اتصالات افغانستان د يادو سياليو لپاره د ملي لوبډلې د مخکښ مالي ملاتړي حقوق تر لاسه کړل. همدارنګه، د هېواد بل مشهور شرکت سوپرکولا څښاک توليدي کمپنيو ګروپ ته د سياليو د (پاوردبای) مالي ملاتړي حقوق ورکړل شول. سربېره پر دې، مرحبا د موټرو نندارتون، کاردان پوهنتون، او افغان ملي بانک د يادو سياليو د مرستيال مالي ملاتړو حقوق خپل کړي و. د دې ټولو ترڅنګ، فايربرډ ورزشي مديريتي شرکت د يوه اوږدمهاله تړون له مخې د يادو سياليو د رسنيز توليد او خپراوي په برخه کې په نړيواله کچه د افغانستان کرکټ بورډ همکار و.

## د سیالیو رسمي خپروونکي چېنلونه:

د افغانستان کرکټ بورډ او فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه شرکت د افغانستان او سوېلي افریقا ترمنځ د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو نشراتي حقوق په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو چېنلونو وپلورل. د دغو سیالیو د خپراوي حقوق په افغانستان کې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون او اتصالات



ته ورکړل شوي وو چې له مخې یې ملي راډیو تلویزیون په تلویزیون او اتصالات د خپل انلاین اپلیکیشن له لارې دغه سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړې. د دې ترڅنګ دغه سیالۍ په سوېلي افریقا کې سوپر سپورټس (Super Sports)، په پاکستان کې جیو سوپر(Geo Super) او ټپ مډ (Tap Mad) او په هند کې یورو سپورټس (Euro Sports) او فنکوډ (Fancode) نشر کړې. دغه راز په مالدیف او بوتان کې هم یورو سپورټس (Euro Sports)، په کاناډا او امریکا متحده ایالاتو کې ویلو تلویزیون (Willow TV)، په بنګله دېش، سرېلانکا، هانګ کانګ او نیپال کې ستېکس سپورټس (STYX Sports)، په منځنۍ ختیځ او شمالي افریقا کې کرک بز (Cric Buzz)، د اسیا په پاتې ملکونو کې ویلو تلویزیون (Willow TV) او په نوره نړۍ کې د افغانستان کرکټ بورډ له یوټیوب چینل په ژوندۍ بڼه خپرې شوې.

## د ټولنیزو رسنیو پراخ پوښښ:

د پراخ تلویزیوني پوښښ ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو د افغانستان او سوېلي افریقا ترمنځ یادو درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو ته خورا غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیل وړاندې د لوبډلې د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې او نور موارد په منظم ډول نشر او یادو سیالیو په خورا ښه توګه کمپاین وشو. د سیالیو په لړ کې د لوبو تازه حال په انځوریز او ویډیویي بڼه په ښه ډول وړاندې شو. له

پروډکشن کمپنۍ سره د ترون له مخې د یادو سیالیو تازه کلیپونه او د سیالیو غوره او لنډې شېبې (هایلایټس) په منظمه توګه د افغانستان کرکټ بورډ له رسمي فېسبوک، ټویټر، انسټاګرام، تریډز، وټس‌اپ چېنل او ټیکټاک پاڼې ترڅنګ په یوټیوب چېنل هم نشر شول چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول چې هره ویډیو یې سلګونه زره لیدونکو ننداره کړه.




دغه راز د یادو سیالیو په لړ کې د افغانستان د ښکلو سیمو زړه راښکونکي ویډیویي کلیپونه مکرراً نشر شول چې ورسره د لوبو د غوره او جالبو شېبو ترڅنګ د افغانستان طبیعي ښکلا او منظرې هم په نړیواله کچه خپرې شوې.

د سوېلي افریقا لوبډلې ښه راغلاست او مېلمستیا:

د افغانستان او سویلي افریقا ترمنځ د سیالیو له پیل درې ورځې وړاندې سویلي افریقا لوبډله متحده عربي اماراتو ته ورسېده، چېرته چې د افغانستان کرکټ بورډ د یادې لوبډلې د مېلمه پالنې مسوولیت درلود. د دې لپاره چې د دغې لوبډلې ښه راغلاست په یادګاري ډول وشي، په افغاني ملي لباس ملبس ماشومان د افغانستان کرکټ بورډ د چارواکو په ملتیا د دوی د هرکلي لپاره چمتو ول او له راتګ سره سم یې ورته تازه ګلان ډالۍ کړل.

سربېره پر دې، د سیالیو پر مهال افغانستان کرکټ بورډ د هېوادني دود او دستور په پام کې نیولو سره د سوېلي افریقا لوبډلې لپاره ځانګړې مېلمستیا جوړه کړه. په دې ماښامنۍ مېلمستیا کې افغان لوبغاړو خپلو سیالانو ته د افغاني لاسي اوبدل شویو قالینو ترڅنګ افغاني زعفران او د هېواد مشهوره وچه مېوه ډالۍ کړه.

د افغان ماشومانو له خوا په افغاني ملي لباس کې د سوېلي افریقا لوبډلې هرکلی او ورته د هېواد د دودیزو ارزښتونو په اساس مېلمستیا براېرول د افغانانو د مېلمه پالنې د ستر فرهنګ د ښودلو لپاره اغېزمن ګام و. د افغانستان کرکټ بورډ دغه نوښت د ګڼ شمېر نړیوالو رسنیو پام ځان ته واړاوه او په نړیواله کچه د کرکټ مینوالو او څارونکو له لوري وستایل شو.

# MOHAMMAD NABI



Born: January 1st, 1985 - Logar | Age: 38 | Playing Role: Allrounder

Bat: Right Hand Bat | Bowl: Right Arm Offbreak | Cricket Debut: 2008

## Batting Stats

| Format | Matches | Runs | Average |
|---|---|---|---|
| Tests | 3 | 33 | 5.50 |
| ODI | 170 | 3618 | 27.40 |
| T20I | 132 | 2237 | 22.59 |
| T20 | 422 | 6089 | 21.14 |

## Bowling Stats

| Format | Matches | Wkts | Average |
|---|---|---|---|
| Tests | 3 | 8 | 31.75 |
| ODI | 170 | 172 | 32.47 |
| T20I | 132 | 97 | 28.14 |
| T20 | 422 | 361 | 24.82 |

## Teams & Leagues Joined Internationally

- Afghanistan
- Indian Premier League
- Bangladesh Premier League
- Abd Dhabi T20
- Lanka Premier League
- Caribbean Premier League
- Pakistan Super League
- Second Eleven Championship
- Big Bash League
- Marylebone Cricket Club
- County Championship Division One
- County Championship Division Two
- International League T20
- The Hundred Men's Competition
- Marylebone Cricket Club Young Cricketers

## Captaincy

| Format | Matches | Won |
|---|---|---|
| ODI | 28 | 13 |
| T20I | 35 | 16 |

## Fans on Social Media

4.7M | 618K | 2M

## Bests in all Formats - Batting

| 100s | 50s | 4s | 6s | Highest Score | Average |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | 40 | 820 | 516 | 136 | 19.15 |

## Bests in all Formats - Bowling

| Wkts | Ave | Economy Rate | Strike Rate | Best Bowling |
|---|---|---|---|---|
| 638 | 27.80 | 5.33 | 39.52 | 5/15 |

محمد نبي

په نړیوال کرکټ کې

۳۰۰

لوبې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ستر نوم او ځلانده ستوري محمد نبي عیسی خېل په نړیوال کرکټ کې ۳۰۰ لوبې بشپړې کړې او لومړنی افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.

محمد نبي د افغان کرکټ تاریخ یو له بنسټیزو ستنو او د ملي لوبډلې یو له لومړنیو اتلانو څخه دی. هغه په داسې وخت کې د هېواد لپاره لوبې پیل کړې چې کرکټ په افغانستان کې تازه تازه وده کوله او ملي لوبډلې یوازې د کرکټ نړیوالې شورا دریمه درجه غړیتوب ترلاسه کړی و.

نبي د افغانستان د کرکټ په لومړیو سختو پړاوونو کې د لوبډلې یو مهم غړی و او له دې وړاندې چې افغان لوبډله رسمي نړیوالې سیالۍ پیل کړي، نوموړی د ډېروژن سیالیو پر مهال هم د افغان لوبډلې په ګټه لوبېده. محمد نبي خپله لومړنۍ رسمي نړیواله لوبه په ۲۰۰۹ کال کې وکړه، هغه مهال چې افغان لوبډله د ۲۰۱۱ نړیوال جام لپاره د غوراوي پړاو سیالیو کې بوخته وه. افغان لوبډلې که څه هم هغه مهال نړیوال جام سیالیو ته لاره ونه مونده، خو د یو شمېر بریاوو په خپلولو سره یې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو دریځ ترلاسه کړ، چې دا د افغانستان د کرکټ په تاریخ کې یو ستر پرمختګ و.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې خپله لومړنۍ نړیواله لوبه د ۲۰۰۹ز کال د اپرېل میاشتې په ۱۹مه نېټه ترسره کړه، چې د ګڼ شمېر نورو افغان اتلانو ترڅنګ پکې محمد نبي هم د افغان لوبډلې برخه و. دغه لوبه د سکاټلنډ پر وړاندې ترسره شوه چې په ترڅ کې یې افغان لوبډلې نه یوازې دا چې سیالې لوبډلې ته ماتې ورکړې وه، بلکې همدغه افغان اتل محمد نبي د لوبې غوره لوبغاړی هم نومول شوی و.

محمد نبي له دې وروسته د نورو یوولسو کلونو لپاره د افغان لوبډلې له یوې یو ورځنۍ نړیوالې لوبې هم پاتې نه‌شو او د افغان لوبډلې په ګټه یې په پرله‌پسې توګه ۱۱۱ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې کړې. دا د افغان لوبغاړو ترمنځ ترټولو ډېرې مسلسلې لوبې دي او په نړیواله کچه ۱۳م مقام لري.

محمد نبي تر دې مهاله ۳ ټېسټ، ۱۷۰ نړیوالې یو ورځنۍ او ۱۳۲ نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړې دي. زمبابوې ته د افغان اتلانو د اوسنې سفر په ترڅ کې چې د ۲۰۲۴م کال په دسمبر میاشت کې ترسره شو، لومړۍ شل اوریزه نړیواله لوبه په توله کې د نوموړي ۳۰۰مه نړیواله لوبه وه چې د افغان لوبډلې په ګټه یې ترسره کړه. (اوس دغه شمېره ۳۰۵ ته رسېدلې ده.)

نوموړی اوسمهال د کرکټ نړیوالې شورا د لوبغاړو د درجه بندۍ له مخې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې تر ټولو مخکښ الرونډر شمېرل کېږي. نوموړي په ۱۷۰ یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۴۸ ځلې توپوهنه کړې چې د ۲ سلیزو او ۱۷ نیمه سلیزو پرمټ یې د څه باندې ۲۷ منډو په اوسط سره ۳۶۱۸ منډې جوړې کړې دي. دغه راز یې له ۱۳۲ نړیوالو شل اوریزو سیالیو په ۱۲۴ پاټیو کې توپوهنه کړې چې په ترڅ کې یې ٦ نیمه سلیزو پرمټ د نږدې ۲۳ منډو په اوسط سره ۲۲۳۷ منډې جوړې کړې دي.

محمد نبي په ټوله کې د افغان لوبډلې په ګټه په نړیوال کرکټ کې په ټوله کې د نږدې ۲۵ منډو په اوسط سره ۵۸۸۸ منډې جوړې کړې چې د افغان لوبغاړو له منځه تر ټولو ډېرې دي. سربېره پر دې محمد نبي په ۲۲۰ شپږیزو سره د شپږیزو په برخه کې هم د افغان لوبغاړو په سر کې ځای لري.

د افغانستان د کرکټ دغه بهترین الرونډر د توپوهنې ترڅنګ په توپ اچونه کې هم ځانګړی نوم لري او په نړیوال کرکټ کې یې د افغان لوبډلې په ګټه خورا ښه توپ اچونه کړې ده. نوموړي تر اوسه په نړیوالو سیالیو کې ۲۷۷ ویکټې هم ترلاسه کړې دي او یوازېنی افغان لوبغاړی دی چې په نړیوال کرکټ کې یې د افغانستان په ګټه له ۵۰۰۰ ډېرې منډې او له ۲۰۰ ډېرې ویکټې ترلاسه کوي. سربېره پر دې محمد نبي د ډګرساتنې په برخه کې هم له سترې وړتیا برخمن دی. نوموړي په ۳۰۴ نړیوالو پاټیو کې ۱۵۵ کېچونه اخیستي دي چې دا هم د افغان لوبغاړو له منځه تر ټولو ډېر دي.

محمد نبي د نړیوال کرکټ سربېره په سوداګریزو سیالیو کې هم د نړۍ په ټولو سترو لیګونو کې لوبېدلی دی او تر اوسه یې د پام وړ لوبې کړې دي.

نوموړي تر دې مهاله ۴۲۰ شل اوریزې لوبې کړې چې ۳٦۱ ویکټې یې پکې ترلاسه کړې او دغه راز یې ٦۰٦۸ منډې جوړې کړې دي. نوموړی اوسمهال څه باندې ۴۰ کاله عمر لري او د نړۍ په کچه یو له ډېر عمر لرونکو لوبغاړو شمېرل کېږي، خو دا چې خواري او محنت ډېر کوي او خپل فزیکي تکړښت ته ځانګړې پاملرنه کوي، له همدې امله هم تر ډېره په نړیوال او سوداګریز کرکټ کې پاتې دی او هم یې کارکردګي ډېره ښه ده.

دغه راز نوموړی خپلې سختې خوارۍ او فزیکي تکړښت ته په ځانګړې پاملرنې سره کولی شي چې د راتلونکو څو نورو کلونو لپاره هم د افغانستان لپاره په نړیوال کرکټ، په ځانګړې ډول په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ولوبېږي او هېواد ته لا ډېر ویاړونه راوړي.

# بېلابېلو ولايتونو کې
# د لوبغالو او روزنځايونو
## د رغونې او بيارغونې ترسره شوې پروژې





د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې د لوبغالو، روزنځايونو او ودانيو د رغونې او بياغونې چارې رواني دي چې ځينې يې په بشپړه توګه ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي. يادې چارې چې د افغانستان کرکټ بورډ د انجنيرۍ څانګې له لوري ترسره کېږي؛ پکي د کابل، ميدان وردګ، ننګرهار، لغمان، کابل، خوست، پکتيکا، لوګر، بلخ، کندوز، تخار، بدخشان، کندهار او زابل ولايتونو اړوند لوبغالو او روزنځايونو (اکاډميو) باندې د رغونې او بيارغونې چارې پيل شوې چې د ځينو پروژو کارونه بشپړ او د ځينو نورو به په نږدې



راتلونکي کې پای ته ورسېږي او ګټې اخيستنې ته به وسپارل شي.

### مرکزي زون / بند امير زون

د افغانستان کرکټ بورډ انجنيرۍ څانګې په کابل ولايت کې يو شمېر رغنيزې پروژې ترسره کړې چې پکې د کرکټ بورډ مرکزي دفتر کې د غونډو تالار جوړول، د ګودام خونې جوړول، کرکټ لوبغالي کې د پروډکشن کمرو لپاره ستېنډونه جوړول شامل دي. همدارنګه د کابل احمدشاه بابا مېنه کې د بند امير زون ( کابل، پروان، پنجشير، کاپيسا او ميدان وردګ، باميان، دايکندي) لوبغاړو لپاره اکاډمي/ روزنځای ورغول شو.

ياده اکاډمي يوه خصوصي اکاډمي ده چې د کرکټ بورډ له لوري د درېيو کلونو لپاره اجاره او ورغول شوه. دغه اکاډمۍ کې شپږ شنه او درې چيسي ويشتنځايونه په اساسي ډول ورغول شول او دغه راز د ځمکې د هوارۍ، شنه کولو، جالونو او احاطې کارونه يې هم ترسره شول. په د ياد زون د ټولو ولايتونو لوبغاړي وکولی شي، خپلو تمريناتو ته د کرکټ بورډ د روزونکو او ترېنرانو د روزنې لاندې دوام ورکړي.



دغه راز د بند امير زون اړوند ميدان وردګ ولايت کې هم د يو روزنځای يا اکاډمۍ چارې ترسره شوې چې پکې د ځمکې هوارې، شنه کولو، اوبه کولو شبکې او ۴ ويشتنځايونو جوړول شامل دي.

### سپين غر زون

د سپين غر زون په ننګرهار کې د غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي پويلين ودانۍ په اساسي ډول ورغول شوه. دغه راز په نجيب الله تره کي کرکټ لوبغالي

کې د ځلورو مخکېنيو ويشتنځايونو ترڅنګ درې نور ويشتنځايونه جوړ او د لوبغالي احاطوي جال نصب شو او د لوبغالي ځلورو خواوو ته ځمکې هواري او يو ګودام جوړشو. دغه راز په راتلونکي کال کې به په ياد لوبغالي کې د پويلين وداني او نندارچيانو لپاره د ناستې ځوکۍ هم جوړې شي.



همدارنګه په لغمان کرکټ لوبغالي کې هم رغنيزې پروژې ترسره شوې. د ياد لوبغالي لپاره د اوبو او لمريزې برېښنا سيستم ورغول شو. سربېره پر دې يې د ځمکې د هوارۍ، زرغونولو او ۷ ويشتنځايونو چارې بشپړې شوې.

## مس‌عينک زون

د مس عينک زون اړوند خوست ولايت کې د رحمت ولي مسرور کرکټ لوبغالي هواري او زرغونولو وروسته د ياد لوبغالي سره د لوبغاړو لپاره يو مېلمستون چې تېر کال يې چارې پيل شوې وې، اوس سرته ورسېدې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. ياد مېلمستون چې په عصري ډول رغول شوی، ۱۵ د اوسېدو اطاقونه، تشنابونه، پخلنځی او د اړتيا وړ نورې اسانتياوې لري.

د خوست کرکټ لوبغالي ترڅنګ بايد د اکاډمۍ يادونه هم وکړو چې د خوست کرکټ اکاډمۍ لپاره د دفتر جوړولو، د لوبغاړو د لباس بدلولو اطاقونه، تشنابونه او د احاطوي دېوال چارې بشپړې او په بوره ډول ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

په دې زون کې د پکتيکا ولايت کرکټ لوبغالي ترڅنګ د يو معياري روزنځای (اکاډمي) رغنيزې چارې هم



پيل شوې. په دغه روزنځای کې به د ځمکې د هوارۍ او زرغونولو سربېره دوه شنه او دوه د چيسو ويشتنځايونه جوړ شي.

## بُست زون

د بست زون په کندهار او زابل کې د کرکټ لوبغالو او روزنځايونو بيارغونې پروژې ترسره شوې. په دې لړ کې د کندهار په اکاډمۍ کې د مخکېنيو ځلور ويشتنځايونو سره ځلور نوي ويشتنځايونه جوړ شول چې دوه يې خاورين او دوه يې چيسي دي. دغه راز په دې اکاډمۍ کې د لباس بدلولو خونه، محافظوي جال او تشنابونو پروژې هم پيل شوې، ترڅو لوبغاړو ته لا ډېرې اسانتياوې رامنځته شي.

په زابل ولايت کې هم د کرکټ لوبغالي پويلين او لباس بدلولو خونې رغنيزې پروژې پېل شوې او د لوبغالي اړوند اکاډمي به هم په کيبلي سيستم ورغول شي او ترڅنګ به يې د اوبو يوه منظمه شبکه جوړه شي.

## امو زون

د افغانستان کرکټ بورډ انجنيرۍ



څانګې له لوري د هېواد شمال يا امو زون کې هم يو شمېر پروژې پيل شوې. په دې لړ کې په بلخ، تخار او بدخشان ولايتونو کې د يادو ولايتونو د کرکټ سره علاقه لرونکو ځوانانو لپاره معياري اکاډمۍ جوړېږي چې پکې د ځمکې هوارې، زرغونولو، احاطې او ۴ ويشتنځايونو جوړول شامل دي چې دوه به يې چيسي او دوه خاورين وي.

دغه راز په کندوز کې د کندوز کرکټ لوبغالي د پويلين د دويم منزل چارې هم پيل شوې چې په لنډ وخت کې به پای ته ورسېږي. دغه پروژه به د کورنيو سياليو پرمهال د تخنيکي کارکوونکو لپاره ګټوره ثابته شي.



# کرکټ کې داسې هم شوي

د کرکټ له پیل تر دې مهاله که په هره لوبه کې نه وي، خو په یوه لوبلړۍ کې حتماً ریکارډونه یا کارنامې جوړېږي. د کارنامو د جوړولو دغه لړۍ به تر هغه وخت روانه وي چې تر څو د کرکټ لوبه روانه وي. د کرکټ په نړۍ کې ځینې داسې کارنامې شوي دي چې باید ولیکل شي او بیا بیا یې یادونه وشي چې ځینو ته یې په لاندې ډول اشاره کوو.

### ۱: کپیل دیو په ټول لوبیز ژوند کې رن اوټ نه‌شو یا (د منډې پر مهال ویکټ له لاسه ورنکړه)

کپیل دیو د هندوستان پخوانی لوبډلمشر او ټولچاری لوبغاړی و. نوموړي د هندوستان په ګټه په ۱۳۱ ټېسټ لوبو کې ۴۳۴ ویکټې اخیستې او همدارنګه یې په ۲۲۵ یو ورځنیو لوبو کې ۲۵۳ ویکټې اخیستې وې. سربېره پر دې نوموړي په ټېسټ کرکټ کې ۵۲۴۸ او په یو ورځنیو لوبو کې ۳۷۸۳ منډې کړې وې. نوموړي دغه راز نهه سلیزې او ۴۱ نیمه‌سلیزې هم په خپل نوم ثبت کړې دي. هغه په ۱۶ کلن لوبیز ژوند کې هیڅکله هم رن اوټ نه‌شو. د کپیل دیو په اړه ویل کېږي چې هغه به د ډېر ساتونکې د سترګو لاندې منډې غلا کولې. د کرېکټ په نړۍ کې نور داسې نمونه هم شته؛ خو موږ د بېلګې په ډول دلته یوازې کپیل دیو یاد کړی دی.

### ۲: له کومې منډې ورکولو پرته د باپو نادکارني پرله پسې ۲۱ اورونه

باپو نادکارني د هندوستان پخوانی کیڼ لاسی ورو توپ اچوونکی و. نوموړی د ۱۹۵۵ز څخه تر ۱۹۶۸ز کلونو ترمنځ د هندوستان په ګټه ولوبېده او یوازې ۴۱ ټېسټ لوبې یې وکړې. باپو نادکارني په ۱۹۶۴ز کال کې د انګلستان پر وړاندې لوبه کې ۲۱ پرله‌پسې اورونه پرته له کومې منډې ورکولو وکړل. هغه په ټوله کې ۳۲ اورونه وکړل، ۲۷ یې د منډې ورکولو پرته وکړل او یوازې ۵ منډې یې ورکړې. کېدای شي په اوسني ټېسټ کرېکټ کې په یوه لوبه کې یو لوبغاړی دومره اورونه نه وي مېډن کړي.

### ۳: ویوین ریچارډز هغه کس چې هم یې د کرکټ نړیوال جام ولوباوه او هم د فوټبال

ویوین ریچارډز د ویسټ انډیز لوبغاړی و. نوموړي ۱۷ کاله د ویسټ انډیز لپاره کرېکټ وکړ چې په خپل لوبیز ژوند کې یې دوه ځلې د هغې لوبډلې برخه و چې ویسټ انډیز د یو ورځنیو لوبو پرله‌پسې نړیوال جامونه وګټل. ریچارډز ۳۶ سلیزې په ټېسټ او یو ورځنیو لوبو کې هم په خپل نوم ثبت کړې دي. نوموړي دغه راز په ۱۹۷۴ز کال کې د انټیګوا لپاره د فوټبال نړیوال جام لپاره د کوالیفای لوبې هم وکړې او په ۱۹۷۵ز او په ۱۹۷۹ز کلونو کې یې د کرکټ د نړیوالو جامونو په لوبو کې هم لوبه وکړه. کېدای شي بل داسې لوبغاړی په سخته پیدا شي چې هم په کرکټ او هم په فوټبال کې د خپل هېواد استازیتوب وکړي.

### ۴: شیو ناراین چندرپال د ۱۰۰۰ توپونو په لوبولو بیا هم ناسوځېدلی پاتې شو

شیو ناراین چندرپال د ویسټ انډیز لپاره ۲۱ کاله نړیوال کرکټ وکړ. په خپل لوبیز ژوند کې یې ۴۱ سلیزې هم په خپل نوم ثبت کړې. په ۲۰۰۲ز کال کې د هندوستان لوبډلې په ویسټ انډیز کې له ویسټ انډیز سره د ټېسټ او یو ورځنیو لوبو لوبلړۍ لرله. نوموړي د هندوستان پر وړاندې په څلورو پاینو کې ۱۰۵۱ توپونه ولوبول او ناسوځېدلی پاتې شو. تر دې وخته کوم لوبغاړي دغه ویاړ تر اوسه نه دی اخیستی.

## ۵: په نړیوال جام کې د کمار سنګاکارا پرله‌پسې څلور سلیزې

کمار سنګاکارا د کرکټ د نړۍ هغه نوم دی، چې له سچن ټنډولکر وروسته یې په نړیوال کرکټ کې ډېرې منډې کړې. نوموړي ۱۵ کاله د سریلانکا لپاره کرکټ وکړ او په خپل لوبیز ژوند کې یې ۶۳ سلیزې په خپل نوم ثبت کړې. هغه ویکټ ساتونکی و، چې ټول یې ۷۲۳ کېچونه او سټمپونه هم کړي وو. د ۲۰۱۵ز یو ورځنیو لوبو نړیوال جام کې نوموړي پرله‌پسې څلور سلیزې ووهلې. د بنګله‌دېش پر وړاندې ۱۰۵، د انګلستان پر وړاندې ۱۱۷*، د استرالیا پر وړاندې ۱۰۴ او د سکاټلنډ پر وړاندې یې ۱۲۴ منډې وکړې. کېدای شي دغه کارنامه یا ریکارډ مات شي؛ خو ډېر وخت به واخلي.

## ۶: ټنډولکر، انکولا، شاهد سعید او وقار یونس په یوه ورځ نړیوال ټېسټ کرکټ پیل کړ

په ۱۹۸۹ز کال کې د هندوستان او پاکستان ترمنځ د لومړۍ ټېسټ لوبې پر مهال د هندوستان دوو لوبغاړو سلیل انکولا او سچن ټنډولکر او له پاکستان څخه شاهد سعید او وقار یونس خپلې لومړۍ ټېسټ نړیوالې لوبې پیل کړې. په دغو څلورو لوبغاړو کې یوازې ټنډولکر او وقار یونس نومونه ژوندي پاتې شول. ټنډولکر په ۲۰۰ ټېسټ لوبو کې ۱۵،۹۲۱ منډې او ۵۱ سلیزې وکړې او وقار یونس په ۸۷ ټېسټ لوبو کې ۳۷۳ ویکټې واخیستې.

## ۷: د راهول ډراوېډ او ټنډولکر عجیب ریکارډ

د هندوستان دوو مشهورو لوبغاړو راهول ډراوېډ او سچن ټنډولکر په ټېسټ لوبو کې د انګلستان پر وړاندې عجیب ریکارډ لري. دواړو ۷ ـ ۷ سلیزې وهلې دي، د منډو اوسط یې یو شان دی، د ټولو منډو شمېر یې هم یو شان دی او منډې یې هم یو شان دي. یوازېنی توپیر د دواړو ترمنځ د لوړو منډو دی.

| نوم | د لوبو شمېر | پاڼۍ | ناسو څېړلی | سلیزې | ټولې منډې | اوسط | لوړې منډې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| راهول ډراوېډ | ۷ | ۷ | ۲ | ۷ | ۹۸۲ | ۱۹۶.۴۰ | ۱۹۳ |
| سچن ټنډولکر | ۷ | ۷ | ۲ | ۷ | ۹۸۲ | ۱۹۶.۴۰ | ۲۱۷ |

## ۸: بدبخته لکشمن

وي، وي ایس لکشمن د هندوستان لپاره ۱۶ کاله نړیوال کرکټ وکړ. نوموړي په خپل لوبیز ژوند کې ۱۳۴ ټېسټ، ۸۶ یو ورځنیو او ۲۵ شل اوریزو نړیوالو لوبو کې د هندوستان استازیتوب وکړ. لکشمن ۲۳ سلیزې جوړې کړې؛ خو هېڅکله یې هم په نړیوال جام کې د خپل هېواد د استازیتوب موکه ورنه کړل شوه.

## ۹: مارک باوچر ۹۹۹ کېچونه او سټمپونه کول

مارکر باوچر د سویلي‌افریقا ویکټ ساتونکی توپوهونکی و. نوموړي د خپل هېواد په ګټه په ۴۶۷ نړیوالو لوبو کې ولوبېده. نوموړي په ۱۴۷ ټېسټ لوبو کې ۵۳۲ کېچونه او ۲۳ سټمپونه، په ۲۹۵ نړیوالو ورځنیو لوبو کې ۴۰۳ کېچونه او ۲۲ سټمپونه او په ۲۵ نړیوالو شل اوریزو لوبو کې ۱۸ کېچونه او یو سټمپ کړی دی او په ټوله کې یې ۹۹۹ لوبغاړي رخصت کړي دي. له نوموړي وروسته اډم ګېلکرېست، ایم.ایس ډوني او کمار سنګاکارا دي، چې ډېر کېچونه او سپټمپونه یې کړي دي.

## ۱۰: دولس ورځنۍ ټېسټ لوبه

د کرکټ پیل په ټېسټ لوبو شوی او د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۵ز کال کې د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام وشو چې هغه هم ۶۰ اورونه وو. په ۱۹۳۹ز کال کې د انګلستان لوبډله سویلي افریقا ته تللې وه. د دوی ترمنځ وروستۍ لوبه د مارچ په ۳مه نېټه پیل شوه او په ۱۴مه نېټه پای ته ورسېده.

سویلي افریقا په خپله لومړۍ پاڼۍ کې د خپلو ټولو لوبغاړو په له لاسه ورکولو سره ۵۳۰ منډې وکړې. انګلستان د سویلي افریقا پر وړاندې په خپله لومړۍ پاڼۍ ۳۱۶ منډې وکړې. سویلي افریقا په دویمه پاڼۍ کې د خپلو ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۴۸۱ منډې وکړې او انګلستان ته یې د ۶۹۶ منډو هدف کېښود.

انګلستان د پنځو ویکټو په زیان سره ۶۵۴ منډې وکړې او لوبه بې پایلې پای ته ورسېده. په دغه لوبه کې په دوو ورځو کې لوبغاړو ته استراحت ورکړل شو او یوه ورځ بېخي لوبه ونه‌شوه؛ خو د لوبې ګټونکی بیا هم معلوم نه‌شو. اوس‌مهال د ټېسټ لوبو لپاره پنځه ورځې ټاکل شوې او په همدې ورځ ګټونکی، بایلونکی او د لوبې مساوي کېدل هم معلومېږي.

حشمت الله شهيدي



# حشمت الله شهيدي

## د لوبډلمشر په توګه ۵۰ نړیوالې لوبې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د یو ورځنیو او ټېسټ سیالیو لوبډلمشر حشمت الله شهیدي د افغان لوبډلې لپاره په نړیوال کرکټ کې د لوبډلمشر په توګه ۵۰ نړیوالې لوبې بشپړې کړې. نوموړي تر دې مهاله په ۴۶ نړیوالو یو ورځنیو او ۵ ټېسټ سیالیو کې د افغان لوبډلې مشري کړې ده.

حشمت الله شهیدي په خپله مشرۍ کې له ۴۶ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو ۲۳ لوبې ګټلې، ۲۱ یې بایللې، دوه نورې سیالۍ بې پایلې پای ته رسېدلې دي او د بریا کچه یې ۵۰ سلنه ده. همدارنګه، نوموړي په ۵ ټېسټ سیالیو کې د افغان لوبډلې مشري کړې، چې یوه لوبه یې ګټلې، یوه یې بې پایلې پای ته رسېدلې، او درې نورې سیالۍ یې سیالو لوبډلو ته بایللې دي.

نوموړی په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې له اصغر افغان (۵۹ لوبې) وروسته دویم مخکښ لوبډلمشر دی چې په ډېرو (۴٦) سیالیو کې یې د افغان لوبډلې مشري کړې ده. دغه

# HASHMATULLAH SHAHIDI



راز نوموړی په پنځو ټېسټ سیالیو سره مخکښ افغان لوبډلمشر دی چې په ډېرو سیالیو کې يې د افغان لوبډلې مشري کړې ده.

د حشمت الله شهيدي په مشرۍ کې افغان لوبډلې په تېرو درې کلونو کې سترې لوبډلې له ماتو سره مخ کړې دي. افغان لوبډلې نه یوازې په ۲۰۲۳م کال کې د انګلستان، پاکستان او سریلانکا په څېر سترو لوبډلو ته ماتې ورکړې، بلکه له دې وروسته یې په دوه اړخیزو سیالیو کې هم غوره لوبې کړې او د سوېلي افريقا، بنګله دېش او زمبابوې لوبډلو ته ماتې ورکړې دي او د تېر ۲۰۲۴م کال راهیسې یې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو څلور پرلپسې لوبلړۍ په خپله ګټه پای ته رسولې دي.

افغان لوبډله به د روان ۲۰۲۵ کال په فبرورۍ کې د کرکټ نړيوالې شورا په چېمپينز ټرافي (اتلانو جام) سیالیو کې ګډون وکړي. د افغان لوبډلې بېسارو بریاو او لاسته راوړنو ته په کتو هیله مندي ډېره ده چې دا ځل به افغان لوبډله په دغو سترو سیالیو کې هم غوره لوبې ترسره کړي او هېواد ته به لا نور وياړونه راوړي.

# THE BEST
## DATA & VOICE ROAMING
## PLANS FOR




etisalat

0786786786


DRINK COLD
Super
Cola

# از خدمات کامل مخابراتی افغان تیلی کام مستفید شوید!

## خدمات انترنت:

- فایبرنوری
- FTTH (فایبر به خانه)
- P2P و P2MP
- DSL
- 4G/3G شبکه سلام



## خدمات مکالماتی:

- تیلیفون دیجیتل
- شبکه سلام
- پی فون (تیلفون های همگانی)
- E1 Link




Afghan Telecom
یگانه شرکت مکمل مخابراتی ملی

333
020 3330333
+93745 111 333
info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af

# د افغان ټیلي کام DSL انټرنټ

## نامحدوده کڅوړې

| کڅوړې | امتیازي (د شپې له 12 څخه د سهار تر 7) | بیه | د اعتبار موده |
|---|---|---|---|
| 3.5 Mbps | 7 Mbps | 1100 افغانۍ | 1 میاشت |
| 6 Mbps | 10 Mbps | 1600 افغانۍ | 1 میاشت |
| 8 Mbps | 10 Mbps | 2100 افغانۍ | 1 میاشت |
| 10 Mbps | 10 Mbps | 2500 افغانۍ | 1 میاشت |

## محدوده کڅوړې

| کڅوړې | سرعت | بیه | د اعتبار موده |
|---|---|---|---|
| 60 GB | 8 Mbps | 500 افغانۍ | 1 میاشت |
| 100 GB | 10 Mbps | 800 افغانۍ | 1 میاشت |
| 340 GB | 10 Mbps | 1100 افغانۍ | 1 میاشت |
| 600 GB | 10 Mbps | 1500 افغانۍ | 1 میاشت |
| 1000 GB | 10 Mbps | 2000 افغانۍ | 1 میاشت |
| 1400 GB | 10 Mbps | 2500 افغانۍ | 1 میاشت |
| 1100 GB | 10 Mbps | 3300 افغانۍ | 3 میاشت |
| 2000 GB | 10 Mbps | 4500 افغانۍ | 3 میاشت |

## کامبو کڅوړې

| | | | |
|---|---|---|---|
| 4.5 Mbps<br>د شپې له 12 څخه د سهار تر 7<br>8 Mbps | 1000 دقیقې خبرې<br>له ډیجیټل څخه ډیجیټل او سلام شبکې ته<br>100 دقیقې خبرې<br>له ډیجیټل څخه ټولو داخلي شبکو ته | 1200 افغانۍ | 1 میاشت |
| 400 GB<br>(سرعت 10 Mbps) | 1000 دقیقې خبرې<br>له ډیجیټل څخه ډیجیټل او سلام شبکې ته<br>100 دقیقې خبرې<br>له ډیجیټل څخه ټولو داخلي شبکو ته | 1200 افغانۍ | 1 میاشت |

- 24hr ICU
- General Medicine
- Cardiology & Open Heart Surgery
- Cath Surgery
  (Angiography & Angioplasty)
- Endo Urology & Laparoscopy
- Nephtology and Hemodialysis
- General & Minimal Access Surgery
- Orthopedic Surgery
  Knee Joint Replacement
- Gastroenterology and Hepatology
- Neurosurgery
- Oncology (Medical and Surgical)
- Obs/Gyn Including Infertility Care
- Pediatric Medicine & Surgery
- Pulmonology
- ENT(Ear, Nose, Throat)
- Dental Surgery & Orthodontics
- Plastic Surgery
- 24hr Emergency & Trauma Services

# Our Services:



Star Medical Complex
Save Health Save Life

## Message from Chairman!



Star Medical Complex was established in 2021, with a vision to build a first-class patient-focused service based on high-quality and evidence-based practice throughout the organization. And to provide this service as close to the patient as possible, in a well-managed and appropriate environment.

Our facility is located in an impressive area "between Barki Square and Parwan-e-du Square, 4th district, Kabul". Our hospital offers a variety of specialized services in OPD and IPD sections, surgical and medical ICUs along with a Cath Lab and semi-modular operation theaters. We have drawn experienced practitioners from abroad while maintaining a highly skilled nucleus of talented Afghan doctors and support staff.

In doing this we have established our focus on the quality of patient care and increasing accessibility to healthcare for all parts of Afghan society. This continues to be the mission that guides the management and ownership of Star Medical Complex Hospital.

By establishing this facility and continuing to invest in the development of the healthcare sector, we demonstrate our commitment to the well-being of Afghans and the building of a stronger, healthier, and better society.

To learn more about our healthcare network, I would invite you to visit our facilities soon and come often to witness the transformation of this sector.


+93 (0) 767 27 28 29
+93 (0) 728 27 28 29
info@smc.net.af
starmedicalcomplex1@gmail.com

www.smc.net.af
Between Baraki Square & Parwan -e- du, Kabul- Afg
بین چهارراهی برکی و پروان دو، کابل – افغانستان
Star Medical Complex

# بند امیر لوبډلې

## د قوش تېپې ملي شل اوريز جام اتلولي خپله کړه

د افغانستان د کورني کرکټ په مهالوېش کې نوي زياتې شوې ملي شل اوريز جام سيالۍ چې د قوش تېپې ملي پروژې په نوم نومول شوې وې، د ۲۰۲۴ز کال د مې مياشتې په لومړۍ نېټه پيل او د همدې مياشتې تر ۱۳مې نېټې پورې يې دوام ومومند چې د لومړي پړاو لوبو اتلولي يې د حشمت الله شهيدي په مشرۍ د بند امير زون لوبډلې خپله کړه.

بندامير لوبډلې له يوې خورا جالبې او هر اړخيزې لوبې وروسته د مس عينک زون لوبډلې ته د ۲۳ منډو په توپير ماتې ورکړه او د لومړي پړاو اتصالات وړاندې کوونکې افغان يونايټډ بانک – قوش تېپې ملي شل اوريز جام سياليو اتلولي يې په خپل نوم کړه.

يادې لوبې کابل کرکټ لوبغالي کې د پينځو زونونو د لوبډلو په






# قوش تپه ملي شل اوريز جام



ACB MEDIA

QOSH TEPA NATIONAL T20 CUP

FIXTURES #QTNT20CUP

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| APRIL 16 | BAND-E-AMIR | V | MIS-E-AINAK | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 16 | SPEENGHAR | V | BOST | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 17 | MIS-E-AINAK | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 17 | BAND-E-AMIR | V | SPEENGHAR | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 18 | BOST | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 18 | SPEENGHAR | V | MIS-E-AINAK | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 19 | SPEENGHAR | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 19 | BAND-E-AMIR | V | BOST | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 20 | BAND-E-AMIR | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 20 | MIS-E-AINAK | V | BOST | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 21 | BAND-E-AMIR | V | MIS-E-AINAK | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 21 | SPEENGHAR | V | BOST | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 22 | MIS-E-AINAK | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 22 | BAND-E-AMIR | V | SPEENGAHR | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 23 | BOST | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 23 | SPEENGHAR | V | MIS-E-AINAK | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 24 | SPEENGHAR | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 24 | BAND-E-AMIR | V | BOST | 2:00 PM | KANDAHAR |
| APRIL 25 | BAND-E-AMIR | V | AMO | 9:30 AM | KANDAHAR |
| APRIL 25 | MIS-E-AINAK | V | BOST | 2:00 AM | KANDAHAR |
| GRAND FINALE | | | | | |
| APRIL 27 | TEAM 1 | V | TEAM 2 | 11:00 AM | KANDAHAR |

ګډون ترسره شوې چې هره لوبډله پکې د نورو لوبډلو سره دوه- دوه ځل د سیالۍ ډګر ته ښکته شوه او په پای کې د جدول دوه مخکښو لوبډلو (بند امیر او مس عینک) پایلوبې ته لار ومونده چې بالاخره دغه په زړه پورې سیالۍ په کابل کرکټ لوبغالي کې د بند امیر لوبډلې په اتلولۍ پای ته ورسېدې.

د یادونې وړ ده چې د پایلوبې پچه د بند امیر لوبډلمشر حشمت الله شهیدي وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه. د دوی د توپوهوونکو له منځه کریم جنت د ۱۰۷ او بهار علي شینواري د ۳۲ چټکو منډو پر مټ وکولی شول مس عینک لوبډلې ته د ٦ وېکټو په زیان د ۱۹۷ منډو هدف وټاکي. د مس عینک له خوا توپ اچونه کې واحدالله ځدران د ۲۷ منډو، ضیاالرحمن شریفي د ۳۴، دولت ځدران د ۴۲ او محمد ریاض د ۲۷ منډو په ورکولو سره د سیالۍ لوبډلي ۱-۱ لوبغاړی له ډګره بهر کړ.

په توپوهنه کې د غوره پانۍ ترسره کولو وروسته بند امیر لوبډلې غوره توپ اچونه هم ترسره کړه او د مس عینک ټوله لوبډله یې د ۱۷۳ منډو جوړولو وروسته له ډګره بهر کړه او د قوش تېپې ملي شل اوریز جام پایلوبه یې د ۲۳ منډو په توپیر وګټله.

که څه هم د مس عینک له توپوهنکو شاهد الله کمال ۴۱، نوید عبید ۳۴ او ابراهیم ځدران ۲٦ منډې جوړې کړې، خو ویې نه شو کړای د بند امیر لوبډلې توپ اچوونکو پر وړاندې مقاومت وکړي چې په توپ اچونه کې بند امیر ته کریم جنت د ۳۴ منډو په ورکولو ۴، وفادار مومند د ۲۹ منډو په ورکولو ۲ او نجات مسعود د

# قوش تپه ملي شل اوریز جام



۵۱ منډو په ورکولو د مس عینک دوه لوبغاړي له ډگره بهر کړل چې په دې سره یې وکولی شول مس عینک لوبډلې ته د ۲۳ منډو په توپیر ماتې ورکړي.

د بند امیر لوبډلې ټولچاری لوبغاړی کریم جنت چې په توپوهنه کې یې ۱۰۷ منډې جوړې کړې او په توپ اچونه کې یې د ۳۴ منډو په ورکولو ۴ وېکټې ترلاسه کړې، د پایلوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

دغه راز محمدالله لوگري د ۱۱ ویکټو په ترلاسه کولو سره د دغو سیالیو د غوره ځوان لوبغاړي، واحدالله ځدراڼ د ۱۳ وېکټو په ترلاسه کولو د غوره توپ اچوونکي، حضرت الله ځاځي د ۳۱۰ منډو په جوړولو د غوره توپوهونکي، ابراهیم ځدراڼ د ۳۲۳ منډو په جوړولو له ټولو د غوره لوبغاړي او کریم جنت د ۱۹۷ منډو په جوړولو او ۱۰ وېکټو په ترلاسه کولو د دغه سیالیو د غوره الراونډر جایزې ترلاسه کړې.

د قوش تپې ملي شل اوریز جام په ترسره کولو سره د ملي لوبډلې د لوبغاړو ترڅنگ ځوان لوبغاړي خورا ښه وځلېدل او د مینه والو پام یې ځان ته راواړاوه. په دې برخه کې د ورو توپ اچونکي واحدالله ځدراڼ، ورو توپ اچوونکي محمدالله لوگري، چټک توپ اچوونکي فریدون داوودزي او ورو توپ اچوونکي اظهارالحق نوید یادونه کولی شو. همدا راز د توپوهنې په برخه کې د ځوان پیلیز توپوهوونکي محمد اکرم نوم یادولی شو چې سږ یې په لوړ سټرایک ریټ سره ځان د لوبو ځلورم

توپوهوونکی راوست.

د قوش تېپې ملي شل اوریز جام سیالۍ چې د افغان کرکټرانو او مینه والو لپاره یوه نوې تفریح او د ځلېدو موقع وه، ترڅنګ یې د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د مالي ګټې سرچینه هم وه. د یادو لوبو لپاره افغان یونایټېډ بانک د عمومي مالي ملاتړي په توګه له افغانستان کرکټ بورډ سره تړون درلود او همدا راز ملت سټیل پکې د مرستیال مالي ملاتړي په توګه ګډون درلود. دغه راز سټار روغتون په روغتیایي برخه کې او افغان ټیلي کام د قوش تېپې ملي شل اوریزو لوبو د مالي ملاتړو په نوملړ کې وو.

دا د کورني کرکټ په چوکاټ کې د قوش تېپې ملي شل اوریز جام لومړی پړاو و چې له دې وروسته به هر کال د ملي او کورني کرکټ د ستورو لوبغاړو په ګډون په خورا جوش او جذبو سره ترسره کېږي.




امو AMO

BAND E AMIR بند امیر

BOST بست

SPEENGHAR سپین غر

مس عینک MIS-E-AINAK






## د ځوانانو د فکري رغونې سالار او د افغانستان یو زړه سوانده سپین ږیری

# هغه څرنګه د ګڼ شمیر خلکو په زړونو کې ځای پیدا کړ؟

اروابښاد حاجي رضاخان (رضا خان کاکا) د حبیب الله خان زوی او د خان لمسي؛ په ۱۳۳۳ ه ش کال کې د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ د نرګسي په کلي کې د خان په دینداره او متدینه کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې وې. په یاده سیمه کې یې خاپوړې وکړې، لومړنۍ زده کړې یې وکړې، ټولنې ته یې د مینې پیغام ورساوه، د کرکټ او نورو ورزشونو استازولي یې وکړه، افغانستان یې خلکو ته تعریف کړ، ځوانانو ته یې د علم او زده کړو پیغام ورساوه؛ تر دې چې بیرته یې د خاپوړو کلي ته ځان ورساوه او هلته یې له نیمګړې نړۍ سره خدای پاماني وکړه.

هغه د ځوانۍ له ورځو د افغان ټولنې د پرمختګ او راتلونکي نسل د سالمې روزنې هیلې درلودې چې د دې ترڅنګ یې د شعر او ادب سره هم بې حده مینه وه. نوموړي خپلې زده کړې د ځمکنیو ولسوالۍ په عالي لیسه کې ترسره کړې، د لوړو زده کړو هیله یې درلوده، خو د ګڼو ستونزو له امله یې ونکړی شول چې لوړو زده کړو ته دوام ورکړي، بلکې مسافرۍ ته یې اړ کړ، ترڅو د خپلې کورنۍ لپاره حلاله نفقه پیدا کړي. اروابښاد رضاخان کاکا له خپل ولس او وطن سره بې حده مینه درلوده. تر دې چې له وطن سره زیاتې مینې دې ته اړ کړ چې له نورو افغانانو سره


Afghans' Bank | د افغانانو بانک | بانک افغان ها
ISLAMIC BANK
STEEL




خنګ په خنګ د هېواد د ازادۍ لپاره مبارزه وکړې او د شوروي يرغلګرو پر وړاندې د جګړې ډګر ته ښکته شي.

سربېره پر دې حاجي رضاخان کاکا په ۱۳۶۱ کال کې د حلالې مرۍ موندلو په موخه سعودي عربستان او بيا په ۱۳۷۵ کال کې متحده عربي اماراتو ته سفرونه وکړل او ډېره موده يې په يادو دواړو هېوادونو کې د مسافرۍ شپې ورځې تېرې کړې. اروابناد کاکا افغانستان ته له بېرته راګرځېدو سره سم د خدمتونو لړۍ له خپل کلي پيل کړه. نوموړي په خپل کلي کې د اوبو ډنډ او وياله جوړې کړې، تر څو د کلي خلک ورڅخه ګټه واخلي.

د پکتيا ولايت له ګڼ شمېر ځوانانو او مشرانو سره يې د هېواد د سمسورتيا لپاره نيالګي کېنول او د ژوند تر پايه يې دغه کمپاين پر مخ يوړ او تر دې چې د پکتيا ولايت د کرکټ ميدان کې يې هم چې په سپېره دښته کې پروت دی؛ بېلابېل نيالګي کېنول. دغه راز به رضاخان کاکا د تعليم، ښوونې او روزنې په ډګر کې د کمپاين لپاره تل هڅه کوله چې ځوانان او د ښوونځي زده کوونکي په کتابونو، کتابچو او قلمونو ونازوي.

بايد ووېل شي چې رضاخان کاکا په دې وروستيو کې په خپل کلي کې د يوه ښوونځي د جوړولو منظوري هم اخيستې وه چې له بده مرغه دا ارمان يې په ژوند پوره نه شو. هغه به همدارنګه تل له ملي پانګوالو سره ليدنې کولې او هغوی به يې هڅول چې په خپل وطن کې پانګونې وکړي، ترڅو هېوادوال مو د خپل وطن له توليداتو څخه ګټه واخلي او وطن مو د پرمختګ تر پولې ورسيږي.

مرحوم رضاخان کاکا سربېره پر دې د کرکټ اداري ترڅنګ د بدني روزنې او ورزش رياست او المپيک ملي کمېټې ته هم تلو، ترڅو د کرکټ، فوټبال، فوټسال، واليبال او داسې نورو ورزشي لوبو لوبغاړي وهڅوي او په ډاليو يې ونازوي او ځوانان به يې زده کړو او ورزش ته هڅول، ترڅو د تل لپاره له نشه يې توکو لېرې واوسي.

اروابناد حاجي رضاخان کاکا د نورو ورزشکارانو ترڅنګ ډېرې وخت د کرکټ لوبغاړو سره د تشويق په موخه متحده عربي اماراتو، هندوستان او پاکستان ته سفرونه وکړل. د افغانستان غوره استازيتوب يې وکړ او خپل لوبغاړي يې په هر حالت




کې وهڅول او غوړېدو ته یې پرېښبودل چې له امله یې د افغانستان کرکټ بورډ او خلکو له لوري د کرکټ د بابا نوم او لقب ترلاسه کړل.

اروابناد کاکا د مدني فعالیتونو، ورزشکارانو او زده کوونکو د هڅونې ترڅنګ د ژوند تر پایه د ادب لمن هم پرېښبوده. د ټولنې ستونزې به یې د شعر په جامه کې ټولنې ته وړاندې کولې. اروابناد کاکا ته خدای ج ښه فصاحت او بلاغت او فصیحه ژبه ورکړې وه. نوموړی د خپل ژوند (۷۰) پسرلي تېر کړل، چې بلاخره د مرګي خزان د ورېښبې ناروغۍ له امله د ژوند پاڼه وروربژوله او د ۱۳۰۳ هـ ش کال د سرطان میاشتې په ۱۳ نېټې د چهار شنبې په ورځ سهار ځلور بجې خپل روح پاک رب ته وسپاره او د چهارشنبې په ورځ مازدیګر ځلور بجې یې جنازه په خپلې پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

**انا لله وانا الیه راجعون**

د رضاخان کاکا روح دې ښاد وي او جنتونه یې نصیب شه
د مرحوم رضاخان کاکا همدا کړنې وې چې له امله یې پر ټولو هېوادوالو، د کرکټ او ورزش په مینه والو، ځوانانو او هېوادوالو ډېر ګران و او چېرې به یې هم چې نوموړی لیده نو عکسونه او انځورونه به یې ورسره اخیستل او مرحوم رضاخان کاکا به ټولو ځوانانو ته د زده کړو، ورزش او افغانستان ته د خدمت کولو نصیحت او خبرې کولې.

کله چې نوموړی له فاني نړۍ سره مخه ښه وکړه نو ټولو هېوادوالو پرې غمرازي ونېوده او د هېواد په ګوټ ګوټ کې یې فاتحه واخیستل شوه چې د لوبغاړو په ګډون ورته ټولو هېوادوالو دعاوې وکړې او نوموړی یې د هېواد یو مهربانه مشر، د ځوانانو یو زړه سواندی سالار او رهبر وباله.

باید وویل شي چې رضاخان کاکا (د کرکټ بابا) به تل د خلکو په فکرونو کې وي او د نوموړي خاطرې به تل د کرکټ او نورو ورزشونو له ځوانانو سره ژوندۍ پاتې وي، ځکه؛

چې پیدا شوې تا ژړل خلکو خندا کړه
داسې مړ شه چې ته خاندې خلک ژاړي




# پامير ليجنډز
## د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس
## لوبو اووم پړاو اتلولي وګټله

د اتصالات احمدشاه ابدالي څلور ورځنيو فرسټ کلاس سياليو د اووم پړاو لوبې چې په ننګرهار ولايت کې ترسره شوې؛ د پامير ليجنډز لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. پامير لوبډلې د پايلوبې په وروستۍ ورځ د ميوند اتلان لوبډلې ته د ۱۱۱ منډو په لوی توپير ماتې ورکړه او د لومړي ځل لپاره يې د اتصالات احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس لوبو اتلولي په خپل نوم کړه.



د اتصالات احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ لوبې د ۲۰۲۴ز کال د سپتمبر میاشتي په ۱۶مه نېټه د ننګرهار په غازي امان الله خان او نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالو کې پیل شوې او د اکتوبر میاشتي په ۲۵مه نېټه پای ته ورسېدې. په یادو سیالیو کې د پامیر لیجنډز، میوند اتلان، ماهیپر ستوري



او هندوکش سترایکرز لوبډلو ګډون درلود.

د یادو سیالیو په ګروپي پړاو کې د میوند اتلان او پامیر لیجنډز لوبډلې د زیاتو نمرو په خپلولو سره د دغو سیالیو پایلوبې ته لاره مونده، چې پایلوبه یې د پامیر لوبډلې په ګټه پای ته ورسېده.

د پامیر او میوند لوبډلو ترمنځ د پایلوبې پچه پامیر لیجنډز لوبډلې وګټله او لومړۍ یې خپله توپوهنه پیل کړه. یادې لوبډلې د لوبډلمشر رحمت شاه زرمتي ۸۳ او سهیل زرمتي ۴۱ منډو پر مټ لومړۍ پانۍ کې ۲۷۰ منډې ترسره کړې. بلخوا د میوند لوبډلې په توپ اچونه کې عرب ګل مومند ۴، یمین احمدزي ۳ او خلیل احمد ۲ ویکټې ترلاسه کړې.

د پامیر لوبډلې د ۲۷۰ منډو په ځواب کې میوند لوبډلې د خپلې توپوهنې لومړۍ پانۍ کې یوازې ۲۱۸ منډې جوړې کړې او ۵۲ منډې پورورې پاتې شوه. د دوی په ګټه افسر ځاځي ۷۱ او رحیم الله زرمتي ۴۸ منډې ترسره کړې. باید ووېل شي چې د پامیر لوبډلې په توپ اچونه کې فرید احمد ملک ۵ او بشیر احمد افغان ۴ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړل.

د لوبې په درېیمې پانۍ کې پامیر لوبډلې غوره توپوهنه ترسره کړه چې د ټولو لوبغاړو په تاوان سره یې ۳۰۴ منډې جوړې کړې او د ۳۵۷ منډو هدف یې سیالي لوبډلې ته وټاکه. د پامیر په توپوهنه کې عصمت عالم ۱۱۱، اکرام علیخېل ۵۶ او رحمت شاه زرمتي ۴۳ منډې جوړې کړې. په داسې حال کې چې د میوند په ګټه لوبډلمشر یمین احمدزي ۶ او خلیل احمد ۳ ویکټې ترلاسه کړې.

میوند اتلانو د پامیر لیجنډز لوبډلې د ۳۵۷ منډو هدف په ځواب کې د خپلو ټولو لوبغاړو په تاوان سره ۲۴۵ منډې جوړې کړې او د ۱۱۱ منډو په توپیر یې ماتې وخوړه. د میوند لوبډلې په ګټه صدیق پاچا ۶۴، افسر ځاځي ۵۹ او جمشېد ځدران ۳۷ منډې ترسره کړې. د ویلو ده چې د پامیر لوبډلې په توپ اچوونکو کې فرید احمد ملک ۵ او بشیر احمد افغان ۳ ویکټې



په خپل نوم کړې.
د پایلوبې په مراسمو کې د پامیر لیجنډز لوبډلې چټک توپ اچونکی فرید احمد ملک د ۱۰ ویکټو په ترلاسه کولو سره د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه خپله کړه. همدا راز د پامیر لیجنډز الراونډر عصمت عالم د ۷۲۳ منډو په جوړولو او ۱۲ ویکټو ترلاسه کولو سره د غوره توپوهونکي او غوره الراونډر (ټولچاري) لوبغاړي جایزې ترلاسه کړې.
دغه راز د پامیر لوبډلې چټک توپ اچونکي فرید احمد ملک د ۳۶ ویکټو په ترلاسه کولو د غوره توپ اچونکي او بشیراحمد افغان د ۳۰ ویکټو په ترلاسه کولو د سیالیو د ځوان لوبغاړي جایزې خپلې کړې.
باید ووېل شي چې د اتصالات احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ سیالۍ هر کال د څلورو لوبډلو پامیر لیجنډز، میوند اټلان، هندوکش سټرایکرز او ماهیپر سټوري ترمنځ ترسره کیږي، چې د ملي لوبډلې، ملي نولس کلنو او د کورني کرکټ پیاوړي لوبغاړي پکې لوبیږي.

















# Most Runs

### ISMAT ALAM

| M | INN | RUNS | HS | AVE | S.RATE | 100 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 7 | 612 | 263 | 122.40 | 70.91 | 3 | 0 |

### USMAN NOORI

| M | INN | RUNS | HS | AVE | S.RATE | 100 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 8 | 475 | 339 | 59.37 | 55.04 | 1 | 1 |

### AFSAR ZAZAI

| M | INN | RUNS | HS | AVE | S.RATE | 100 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 10 | 472 | 135 | 47.20 | 56.79 | 2 | 3 |

### BAHIR SHAH

| M | INN | RUNS | HS | AVE | S.RATE | 100 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 10 | 472 | 105* | 59.00 | 67.42 | 1 | 2 |

### NASIR JAMAL

| M | INN | RUNS | HS | AVE | S.RATE | 100 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 9 | 455 | 137 | 50.55 | 66.13 | 1 | 2 |

# Most Wickets

### YAMIN AHMADZAI

| M | INN | WKTS | BBI | AVE | E.COM | S.RATE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 10 | 27 | 8/13 | 9.81 | 2.23 | 26.33 |

### FARID MALIK

| M | INN | WKTS | BBI | AVE | E.COM | S.RATE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | 8 | 26 | 5/76 | 18.46 | 4.78 | 23.15 |

### ZIAUR RAHMAN

| M | INN | WKTS | BBI | AVE | E.COM | S.RATE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 8 | 24 | 6/63 | 18.12 | 2.90 | 37.37 |

### BASHIR AHMAD

| M | INN | WKTS | BBI | AVE | E.COM | S.RATE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 8 | 23 | 5/38 | 17.39 | 3.92 | 26.60 |

### ZAHIR KHAN

| M | INN | WKTS | BBI | AVE | E.COM | S.RATE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 8 | 19 | 5/128 | 37.94 | 4.84 | 47.00 |







# افغان اتلانو زمبابوې

## ته په درې واړو لوبړیو

## کې ماتې ورکړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د ۲۰۲۴م کال په دسمبر میاشت کې زمبابوې ته سفر وکړ ترڅو د کوربه لوبډلې پر وړاندې درې شل اوریزې، درې نړیوالې یو ورځنۍ او دوه ټېسټ لوبې ترسره کړي. افغان اتلانو کوربه زمبابوې لوبډلې ته لومړی د شل اوریزو سیالیو په لوبړۍ کې، له هغې وروسته د یو لړ بېسارو لوبو په پایله کې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبړۍ کې او بیا د خپل سفر په وروستیو کې د ټېسټ سیالیو په لوبړۍ کې هم ماتې ورکړې او د درې واړه لوبړۍ یې په خپله گټه پای ته ورسولې.

افغان لوبډلې د خپل سفر لومړۍ شل اوریزه نړیواله لوبه کوربه لوبډلې ته وبایلله، خو په دویمه لوبه کې یې خورا ښه

لوبه وکړه چې پرمټ یې د ۵۰ منډو په توپیر سیالي لوبډلې ته ماتې ورکړه او یاده لوبلړۍ یې په یوې-یوې بریا سره مساوي کړه.
په دغه لوبه کې افغان لوبغاړو لومړی توپوهنه وکړه او په لومړۍ پاڼۍ کې یې د درویش رسولي د نیمه سلیزې او عظمت الله عمرزي او ګلبدین نایب د غوره توپوهنې پرمټ د ٦ لوبغاړو په زیان سره ۱۵۳ منډې جوړې کړې.
افغان لوبډلې د یاد هدف په دفاع کې خورا ښه توپ اچونه هم وکړه او د سیالي لوبډلې ټول لوبغاړي یې په ۱۰۳ منډو له ډګره بهر کړل. راشد خان او نوین الحق په دغه لوبه کې ۳-۳، مجیب الرحمن ۲، فرید احمد ملک او عظمت الله عمرزی یوه-یوه ویکټ ترلاسه کړه چې پر مټ یې افغان اتلانو د ۵۰ منډو په توپیر بریا خپله کړه.
د دغې لوبلړۍ په وروستۍ او برخلیک ټاکونکې لوبه کې افغان لوبډلې د توپ اچونې پریکړه وکړه، چې د خورا غوره توپ اچونې پرمټ یې د کوربه زمبابوې لوبډلې ټول لوبغاړي په ۱۲۷ منډو کې له ډګره بهر کړل. د افغان اتلانو په ګټه لوبډلمشر راشد خان یو ځل بیا بهترینه توپ اچونه وکړه او ۴ ویکټې یې ترلاسه کړې.
دغه راز عظمت الله عمرزي، مجیب الرحمن او نوین الحق هم غوره توپ اچونه وکړه او هر یوه ۲ ویکټې واخیستې. افغان اتلانو د یاد هدف په ځواب کې ډېره ښه توپوهنه وکړه، دغه هدف یې درې توپه وړاندې د ۷ ویکټو په زیان بشپړ کړ او د شل اوریزو



نړیوالو سیالیو لوبلړۍ یې ۱-۲ په خپله بریا پای ته ورسوله. د افغان لوبډلې په ګټه تکړه لوبغاړي عظمت الله عمرزي ۳۴، ګلبدین نایب ۲۲ او محمد نبي ۲۴* ناسوځېدلې منډې جوړې کړې چې پرمټ یې افغان اتلانو له یوې خورا عالي لوبې وروسته د دغې لوبلړۍ اتلولي وګټله.

عظمت الله عمرزی چې د افغان لوبډلې په بریا کې یې ستره ونډه درلوده او په توپ اچونه کې یې د دوه ویکټو ترڅنګ په توپوهنه کې ۳۴ منډې هم جوړې کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. د نوموړي ترڅنګ د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه بنې لاسي چټک توپ اچوونکي نوین الحق هم د زمبابوې پر وړاندې لوبلړۍ کې ډېره ښه توپ اچونه وکړه او په دري لوبو کې یې ۸ ویکټې ترلاسه کړې چې پرمټ یې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو د لوبلړۍ غوره لوبغاړی ونومول شو.

د شل اوریزو نړیوالو سیالیو له پای ته رسېدو وروسته افغان اتلانو د دسمبر میاشتې په ۱۷مه نېټه د کوربه لوبډلې پر وړاندې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ پیل کړه. د دغې لوبلړۍ لومړۍ لوبه د ورښت له امله په ځنډ سره پیل شوه، خو په ځنډ له پیلېدو سره سره هم یوازې ۹.۲ اوره لوبه وشوه، چې پکې افغان توپ اچوونکو، په ځانګړې ډول ځوان عظمت الله عمرزي بهترینه توپ اچونه وکړه او په خپلو ۴.۲ اورونو کې یې د ۱۸ منډو په تویېر سره ۴ سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل.

کوربه لوبډلې په یادو ۹،۲ اورونو کې د خپلو ۵ لوبغاړو په زیان سره ۴۴ منډې جوړې کړې وې، چې یو ځل بیا باران پیل شو او دا ځل یې دومره دوام وکړ چې له امله یې لوبه بې پایلې پای ته ورسېده.

دوه ورځې وروسته په دویمه نړیواله یو ورځنۍ لوبه کې افغان اتلانو له یوې هر اړخیزې لوبې وروسته کوربه زمبابوې لوبډلې ته د ۲۳۲ منډو په ستر توپیر ماتې ورکړه. د دغې لوبې پچه





سیالې لوبډلې وګټله او لومړی یې افغان اتلانو ته د توپوهنې بلنه ورکړه. افغان لوبډلې د دغې لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې د خپلو ٦ لوبغاړو په زیان سره ۲۸٦ منډې جوړې کړې او سیالې لوبډلې ته یې د ۲۸۷ منډو هدف وټاکه. د افغان لوبډلې په ګټه صدیق الله اتل ۱۰۴، عبدالمالک ۸۴، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۲۹* او محمد نبي ۱۸ منډې جوړې کړې.

دا په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د صدیق الله اتل لومړنۍ سلیزه وشمېرل شوه. دغه راز بل تکړه ښي لاسي پیلیز توپوهونکي عبدالمالک هم په دې ورځ په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې خپله لومړنۍ نیمه سلیزه جوړه کړې وه. سربېره پر دې دواړو لوبغاړو د لومړۍ ویکټې لپاره د ۱۹۱ منډو ملګرتیا هم وکړه چې د لوبې په دې بڼه کې د لومړۍ ویکټې لپاره د افغان لوبډلې دریمه او په ټوله کې ۷مه اوږده ملګرتیا وه. حشمت الله شهیدي هم په دغه لوبه کې ۲۹ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې چې په توپوهنه کې یې درې څلوریزې هم شاملې وې. نوموړي په دې سره په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د خپلو څلوریزو شمېر هم ۲۰۰ ته ورساوه.

افغان اتلانو د خپل ۲۸۷ منډو هدف په دفاع کې بهترینه توپ اچونه پیل کړه او د سیالې لوبډلې لومړی لوبغاړی یې په لومړي اور کې له ډګره بهر کړ. افغان اتلانو لومړی د فضل الحق فاروقي او عظمت الله عمرزي او وروسته د غضنفر او نوید ځدراڼ د غوره اچونې پرمټ کوربه لوبډله له سختو ستونزو سره مخ کړه او د دویمې پاڼۍ په لومړیو ۱۵ اورونو کې یې د ۴۵ منډو په بدل کې ۷ سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل. افغان اتلانو پاتې ۳ لوبغاړي هم په نورو ۱۵ توپونو کې له ډګره ووېستل او په دې توګه یې سیالې لوبډلې ته د هغوی د ټولو لوبغاړو په بدل کې یوازې ۵۴

منډې ورکړې او د ۲۳۲ منډو په توپیر یې ستره ماتې ورکړه.

د زمبابوې پر وړاندې د افغان اتلانو د ۲۳۲ منډو په توپیر بریا په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د منډو له اړخه، د افغان لوبډلې تر ټولو ستره بریا وشمېرل شوه. له دې وړاندې افغان لوبډلې د روان کال په سپتمبر میاشت کې سوېلي افریقا ته د ۱۷۷ منډو په توپیر ماتې ورکړې وه، چې هغه مهال د لوبډلې تر ټولو ستره بریا وه. د افغان لوبډلې تکړه پیلیز توپوهونکی صدیق الله اتل چې په توپوهنه کې یې د ۱۰۴ منډو جوړولو ترڅنګ په ډګر ساتنه کې درې کېچونه هم ترلاسه کړي و، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.



د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړۍ کې له ۰-۱ مخکېوالي ترلاسه کولو وروسته افغان اتلان د همدې دسمبر میاشتې په ۲۱مه نېټه په دریمه او وروستۍ لوبه کې د سیالې لوبډلې پر وړاندې د لوبې ډګر ته ښکته شول. افغان لوبډلمشر حشمت الله شهیدي د وروستۍ لوبې پچه وګټله او د سیالې لوبډلې پر وړاندې یې د توپ اچونې پرېکړه وکړه. افغان لوبډلې د لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې بهترینه توپ اچونه وکړه او د سیالې لوبډلې ټول لوبغاړي یې په ۱۲۷ منډو له ډګره بهر کړل. د افغان لوبډلې په ګټه غضنفر ۵، راشد خان ۳، فرید احمد ملک او عظمت الله عمرزي یوه-یوه ویکټ ترلاسه کړه.






افغان اتلانو د یاد هدف په څواب کې ډېره ښه توپوهنه وکړه او د ۱۲۸ منډو دغه هدف یې په ۲۷م اور کې د خپلو ۲ لوبغاړو په زیان سره ترلاسه کړ چې پرمټ یې دغه لوبلړۍ ۰-۲ په خپله بریا پای ته ورسوله. د افغان لوبډلې په ګټه تکړه چپ لاسي پیلیز توپوهونکي صدیق الله اتل یو ځل بیا ښه وځلېده او ۵۲ منډې یې جوړې کړې. د نوموړي ترخنګ بل پیلیز توپوهونکي عبدالمالک ۲۹، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۲۰* او رحمت شاه زرمتي ۱۷ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې.

تکړه ښي لاسی ورو توپ اچوونکی غضنفر د ۵ ویکټو په ترلاسه کولو سره د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. د نوموړي ترخنګ ځوان چپ لاسي پیلیز توپوهونکي، صدیق الله اتل په دوه لوبو کې یې د یوې سلیزې او یوې نیمه سلیزې پرمټ ۱۵٦ منډې جوړې کړې او د لوبلړۍ غوره لوبغاړی ونومول شو.

د زمبابوې پر وړاندې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د لوبلړۍ په ګټلو سره، افغان اتلانو په روان کال کې پرله پسې شپږ لوبلړۍ په خپله بریا پای ته ورسولې. د افغان اتلانو د بریاو دغه لړۍ له مارچ میاشتې پیل شوه، کله چې افغان لوبډلې د یو ورځنیو او شل اوریزو سیالیو په لوبلړیو کې ایرلنډ ته ماتې ورکړې. له دې وروسته افغان اتلانو په سپتمبر کې د سوېلي افریقا پر وړاندې د یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ وګټله، په نومبر میاشت کې یې بنګله دېش ته په یو ورځنیو سیالیو کې ماتې ورکړه او د زمبابوې پر وړاندې د شل اوریزو او یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په لوبلړیو کې د بریاو په خپلولو سره یې د پرلپسې لوبلړیو د ګټلو شمېره شپږو (٦) ته ورسوله او دا ستره کارنامه یې په خپل نوم ثبت کړه.

د شل اوریزو او یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د لوبلړیو له ګټلو وروسته افغان اتلانو د دسمبر میاشتې په شپږمه نېټه د کوربه زمبابوې لوبډلې پر وړاندې خپله لومړۍ ټېسټ لوبه پیل کړه. دا لوبه د درې افغان لوبغاړو هر یوه صدیق الله اتل، عظمت الله عمرزي او غضنفر لپاره لومړنۍ ټېسټ لوبه وه چې پکې یې د هېواد د استازیتوب ویاړ ترلاسه کړ. افغان لوبډلې د دغې لوبې پچه وبایلله او سیالې لوبډلې لومړی توپوهنه پیل کړه چې څه کم دوه ورځې یې خپلې توپوهنې ته دوام ورکړ. سیالې لوبډلې په خپله لومړۍ پاڼۍ کې ۵۸٦ منډې جوړې کړې چې ترمنځ یې درې توپوهونکو سلیزې جوړې کړې.

افغان لوبغاړو د دویمې ورځې په وروستۍ برخه کې خپله توپوهنه پیل کړه، خو ژر یې خپل لومړي دوه لوبغاړي، صدیق الله اتل او عبدالمالک له لاسه ورکړل. له دې وروسته، رحمت شاه زرمتي او لوبډلمشر حشمت الله شهیدي له مسوولیته ډکه لوبه وکړه او د افغان لوبډلې په ګټه یې په سخت او مهم وخت کې لوبې ته راودانګل. دواړو لوبغاړو د لوبې په درېیمه ورځ د ټولې ورځې په ترخ کې توپوهنه وکړه او خپله ویکټ یې له لاسه ورنکړه. دا د ټېسټ کرکټ په تاریخ کې یوازې ۲٦م ځل شو چې دوه توپوهونکي د ټېسټ لوبې په یوه بشپړه ورځ توپوهنه کوي او خپلې ویکټې له لاسه نه ورکوي. دغه راز، دواړو لوبغاړو د ۳٦۴ منډو ملګرتیا وکړه چې د افغان لوبغاړو ترمنځ په ټېسټ سیالیو کې تر ټولو اوږده ملګرتیا ګڼل کېږي او په نړیواله کچه یې د اوږدو ملګرتیاو په لېسټ کې ۳۵م مقام خپل کړ.

رحمت شاه زرمتي په دې لوبه کې غبرګه سلیزه جوړه کړه او د




لوبې په څلورمه ورځ يې په ۲۳۴ منډو خپله ويکټ له لاسه ورکړه. دا په ټېسټ سياليو کې د نوموړي دويمه سليزه وه، خو لومړی ځل و چې غبرگه سليزه يې جوړه کړه. له نوموړي وروسته حشمت الله شهيدي له افسر خان ځاځي سره خپلې توپوهنې ته دوام ورکړ. شهيدي هم په دې لړ کې غبرگه سليزه جوړه کړه او په ۲۴۶ منډو له ډگره بهر شو. دا په ټېسټ کرکټ سياليو کې د شهيدي دويمه سليزه وه، خو جالبه دا ده چې خپلې لومړنۍ دواړه سليزې يې په غبرگو سليزو بدلې کړې او د ټېسټ کرکټ په تاريخ کې يوازې پنځم توپوهونکی شو چې دغه ځانګړې کارنامه په خپل نوم ثبتوي. حشمت الله شهيدي له وړاندې په ۲۰۲۱م کال کې هم د همدې زمبابوې لوبډلې پر وړاندې دويمه ټېسټ لوبه کې غبرگه سليزه جوړه کړې وه.

له دوی دواړو وروسته افسر خان ځاځی دريم افغان لوبغاړی شو چې په دغه ټېسټ لوبه کې يې سليزه جوړه کړه او په ۱۱۳ منډو له ډگره بهر شو. افغان لوبډلې په خپله لومړۍ پاڼۍ کې ۶۹۹ منډې جوړې کړې او د سيالې لوبډلې د لومړۍ پاڼۍ له ۵۸۶ منډو يې ۱۱۳ منډې مخکېوالی ترلاسه کړ. د زمبابوې پر وړاندې دغه ټېسټ لوبه کې د افغان لوبډلې ۶۹۹ منډې د ټېسټ کرکټ سياليو په يوه پاڼۍ کې د افغان لوبډلې تر ټولو ډېرې منډې وشمېرل شوې. دغه راز د لوبډلمشر حشمت الله شهيدي ۲۴۶ منډې د ټېسټ کرکټ سياليو په يوه پاڼۍ کې د افغان لوبغاړو له لوري تر ټولو لوړې منډې دي.

د دغې ټېسټ لوبې د وروستۍ ورځې دريمه برخه وه چې سيالې لوبډلې د خپلې توپوهنې دويمه پاڼۍ پيل کړه او د ورځې تر پايه



یوازې ۳۴ اورونه ترسره شول. سیالې لوبډلې د افغان لوبډلې د ۱۱۳ منډو پور خلاص کړ او د خپلو ۴ لوبغاړو په زیان سره یې ۱۴۲ منډې جوړې کړې چې لوبه بې پایلې پای ته ورسېده. د لوبې پایله ښايي بدله وی، خو د ځلورمې ورځې په دوه بشپړو برخو کې د دوامداره ورښت له امله لوبه ترسره نشوه. په دې توګه د دواړو لوبډلو ترمنځ لومړۍ ټېسټ لوبه بې پایلې پای ته ورسېده او د مهالوېش له مخې دویمه ټېسټ لوبه د جنورۍ میاشتې په دویمه نېټه پیل شوه.

د دویمې ټېسټ لوبې لپاره په افغان لوبډله کې ۵ بدلونونه راغلي و چې له منځه یې درې لوبغاړي، ریاض حسن، عصمت عالم او فرید احمد ملک د لومړني ځل لپاره په ټېسټ سیالیو کې لوبېدل. افغان لوبډلې د دغې لوبې پچه هم وبایلله خو دا ځل د توپوهنې بلنه ورکړل شوه، سیالې لوبډلې د لومړۍ توپ اچونې پرېکړه ښه ثابته کړه او د یوې غوره توپ اچونې پرمټ یې افغان لوبډلې ته په لومړۍ پاڼۍ کې د ټولو لوبغاړو په زیان سره یوازې ۱۵۷ منډې ورکړې. سیالې لوبډلې له غوره توپ اچونې وروسته په توپوهنه کې هم ښه لوبه وکړه او په خپله لومړۍ پاڼۍ کې یې ۲۴۳ منډې جوړې کړې او افغان لوبډله یې ۸٦ منډې پوروړې کړه.  د افغان لوبډلې په ګټه راشد خان ډېره ښه توپ اچونه وکړه او ۴ سیال لوبغاړي یې له ډګره وویستل. دغه راز یمین خان احمدزي ۳، فرید احمد ملک په خپله لومړنۍ ټېسټ لوبه کې ۲ او ضیاءالرحمن اکبر یوه ویکټ ترلاسه کړه.

افغان لوبډلې په خپله دویمه پاڼۍ کې هم ښه پیل ونکړ او د لوبې د دویمې ورځې تر پایه یې په ۴٦ منډو کې خپل درې لومړني لوبغاړي، ریاض حسن، عبدالمالک او لوبډلمشر حشمت الله شهیدي، له لاسه ورکړل. خو رحمت شاه زرمتي، چې له دې وړاندې یې په لومړۍ ټېسټ لوبه کې غبرګه سلیزه هم جوړه کړې وه، یو ځل بیا ډېر کلک ودرېد او سلیزه یې جوړه کړه. دا په ټېسټ کرکټ سیالیو کې د رحمت شاه زرمتي دریمه او د زمبابوې پر وړاندې دغه لوبلړۍ کې دویمه سلیزه وه چې د افغان لوبډلې په ګټه یې جوړه کړه.

د نوموړي ترځنګ ځوان توپوهونکي عصمت عالم، چې په خپله لومړنۍ ټېسټ لوبه کې لوبېده، هم بهترینه توپوهنه وکړه او د یوې خورا غوره توپوهنې په ترځ کې سلیزه جوړه کړه. نوموړي ۱۰۱ منډې جوړې کړې او لومړنی افغان لوبغاړی شو چې په خپله لومړنۍ ټېسټ لوبه کې سلیزه جوړوي. دواړو لوبغاړو د ۱۳۲ منډو ملګرتیا وکړه او افغان لوبډله یې څه نا څه له سخت حالت وویسته. د دوی دواړو ترمنځ د ۱۳۲ منډو ملګرتیا د ۷مې ویکټې لپاره د افغان لوبغاړو ترمنځ ترټولو لوړه شوه او د ابراهیم ځدراڼ او عبدالواسع نوري ترمنځ د ۳۴ منډو د پخوانۍ لوړې ملګرتیا ریکارډ یې مات کړ.

له دې وروسته عصمت عالم له راشد خان سره د ۵۰ منډو او بیا له یمین احمدزی سره د ۳۸ منډو له ملګرتیا وکړه چې پرمټ یې د افغان لوبډلې منډې ۳٦۳ ته ورسولې چې له مخې یې






له سیالي لوبډلې د ۲۷۷ منډو مخکښوالی ترلاسه کړ. د افغان لوبډلې په ګټه رحمت شاه زرمتي ۱۳۹، عصمت عالم ۱۰۱، راشد خان ۲۳، شاهدالله کمال ۲۲ او یمین احمدزي له نورو ډېرې ۱۹ منډې جوړې کړې.

د ۲۷۸ منډو هدف په دفاع کې افغان اتلانو بهترینه توپ اچونه پیل کړه او د سیالي لوبډلې لومړي څلور لوبغاړي یې په ۹۹ منډو له ډګره بهر کړل. سیالو لوبغاړو د پنځمې ویکټې لپاره د ۵۸ منډو ملګرتیا وکړه او داسې وخت و چې د پاتې ٦ ویکټو پرمټ یې ۱۲۰ نورو منډو ته اړتیا درلوده، ترڅو دغه لوبه په خپله ګټه پای ته ورسوي. راشد خان له دې وړاندې ۳ ویکټې ترلاسه کړې وې او دا مهال بیاځلې توپ اچونې ته راوګرځېد، پیاوړی توپوهونکی سکندر رضا یې له ډګره بهر کړ او سیاله لوبډله یې له ستونزو سره مخ کړه.

راشد خان خپلې غوره توپ اچونې ته دوام ورکړ او په دې لړ کې یې دوه نور لوبغاړي هم له ډګره بهر کړل او په دې سره یې شپږ ویکټې ترلاسه کړې. افغان لوبډلې د څلورمې ورځې تر پایه د ۲۰۵ منډو په بدل کې د سیالي لوبډلې ۸ لوبغاړي له ډګره وویستل. د وروستۍ ورځې په سهار افغان اتلانو سیالي لوبډلې ته هېڅ نورې منډې ورنکړې او دواړه پاتې لوبغاړي یې هم له ډګره بهر کړل او په دې سره یې دغه لوبه د ۷۲ منډو په توپیر په خپله بریا پای ته ورسوله او د دوه ټېسټ سیالیو لوبلړۍ یې ۰-۱ په خپله بریا پای ته ورسوله.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري راشد خان له درې کلونو څنډ وروسته په خپله لومړۍ ټېسټ لوبه کې لوبېده او خورا ښه وځلېد. نوموړي د زمبابوې پر وړاندې د دویمې ټېسټ لوبې په دواړو پاینیو کې ۴۸ منډې جوړې کړې او دغه راز یې ۱۱ ویکټې هم ترلاسه کړې چې له امله یې د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. په دې سره په ټېسټ کرکټ سیالیو کې د راشد خان د ویکټو شمېر ۴۵ ته ورسېد او د ټېسټ کرکټ په تاریخ کې درېیم مخکښ توپ اچوونکی او په ټوله کې تر ټولو مخکښ ورو توپ اچونکی شو چې په خپل لومړیو شپږو ټېسټ لوبو کې ډېرې ویکټې ترلاسه کوي.

د نوموړي ترڅنګ رحمت شاه زرمتي په دغه لوبلړۍ کې د یوې سلیزې او یوې غبرګې سلیزې پرمټ د ۱۳٦.٦٦ منډو په اوسط سره ۳۹۲ منډې جوړې کړې او د لوبلړۍ تر ټولو غوره لوبغاړی ونومول شو.

دا په ټېسټ کرکټ سیالیو کې د افغان اتلانو څلورمه بریا وه چې ترلاسه یې کړه. له دې وړاندې افغان لوبډلې په ۲۰۱۹م کال کې ایرلنډ او بنګله دېش او په ۲۰۲۱م کال زمبابوې ته ماتې ورکړې وې. د زمبابوې پر وړاندې دغه بریا په ټوله کې د افغان اتلانو څلورمه او د زمبابوې پر وړاندې دویمه بریا ده چې افغان لوبډلې په ټېسټ کرکټ سیالیو کې ترلاسه کړه.

په دې سره زمبابوې ته د افغان اتلانو اوږد او خورا بریالی سفر پای ته ورسېد، چې په ترڅ کې افغان لوبډلې د شل اوریزو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ ۱-۲، د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ ۰-۲ او د ټېسټ سیالیو لوبلړۍ هم ۰-۱ په خپله بریا پای ته ورسوله.



XL BULL
ENERGY DRINK

Shpageeza
Cricket League
Presented by
اتصالات
etisalat

امو نهنګانو لوبډلې

په لومړي ځل د
شپږیزه کرکټ لیګ اتلواله په خپل نوم کړه

شپږیزه کرکټ لیگ ستري سیالۍ چې په هېواد کې د کورني کرکټ تر
ټولو ستري او مهمې سیالۍ دي؛ د تېر کال (۲۰۲۴ز) په اگست
میاشت کې ترسره شوې چې اتلولۍ یې د امو نهنگان لوبډلې
په خپل نوم کړه. باید وویل شي چې امو لوبډلې د یادو
سیالیو په پایلوبه کې له یوې ښکلې او جالبې لوبې
وروسته د بند امیر ښاماران لوبډلې ته ماتې ورکړه او په لومړي ځل یې د یادو
لوبو اتلواله په خپل نوم کړه. په نهم پړاو شپږیزه کرکټ لیگ سیالیو کې بست ساتونکي، امو نهنگان، بندامیر
ښاماران، سپین غر پړانگان او مس عینک اتلان لوبډلو گډون درلود.

د شپږیزه کرکټ لیگ نهم پړاو لوبې د افغان اتلانو او کورني کرکټ ستورو ترمنځ د
اگست میاشتې پر ۱۲مه پیل شوې چې د همدې میاشتې پر ۲۴مه د امو نهنگان
لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. د افغانستان کرکټ بورډ مسوولین وايي چې د
شپږیزه لیگ سیالۍ د افغانستان په کورني کرکټ کې لوی نوم دی چې پر مټ یې ډېر پیاوړي
او ځوان لوبغاړي تر ملي لوبډلو رسېدلي دي او دغه راز یادې لوبې د نویو استعدادونو د موندلو او
ښودلو لپاره هم غوره بڼه او فارمټ دی.

شپږیزه کرکټ لیگ کې د هېواد د پنځو زونونو
لوبډلو، امو نهنگان، بند امیر ښاماران، بست ساتونکي،
سپین غر پړانگان او مس عینک اتلان لوبډلو گډون درلود چې
په لومړي پړاو کې هري لوبډلې له بلې سره دوه-دوه ځلې سیالۍ


AMO SHARKS
BULL
Super Cola

ترسره کړې او له منځه يې امو نهنګانو او بندامير ښامارانو د زیاتو ۵ برياو
په خپلولو سره ځان تر پایلوبې ورساوه.

د شپږيزه کرکټ ليګ د سږ کال لوبو کې د ملي لوبډلې
ډېرو پياوړو لوبغاړو لکه د راشد خان، محمد نبي،
رحمن الله ګربز، نوين الحق او ابراهيم ځدراڼ په ګډون ټولو ستورو
ګډون کړی وو چې په لړ کې يې يادو لوبغاړو له ځوان استعدادونو سره هم خپلې تجربې شريکې کړې.

د شپږيزه کرکټ ليګ په نهم پړاو سياليو کې صديق الله اتل په ۴۲۳ منډو لومړی، ذبيد اکبري په
۳۳۶ منډو دويم، حشمت الله شهيدي په ۳۳۰ منډو دريم، درويش رسولي په ۲۷۳ منډو
څلورم او په ۲۷۳ منډو عبدالمالک پنځم مقام مخکښ توپوهونکي وګڼل شول.

همدا راز د توپ اچونې په برخه کې غضنفر په ۱۸ ويکټو لومړی، حمزه هوتک په ۱۴ ويکټو
دويم، فضل الحق فاروقي په ۱۲ ويکټو دريم، ننګيال خروټي او شرف الدين اشرف هر يوه په ۱۱
ويکټو څلورم او پنځم مقامونه ترلاسه کړل.

په يادو لوبو کې ذبيد اکبري په ۳۳۶ منډو او ۲
ويکټو د سياليو تر ټولو د غوره لوبغاړي، صديق اتل په
۴۲۳ منډو د سياليو د مخکښ توپوهونکي، غضنفر په ۱۸
ويکټو د سياليو د غوره توپ اچونکي، وفي الله تره خېل په ۲۵۵

منډو د لوبو د ځوان لوبغاړي، صدیق اتل په ۲۴ شپږیزو سره (خان د شپږیزي) او شهزاد محمدي د غوره کېچ جایزې په خپل نوم کړې.

شپږیزه کرکټ لیګ چې په کور دننه خورا ستري او له ولولو او جذبو ډکې سیالۍ دي؛ د افغان اتلانو او د کورني کرکټ د پیاوړو ستورو په شتون سره یادې لوبې د هېوادوالو لپاره د ځانګړې تفریح او د مینې ماحول جوړوي او د افغانستان له زړه څخه نړۍ ته د مینې او سولې پیغام رسوي.
شپږیزي کرکټ لیګ تل د هېواد ملي لوبډلې ته نوي ځوان لوبغاړي ډالۍ کړي دي، چې غوره بېلګې یې د نړۍ پیاوړی ستوری راشد خان، مجیب الرحمن، قیس احمد، ابراهیم ځدراڼ، عظمت الله عمرزی، عضنفر او رحمن الله ګربز یادولی شو.
د یاد لیګ د سږني پړاو څخه هم ځینې نوي او ځوان ستوري تر ملي لوبډلې او د نړۍ تر سترو لیګونو ورسېدل. په دې لړ کې ځوان صدیق اتل هغه ځوان لوبغاړی و چې تر بل هرچا ښه وځلېده او په ۹ لوبو کې یې ۴۲۳ منډې جوړې کړې چې د یادو لوبو غوره توپوهونکی هم ونومول شو. همدا راز کېن لاسی توپوهونکی ذبید اکبري دویم غوره توپوهونکی و، نوموړي ۳۳٦ منډې جوړې کړې وې او په ښه ځلېدو او غوره کارکردګۍ سره لومړی د افغانستان تر الف او بیا تر ملي لوبډلې ورسېده.
همدا راز د توپ اچونې په برخه کې یو شمېر ځوان لوبغاړي و، چې په دغه لیګ کې په ښه لوبېدو یې د مینه والو او لوبغاړو پام خان ته اړولی وو. په دې لړ کې غضنفر تر ټولو مخکښ و، نوموړي په ۹ لوبو کې ۱۸ ویکټې ترلاسه کړې او د سیالیو


اتصالات
etisalat
49
شمس
70
غضنفر


BULL
ENERGY DRINK

غوره توپ اچونکی ونومول شو. غضنفر شپږیزه کې د ښه ځلېدو له مخې نه
یوازې چې ملي لوبډلې ته ورسېده، بلکې د نړۍ په ستر لیگ، هند
غوره لیگ سیالیو کې هم دا ځل په لوړ قیمت د ممبۍ انډینز
لوبډلې له لوري وگمارل شو.
په ورته وخت کې ځوان چټک توپ اچونکي فریدون
داودزي په خپل ښه ځلېدو سره د روزونکو پام ځان ته اړولی و، چې په لومړي ځل
یې بهرنیو لیگونو ته لاره پیدا کړه.

شپږیزه کرکټ لیگ کې نه یوازې د لوبغاړو او مینه وال لپاره یوه تفریح او د ملي لوبډلو لپاره د
لوبغاړو موندنه کېږي، بلکې په مالي برخه کې د افغانستان کرکټ بورډ ته هر کال د پام وړ
گټه ورکوي. په نهم پړاو شپږیزه لیگ کې هم د افغانستان کرکټ بورډ بې ساري مالي
ملاتړي درلودل چې په شتون یې دغه لوبې په خورا اغېزمنه او ښه توگه ترسره شوې. دغه
مالي ملاتړي په دې ډول دي. اکسبول انرژي، اتصالات، افغان ملي بانک، ملت سټیل، افغان
ټیلي کام او سټار میډیکل کمپلکس.
د یادونې وړ ده چې د شپږیزه کرکټ لیگ له ۲۰۱۳ز کال راهیسې په دوامداره توگه ترسره کیږي چې د ملي
لوبډلې لپاره د لوبغاړو په جوړېدو او وړاندې کولو کې یو مهم ارزښت دی.
د شپږیزه کرکټ لیگ لوبو د اتلولۍ جامونو په لړ کې
تر اوسه سپین غر پړانگانو درې ځلې، مس عینک اتلانو او
کابل بازانو دوه-دوه ځلې، بندامیر ښامارانو او امو نهنگانو یو-یو
ځلې اتلولۍ گټلې دي.

# هندوکش ستړ

## د اتصـــــــالات لېســـــټ اې - یـــــــــو



د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې اړوند نهم پړاو اتصالات لېسټ اې - یو ورځنۍ سیالۍ د ۲۰۲۴ز کال د جولای میاشتې په لسمه نېټه په کندز ولایت کې پیل شوې چې د همدې میاشتې په ۲۵مه نېټه د رحمت شاه زرمتي په مشرۍ د هندوکش سټرایکرز لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې.

په دغو سیالیو کې څلور لوبډلو هندوکش سټرایکرز، ماهیپر ستوري، پامیر لیجینډز او میوند اتلان لوبډلو ګډون درلود چې د ۱٦ ورځو په موده کې یې ترمنځ ۱۳ سیالۍ ترسره شوې او له منځه یې د هندوکش سټرایکرز په پنځو بریاو او ۱۰ نمرو او دغه راز ماهیپر ستوري لوبډلې په څلورو بریاو او ۸ نمرو د لومړي پړاو د دوه مخکښو لوبډلو په توګه د یادو سیالیو وروستۍ پایلوبې ته لاره ومونده.

د دغو سیالیو په پایلوبه کې د هندوکش سټرایکرز لوبډلې لوبډلمشر رحمت شاه زرمتي د لوبې پچه وګټله چې لومړی یې د توپ اچونې پرېکړه وکړه. د ماهیپر ستورو لوبډلې په لومړۍ پاتۍ کې له یوې غوره توپوهنې وروسته د خپلو ۷ لوبغاړو په زیان سره ۳۰۷ منډې جوړې کړې. د یادې لوبډلې په ګټه بلال احمد ترین ۱۳٦، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ٦٦، فرید احمد ملک ۲٦ او ضیاءالرحمن اکبر ۲۰ منډې جوړې کړې. له بلې خوا د هندوکش لوبډلې په ګټه فریدون داودزي دوه، ننګیال خروټي، خلیل ګربز، شمس الرحمن او محمد ګل علیزي یوه-یوه



# رايکرز لوبډلي

## ورځنيـــو سيـــاليـــو اتـــلولي وګټـــله












ویکټ ترلاسه کړه.

د رحمت شاه زرمتي په مشرۍ د هندوکش سټرایکرز لوبډلې د ماهيپر ستورو لخوا د ۳۰۸ منډو ټاکل شوی هدف د زبید اکبري د سلیزې او رحمت شاه زرمتي د نیمه سلیزې پرمټ د خپلو پنځو لوبغاړو په زیان ترلاسه کړ او د ۷م پړاو اتصالات لېسټ اې - یو ورځنیو سیالیو اتلولي یې خپله کړه. د دغې لوبډلې په ګټه زبید اکبري ۱۳۴، رحمت شاه زرمتي ٦٨، عبدالمالک ۴۰، اعجاز احمد او افسر ځاځي هر یوه ۲۱ منډې جوړې کړې. د ماهيپر ستورو لپاره ګلبدین نایب دوه، فريد احمد او ظاهر خان یوه-یوه ویکټ ترلاسه کړه، خو لوبډله یې له ماتې ونه ژغورله او په پایلوبه یې سیالې لوبډلې ته وبایلله.

د هندوکش ستورې لوبډلې تکړه پیلیز توپوهونکی زبید اکبري چې د خپلې لوبډلې په ګټه یې په ۱۳۳ توپونو د ۱۴ څلوریزو او ۳ سترو شپږیزو پر مټ ۱۳۴ منډې جوړې کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. دغه راز د ماهيپر ستورو لوبډلې ځوان توپوهونکی بلال احمد ترين چې په دغو سیالیو کې یې د دوه سلیزو پرمټ ۲۷۴ منډې جوړې کړې وې، د سیالیو ځوان لوبغاړی ونومول شو.

د پامير لیجینډز لوبډلې تکړه چټک توپ اچوونکی نوید ځدراڼ په دغو سیالیو کې ۱۳ ویکټې ترلاسه کړې او د سیالیو غوره توپ اچوونکی ونومول شو. دغه راز د سیالیو تر ټولو غوره توپوهونکی رحمت شاه ونومول شو چې د ۴ نیمه سلیزو او یوې سلیزې پرمټ یې د ٦٥.۸۳ منډو په اوسط سره ۳۹۵ منډې جوړې کړې وې.

سربېره پر دې د میوند اتلان لوبډلې تکړه لوبغاړی شرف الدين اشرف چې په یادو سیالیو کې یې ۱۸۲ منډې جوړې کړې وې او دغه راز یې ۹ ویکټې ترلاسه کړې وې، د سیالیو تر ټولو غوره الرونډر ونومول شو.

اتصالات لېسټ اې – یو ورځنۍ سیالۍ د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په جوړښت کې له ستر ارزښت برخمنې دي چې په هېواد کې د لوبغاړو او لوبې د ودې په برخه کې ستر رول لوبوي. د یادونې وړ ده چې دغه سیالۍ د افغانستان د مخکښې مخابراتي شبکې، اتصالات افغانستان، په مالي ملاتړ ترسره شوې چې د یادو سیالیو د مخکښ مالي ملاتړي حقوق یې ترلاسه کړي و.








اتصالات
etisalat
HINDUKUSH
STRIKERS
اتصالات
etisalat
MAH-E-PAR
STARS
WINNER
ETISALAT LIST A TOURNAMENT 2024




# بست لوبډلې

# د میرویس نیکه

## د درې ورځنیو سیالیو

## لومړی مقام خپل کړ

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ تر مدیریت لاندې د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ سیالۍ دا ځل د بست لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ لوبې چې هر کال ترسره کیږي؛ دا ځل هم د تېر په څېر د مس عینک، بست، سپین غر، بند امیر او امو لوبډلو پکې برخه درلوده.

د میرویس نیکه جام لوبې د ۲۰۲۴ز کال د مې میاشتې په لومړۍ نېټه پیل شوې چې د جون میاشتې پر څلورمه پای ته ورسېدې. د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ لوبې چې په سور رنګ توپ او سپینو جامو کې ترسره کیږي، ځلېدونکي لوبغاړي یې د احمدشاه ابدالي څلور ورځنیو (فرسټ کلاس) لوبو ته لاره کوي. په یادو سیالیو کې تر بل هر وخت زیاتو ځوان لوبغاړو ګډون درلود چې ځلیدل یې د افغانستان د کرکټ راتلونکې لپاره ښه زېري دي.

په میرویس نیکه جام لوبو کې د هیواد د پنځو زونونو لوبډلو ګډون درلود چې بست زون پکې د دوو بریاو او ٦٦ امتیازونو په ترلاسه کولو سره لومړی، مس عینک په یوې بریا او ۵۳ امتیازونو دویم، سپین غر په یوې بریا او ۵۱ امتیازونو دریم، امو په یوې بریا او ۳۴ امتیازونو څلورم او بندامیر لوبډلې پرته له کومې بریا په ۲۷ امتیازونو ترلاسه کولو سره د دغه لوبو پنځم مقام خپل کړ.

یادې سیالۍ چې موخه یې د کورني کرکټ وده او د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو ته وده ورکول دي، د ټوپوهنې په برخه کې یې یو شمېر لوبغاړي تر نورو ښه وځلېدل. په دغه



لیکه کې ارشاد الدین ساپي د ۳۹۳ منډو په جوړولو لومړی، اصف موسی زي د ۳۶۹ منډو په جوړولو دویم، ضیاء الحق عیسی خېل د ۳۵۸ منډو په جوړولو دریم، اسلام ځاځي د ۲۸۰ منډو په جوړولو څلورم او عثمان نوري د ۲۵۲ منډو په جوړولو سره پنځم مقام ترلاسه کړ.

همدا راز د توپ اچونې په برخه کې د مس عینک لوبډلې لیګ بریکر خلیل ګربز په ۱۷ ویکټو لومړی، د بست لوبډلې لیګ بریکر عبدالباقي پوپل په ۱۵ ویکټو دویم، د امو لوبډلې الراونډر جمعه ګل میاخیل په ۱۴ ویکټو دریم، د مس عینک لوبډلې ښي لاسي چټک توپ اچوونکي اکرام مومند په ۱۳ ویکټو څلورم او د بست لوبډلې چپ لاسي چټک توپ اچوونکي بشیر احمد افغان په ۱۲ ویکټو سره پنځم مقام ترلاسه کړ.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ هر کال په دوامداره توګه د کورني کرکټ سیالۍ ترسره کوي، چې له مخې یې وړ او با استعداده لوبغاړي ملي لوبډلو او د کورني کرکټ سترو فرسټ کلاس، لیسټ اې او شپږیزه کرکټ لیګ لوبو ته لاره مومي.



# د ظرفيت لوړونې ځانګې سږ کال کوم روزنيز ورکشاپونونه کړل او کمپونه ترسره کړل؟

## د ظرفيت لوړونې ځانګې سږ کال کوم روزنيز ورکشاپونونه او کمپونه ترسره کړل




د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفيت لوړونې ځانګې سږ کال په بېلابېلو برخو کې روزنيز ورکشاپونه ترسره کړل چې له مخې به يې په کور دننه د کرکټ په تخنيکي برخو کې لا ډېرې اسانتياوې رامنځته شي. دغه روزنيز کورسونه چې د ملي لوبډلې يو شمېر لوبغاړو هم پکې ګډون کړی وو، د روزنې، لوبڅارۍ، طبي برخې، منډې شمېرنې او ورته نورو ډګرونو ورکشاپونه شامل دي.

د يادو روزنيزو ورکشاپونو ترڅنګ د ظرفيت لوړونې مرکز د افغان ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډلې، افغان ابداليان لوبډلې او افغان ملي لوبډلې لپاره هم په بېلابېلو ولايتونو کې روزنيز او د چمتووالي کمپونه ترسره کړل. دغه راز هغه لوبغاړي چې په کورنيو او نړيوالو سياليو کې ټپيان شوي وو، د ظرفيت لوړونې مرکز اړوند ورزشي کلب او درملنې په مرکز کې تداوي شول چې په رغېدو سره يې لوبغاړي بيرته له لوبډلې سره يوځای شول.

## لومړی درجه روزنيز ورکشاپ (Level One Coaching Workshop):





د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفيت لوړونې ځانګې په ننګرهار ولايت کې د روزنې لومړی درجه ورکشاپ ترسره کړ. په دغه روزنيز ورکشاپ کې ۲۵ فرسټ کلاس لوبغاړو ګډون درلود چې د ۲۰۲۴ز کال د فبرورۍ مياشتې په پنځمه نېټه په ننګرهار ولايت کې پيل او د همدې مياشتې په ۱۰مه نېټه پای ته ورسېده.

د ياد ورکشاپ په ترڅ کې ټولو ګډون کوونکو ته د توپوهنې، توپ اچونې، ډګرساتنې او د فزيکي تکړښت ترڅنګ د روزنې او د روزونکو د دندې د اهميت او ارزښت په اړه روزنه ورکړل شوه. دا لومړی ځل دی چې په لومړی درجه روزنيز ورکشاپ کې ټول د فرسټ کلاس کرکټ لوبغاړي ګډون کوي او د افغان روزونکو له لوري روزنه ترلاسه کوي.

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفيت لوړونې ځانګې مسوول عبدالولي امين په دې اړه وايي چې د ياد ورکشاپ په لړ کې ټولو ګډون کوونکو ته په نظري او عملي توګه روزنه ورکړل شوه. د نوموړي په وينا د روزنې د لومړی درجه ورکشاپ په پای کې به ټول ګډون کوونکي له عملي او نظري اړخه د روزنې په اړه بشپړ پوهاوی ولري او وبه کولی شي چې په راتلونکي کې د يوه غوره روزونکي په توګه د افغانستان د کرکټ په پرمختګ کې خپله ونډه ولري.

## د لوبيز ډګر ډاکترانو ورکشاپ (Physios Workshop)



د همدې کال په جولای میاشت کې د یاد مرکز له لوري بیا د لوبیز ډګر د ډاکترانو د روزنې کورس هم ترسره شو. د ظرفیت لوړونې ځانګې د معلوماتو له مخې یاد روزنیز کورس چې د بهرني روزونکي مندیپ سینګ او د ملي لوبډلې ډاکتر صفت الله وردګ له لوري ترسره شو، ۱۳ ډاکترانو پکې ګډون کړی وو. دا روزنیز کورس د جولای له ۲۷مې تر۳۱مې نېټې د افغانستان کرکټ بورډ په مرکزي دفتر کې په بریالیتوب سره پای ته ورسېده.

## د فزیکي تکړښت روزنیز ورکشاپ :(S&C Trainers Workshop)



د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې ځانګې له لوري د فزیکي تکړښت د روزونکو لومړۍ درجه څلور ورځنی روزنیز کورس ترسره شو. یاد کورس کې چې د ملي لوبډلې یو شمېر لوبغاړو، د کورني کرکټ روزونکو او هغو کسانو چې تېرو څو کلونو راهیسې د افغانستان کرکټ بورډ سره په یاده برخه کې کار کوي؛ ګډون کړی وو.

دغه کورس د بهرني روزونکي راجیش چوهان چې د فزیکي تکړښت روزنه کې درېمه درجه سند لري؛ وړاندې شو. د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې ځانګې مسوولین وایي، له یاد کورس څخه یې موخه خپلو روزونکو ته د فزیکي تکړښت د روزنې نوي او عصري میتودونه وړاندې کول او د دوی ظرفیتونو ته وده ورکول دي



## دویمه درجه روزنیز ورکشاپ (Level Two Coaching Workshop):





د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانګې په کابل ولایت کې د ۲۰۲۴ز کال په نومبر میاشت کې د روزنې دویمه درجه ورکشاپ ترسره کړ. په دغه روزنیز ورکشاپ کې د لومړۍ درجې ۳۰ روزونکو ګډون درلود چې شپږ ورځې یې دوام وموند.

د یاد ورکشاپ په ترڅ کې ګډون کوونکو ته د تیمور اعظم له لوري چې د کرکټ نړیوالې شورا د څلورمې درجې روزونکی او د دویمې درجې روزنیزو کورسونو مجرب ښوونکی هم دی؛ تدریس ورکړل شو چې د کرکټ لوبې او روزنې اړوند بېلابېلو اړخونو په اړه ګډونوالو ته په نظري او عملي برخو کې پراخه روزنه ورکړل شوه.

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانګې مسوول عبدالولي امین وایي چې د روزنې دویمه درجه روزنیز ورکشاپ په خورا کامیابۍ ترسره شو. د نوموړي په وینا دغه روزنیز ورکشاپ به په هېواد کې د لومړۍ درجې روزونکو په علمي وده او تخنیکي ظرفیت لوړونه کې د پام وړ اغېز ولري چې ورسره به په هېواد کې د کرکټ لوبه لا زیاته وده وکړي.

## د لوبڅارۍ او منډې شمېرنې روزنیز ورکشاپ (Elementary Workshop for Umpires and Scorers)

د دسمبر په ۱۵مه نېټه، د ظرفیت لوړونې مرکز د مرکزي زون بند امیر په ګډون په ټولو زونونو (بند امیر، سپین غر، مس عینک، بست او امو) کې د لوبڅارۍ ۳ ورځنۍ او منډې شمېرنې ۲ ورځنۍ ابتدایي کورسونه پیل کړل. د دغو کورسونو لپاره په اړوند زونونو کې ازموینې واخیستل شوې چې په پایله کې ترې شاوخوا ۱۲۰ کاندیدان غوره او د اړوند زون په څانګو کې ورته کورسونه پیل شول.

د یادونې وړده چې دا روزنیز کورس په وروستیو کې په کابل کې د مشرتابه او ولایتي استازو ګډه ناسته کې د ولایتي استازو په غوښتنه تنظیم شو. د دوی په وینا، دوی په دغو ولایتونو او ولسوالیو کې د سیالیو پر مهال د مسلکي لوبڅارانو او سکوررانو یا منډې شمېرونکو له کمښت سره مخ دي چې د دې ورکشاپ ترسره کولو سره به یاده تشه هم ډکه شي.

د پورته روزنیزو کورسونو او ورکشاپونو سربېره د ظرفیت لوړونې مرکز د بېلابېلو نړیوالو سیالیو لپاره د افغان ملي لوبډلې، ابدالیان لوبډلې او ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې د نړیوالو سیالیو چمتووالي په موخه بېلابېلو ولایتونو کې روزنیز کمپونه دایر کړل.

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانګې د مارچ میاشتې له ۲۳مې د اپریل میاشتې تر ۷مې نېټې پورې په نجیب الله تره کي لوبغالي کې د ملي لوبډلې، الف لوبډلې، نوولس کلنو او د کورنې کرکټ د غوره لوبغاړو لپاره روزنیز کمپ ترسره کړ چې پکې د لوبغاړو پر غوره توپ اچونې، توپوهنې، توپنیونې او سربېره پر دې پر فزیکي تکړښت او د ټیپې لوبغاړو په درملنې کار وشو.

دغه راز د یاد کمپ په دوام د ملي، ابدالیان او ۱۹ کلنو یو شمېر لوبغاړو ته په کابل کې هم ورته روزنیز کمپ ترسره شو چې د روان کال د مې میاشتې له ۲۳مې د جون تر ۷مې نېټې یې دوام وکړ. په یادو کمپونو کې د ملي او بهرنیو روزونکو له لوري لوبغاړو ته روزنه ورکړل شوه چې د دې روزنیز کمپونو هدف د کال په جریان کې دوه اړخیزو نړیوالو سیالیو ته د لوبغاړو چمتو کول وو.

د دغو کمپونو په لړ کې د کال په وروستیو کې د دسمبر له لومړۍ نېټې تر ۱۳ د یو شمېر سور توپ لوبوونکو لوبغاړو لپاره په ننګرهار کې روزنیز کمپ ترسره شو چې په پایله کې ترې د زمبابوې پر وړاندې دوه ټېسټ سیالیو لوبډلې لپاره لوبغاړي په نښه شول.

د روان کال په سپتمبر میاشت کې د افغانستان الف لوبډلې لپاره په کندز او کابل کې دوه پرلپسې روزنیز کمپونه ترسره شول چې پکې د لوبغاړو پر توپوهنه، توپ اچونه، ډګرساتنه، فزیکي تکړښت او مهارت لوړولو کار وشو. د دې کمپونو څخه موخه په عمان هېواد کې د هانګ کانګ او عمان پر وړاندې درې اړخیزه لوبلړۍ او ځوانانو اسیا جام سیالیو ته د ابدالیان لوبډلې ښه چمتووالي و چې په پایله کې افغان ابدالیان لوبډلې وکولی شول د یادو دواړو لوبړیو اتلولي د افغانستان په نوم کړي.

دغه راز د راتلونکو سترو نړیوالو سیالیو لپاره د ظرفیت لوړونې مرکز او غوراوي کمېټې په ګډه همکارۍ د جولای میاشت کې په پکتیا ولایت کې د ۸۴ لوبغاړو لپاره د ۱۹ کلنو پروسې په نوم لومړنی روزنیز کمپ ترسره شو چې یاد ۸۴ لوبغاړي د زونونو په کچه د ۱۶ کلنو لوبغاړو له اړوند سیالیو، لومړۍ درجه او دویمه درجه ولایتي سیالیو، او د ۱۹ کلنو تېر نړیوال جام غوره کارکردګي کوونکو له جملې ټاکل شوي وو.

د نوولس کلنو لوبډلې ځوانانو په دغه کمپ کې د نورعلي ځدراڼ او میلاپ میواډا په ګډون چې د ملي لوبډلې د توپوهنې روزونکی هم پاتې شوی، د ځینو نورو کورنیو او بهرنیو روزونکو او دغه راز د غوراوي کمېټې تر څارنې لاندې تمرینات او خپل منځي لوبې ترسره کړې چې په پایله کې ترې په کابل کې د بل کمپ لپاره ۲۹ تنه لوبغاړي غوره شول. یادو لوبغاړو په سپتمبر میاشت کې کابل کې هم په یو هر اړخیز کمپ کې ګډون وکړ چې د ټولو مهارتونو ترڅنګ یې غذایي رژیم باندې هم کار وشو ترڅو د دوی په فزیکي تکړښت کې ګټور تمام شي. په کابل کې د یو هر اړخیز کمپ او لوبو ترسره کولو وروسته یادو لوبغاړو ته بیا په خوست ولایت کې هم وروستی کمپ تنظیم شو چې په پایله کې ترې د اماراتو او پاکستان پر وړاندې درې اړخیزه لوبلړۍ او ۱۹ کلنو اسیا جام ته لوبډله غوره شوه. د یادونې وړ ده چې د ۱۹ کلنو روزنیز کمپونه لا هم دوام کوي، ترڅو راتلونکي نړیوال جام ته په بشپړ ډول یو متوازنه لوبډله رامنځته شي.

د نورو ورکشاپونو او روزنیزو کمپونو ترڅنګ د ظرفیت لوړونې مرکز په فعالیتونو کې د تداوۍ مرکز یا (Rehab Center) لاسته راوړنې هم ذکر کوو. د دې مرکز د مسوولینو په وینا، د ۲۰۲۴ کال په لړ کې د تداوۍ په مرکز کې د ملي لوبډلې او کورنې کرکټ لسګونه لوبغاړي تداوي شوي دي چې نتیجه یې هم ډېره مؤثره او مثبته وه.

په دغه لوبغاړو کې ګلبدین نایب، نجیب الله ځدراڼ، یمین احمدزی، سلیم ساپی، عبدالرحمن، اظهار الحق نوید، شمس الرحمن، ابراهیم ځدراڼ، نصیر خان، او ډېرې نورو لوبغاړو د وړو او سترو ټپونو تداوي او درملنه شوې ده.

په دغو لوبغاړو کې یې یو شمېر د کورنیو سیالیو لکه شپږیزه، لیسټ اې او نورو کې ټپیان شوي وو او یو شمېر نور یې په نړیوالو سیالیو او لوبو او دوه اړخیزه سیالیو کې ټپیان شوي وو چې د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې مرکز اړوند (Rehab Center) کې یې د کورنیو او بهرنیو ډاکټرانو او ټرینرانو پر مټ تداوي وشوه او بیرته لوبو ته وګرراوګرځېدل.



## HIGH ON RUNS, LOW ON AVERAGE

1000-PLUS RUNS AT SUB-40 AVE IN A YEAR




| PLAYER | MAT | INNS | RUNS | AVE | YEAR |
|---|---|---|---|---|---|
| **BM Duckett** (ENG) | **17** | **32** | **1149** | **37.06** | **2024** |
| FDM Karunaratne (SL) | 13 | 26 | 1031 | 39.65 | 2017 |
| IJL Trott (ENG) | 15 | 28 | 1005 | 38.65 | 2012 |
| AJ Strauss (ENG) | 14 | 26 | 1031 | 39.65 | 2006 |

espncricinfo

**Overseas teams lift their game**

New Zealand's 3-0 win in India was unarguably the biggest upset of the year, but there were also Bangladesh's 2-0 win in Pakistan, West Indies' Test win in Brisbane, and series wins by England in New Zealand and South Africa in Bangladesh. Overall, these results contributed hugely to ensuring that away teams won 21 Tests in 2024, the most ever in a calendar year. (This excludes Tests at neutral venues.)

In terms of the win-loss ratio, away teams managed 0.750 (21 wins, 28 losses), which is a significant improvement of 40% over the last seven years, when they only managed 0.537 (79 wins, 147 losses). In the last 20 years, there have been only four instances when the win-loss ratio was better than in 2024.

**More numbers from 2024**

**763**

The number of runs Smriti Mandhana scored in women's T20Is , the most for any batter in a calendar year in the format. In fact, the top three run-getters in a calendar year are all from 2024, with Chamari Athapaththu (720) and UAE's Esha Oza (711) occupying the next two spots.

**1**

Australia's Ellyse Perry became the first to achieve the double of 7000 runs and 300 wickets in women's international matches. She also joined Stafanie Taylor of West Indies in the 4000-runs-and-150-wickets club in ODIs.

**1-12**

New Zealand women's T20I win-loss record in 2024 going into the 20-over World Cup. They turned that around magnificently in the tournament, winning five out of six matches to lift the trophy.

**74.92**

Kamindu Mendis' batting average in Tests in 2024; in nine matches he scored 1049 runs with five hundreds. Since 2014 there have been only five instances of batters scoring 1000-plus runs at a higher average in a calendar year: Kane Williamson (2015), Adam Voges (2015), Steven Smith (2017), Virat Kohli (2016 and 2017).

**5**

The number of batters who scored 1000-plus runs at an average of 50 or above in men's Tests in 2024, which is the most in a calendar year since 2015, when six batters achieved the feat. There have only been ten instances of more than five batters achieving this, of which eight were in the period between 2001 and 2010.

**330**

The number of Runs added by Afghanistan's Rahmat Shah and Hashmatullah Shahidi on the third day of the Boxing Day Bulawayo Test against Zimbabwe. They batted an entire day without being dismissed, making it only the 25th instance of a full day's play without the loss of a wicket in men's Test cricket.

**41**

Men's ODIs played in 2024 among the top ten teams, the lowest in the last 30 years excluding the two Covid years, 2020 and 2021. In 2023, 114 ODIs were played among these teams, the third-highest in any year.

**101**

The number of teams that played men's T20Is in 2024, up from 86 teams in 2023. The two teams that played the most matches in the year were Oman (30) and Hong Kong (28). Overall, 654 men's T20Is were played in 2024, the most in any year, up from 531 in 2022. Only 113 of those matches were between the top 12 teams.

**441**

The number of women's T20Is played in 2024, the most in any year. In 2023, 386 matches were played, and 328 the year before that. Seventy-six teams participated in the format last year, up from 71 in 2023 and 65 in 2022. Only 84 out of 441 matches in 2024 were between the teams ranked in the top 10.

to take the aggressive route, inspite of (or perhaps because of) the difficult batting conditions.

## A legend called Bumrah

Seventy-one wickets at 14.92, and a strike rate of 30.1. Jasprit Bumrah was an unstoppable force through much of 2024 - in four of the five series he played in the year (including a Test in South Africa in January), he averaged under 17. The only blip was the home series against New Zealand, when he took only three wickets in two Tests at 42.33.

Bumrah's year is up there among the greatest years ever for a bowler in Tests. With a 50-wicket cutoff, only Waqar Younis has a better strike rate (and the difference is marginal), while the average of 14.92 has been bettered only by Imran Khan and Sydney Barnes.




While Bumrah was firing on all cylinders through much of 2024, the other India fast bowlers took only 63 wickets collectively, at an average of 33.67. In percentage terms, Bumrah took 52.99% of India's total pace wickets; in all of Test history, there have only been five instances of a fast bowler taking a higher percentage of his team's pace wickets in a calendar year, of which two feature Kapil Dev: 1983 and 1979. Bumrah's percentage haul is identical to Imran Khan's stunning year in 1982, when he took 62 wickets at 13.29.

No place to hide for openers

Batting in Test cricket was, overall, a tough ask in 2024, and it was toughest for openers. Their collective average for the year was 28.60; in the 56 years in which at least 20 matches have been played, only once have openers fared worse, and that was only marginally poorer: in 2000, they averaged 28.15.

The numbers were equally dire for opening partnerships. The average of 27.78 was the second lowest among the 54 years that have had at least 75 opening stands; the only instance of a lower partnership average was 2018 (26.98). There were only four century partnerships for the opening wicket in 207 innings, which is an average of one every 51.75 innings. That's easily the poorest in these 54 years - the next worst is 31.3 in 1985; even in 2018, the openers managed seven in 182 innings, an average of one every 26 innings. Two of the four century opening stands in 2024 involved Yashasvi Jaiswal, whose 201-run partnership with KL Rahul in Perth was the only first-wicket stand exceeding 106 in the entire year.

Of the 18 openers who batted at least ten times in Tests in 2024, 14 ended up averaging under 30. On the other hand, only one - Jaiswal - averaged over 50 (54.74); the others with 30-plus averages were Tony de Zorzi, Ben Duckett and Aiden Markram. Fourteen is easily the record for most openers averaging under 30 in a calendar year (with a ten-innings cutoff); there are two instances of ten openers averaging so low - 2011 and 2018.

Even among the four who did average over 30, there is an unwanted record: Duckett averaged 37.06 for the 1149 runs he scored last year (including from one innings at No. 3), which is lowest ever for a batter who has scored 1000-plus runs in a calendar year. He is one of only four batters to average under 40 when scoring 1000-plus runs in a year, out of 171 instances of batters scoring 1000 or more runs in a year. Two of the other three are from England as well.

## DONE IN A HURRY

MOST TESTS ENDING IN 250 OR FEWER OVERS IN A YEAR*



| YEAR | RESULT GAMES | OVERS <=250 | % |
|---|---|---|---|
| **2024** | **50** | **20** | **40.00** |
| 2018 | 43 | 13 | 30.23 |
| 2001 | 43 | 12 | 27.91 |
| 2002 | 46 | 12 | 26.09 |
| 2023 | 28 | 11 | 39.29 |
| 2022 | 36 | 10 | 27.78 |

espncricinfo

South Africa and India in Cape Town, the shortest result match ever in Test history. In fact, till the Melbourne Boxing Day Test, the longest completed match of the year lasted only 2149 deliveries (358.1 overs). The Melbourne Test lasted 405 overs (2430 deliveries), but that was the outlier, not the norm in 2024.

### Runs at a premium, bowlers on a rampage

An average of 29.01 runs were scored per wicket in 2024, the sixth lowest among the 56 years in which at least 20 Tests each have been played, and significantly lower than 2023's average of 32.50. Exclude the last Test of the year, the Zimbabwe-Afghanistan, one where 59.46 runs were scored per wicket, and the average runs per wicket drops to 28.60, which is third on the all-time list, next only to 1959 and 2018 (with a 20-Test cutoff).

In terms of bowler strike rate, 2024 was easily the best ever: for the first time in a calendar year (where ten or more Tests were played), bowlers needed fewer than 50 deliveries to take a wicket. The table below takes a 20-match qualifier, in which case the next best is 54.7 in 2018.

Both spinners and fast bowlers had a bumper year, finishing with record hauls. The quick bowlers took 1096 wickets, going past the previous record of 1075 in 2002, at an average of 26.52, which is the sixth best among the 56 years that have hosted at least 20 Tests. Meanwhile, spinners averaged 31.63, which is eighth best, for their 689 wickets, which is also a record for them in a calendar year.

In terms of bowler strike rates, 2024 was the best for pace and spin: fast bowlers struck every 44.9 balls, well clear of the next-best figure, 50.7 in 2019, while the spin strike rate of 54.2 was also much better than the previous year's 58.2 (both with 20-Test cutoffs).

Eighteen fast bowlers took 25 or more Tests wickets each in the year, of which 15 averaged under 30. Two of the three who missed the cut averaged just over 30 - Mitchell Starc (30.54) and Mohammad Siraj (30.82). On the other hand, five fast bowlers took 25 or more wickets at under 20 - Josh Hazlewood, Jasprit Bumrah, Matt Henry, Brydon Carse and Kagiso Rabada. Only once have more bowlers achieved this feat in a calendar year: in 2018, seven fast bowlers met these criteria - Pat Cummins, Shannon Gabriel, Jason Holder, Mohammad Abbas, Vernon Philander, Morne Morkel and Tim Southee.

Among the 15 spinners to take 20 or more wickets, nine averaged under 30, though the leading wicket-taker also had the worst average: Shoaib Bashir's 49 wickets came at an expensive 40.16 each.

### High on speed, low on runs

While scoring was difficult, batters seemed unwilling to grind out tough runs: the average run rate was 3.65, the highest ever in a calendar year. This follows the 2023 run rate of 3.52, which has now been pushed to second place. This means the two highest annual run rates in Tests have come in the last two years.

Among the nine teams that played more than five Tests in 2024, six scored at over 3.5 runs per over. Bazball England led the way, well ahead of the other teams at 4.38, but five other sides - India, Australia, Sri Lanka, New Zealand and Pakistan - scored at over 3.50. In 2023 too, England topped with 4.87, but Bangladesh and New Zealand were the only other teams that exceeded 3.5 (with a four-Test cutoff). Clearly, more teams are looking

A stats overview of a

# Year When Tests Shone

## Like Never Before

Two thousand twenty-four was the year when men's Test cricket trumped all other formats for excitement, including franchise cricket. From the beginning of the year till the end, the five-day game threw up gripping storylines, unforgettable upsets, and unearthed exciting new heroes. While ODIs didn't matter much in 2024, the T20 World Cups had their moments - India won their first World Cup since 2011, and the New Zealand women's team were unlikely, but very popular, champions.

There were several reasons why Tests in 2024 were so memorable. In terms of numbers, the key ones were the lack of draws, the dominance of bowlers, and the competitiveness of overseas teams. Let's examine each of these, and other dominant themes, of cricket in 2024.

More Tests, quick Tests, few draws

To start with, 53 men's Tests were played in 2024, the third-highest in a calendar year - only in 2001 (55) and 2002 (54) were more matches played. Only three of those 53 were drawn, of which two were badly hit by weather: the West Indies-South Africa game in Port-of-Spain, and the Brisbane Test between Australia and India. Just 294.5 overs were possible in Port-of-Spain, and 216.1 at the Gabba. The other drawn game was the last Test of the year, in Bulawayo, between Zimbabwe and Afghanistan. The draw percentage of 5.66 is the lowest for all years in which at least 20 Tests have been played.

Not only were there plenty of results, they also came quickly: the average length of a Test with a




win-loss result was 271.4 overs, which is the lowest ever in any year that has had at least 15 such result Tests. In 2023, the average result Test lasted 283 overs, which means this year the drop has been a further four percent. Twenty decisive Tests lasted 250 overs or fewer, which is the most in a calendar year - the next highest is just 13 in 2018 (out of 43 Tests that ended with a win-loss result). Thirteen Tests ended in three days or fewer in 2024, and 40 in four. Both are records in any calendar year.

We should have seen all of this coming, given that the year started with the shocking 107-over Test between




*Afghanistan Cricket Board*
*Kabul International Cricket Stadium*
*Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul*
*Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan*